| | | |
|---|---|---|
| ۱ | سريزه | ۳ |
| ۲ | د ماشوم پيدايښت | ۵ |
| ۳ | د نارينه او ښځينه اولاد پيدايښت | ۱۰ |
| ۴ | زمور په ټولنه کې د ماشوم تربيه | ۱۲ |
| ۵ | مور او د ماشوم حقونه | ۱۷ |
| ۶ | د زدکړو په اړه زمور ذهنيت | ۲۰ |
| ۷ | ميرمنې او د زدکړو حق يې | ۲۲ |
| ۸ | پيغلې د مور او پلار په کور کې | ۲۵ |
| ۹ | ناوې د مېړه، خواښې، خوسر او نورو ترمنځ | ۲۸ |
| ۱۰ | طلاق په شريعت او کلتور کې | ۳۴ |
| ۱۱ | درې طلاقه؛ ديني جنبه او کلتوري ستونزې | ۴۰ |
| ۱۲ | د جسني اړيکو په اړه د مېړه او ناوې ناخبري | ۴۷ |
| ۱۳ | ښځه د ولور په مقابل کې | ۵۱ |
| ۱۴ | د يوې ښځې په بله بدلول | ۵۷ |
| ۱۵ | په بدو کې د ښځو ور کول | ۶۱ |
| ۱۶ | د کوزدې او واده رواجونه | ۶۴ |
| ۱۷ | يو مېړه او څو ښځې | ۶۷ |
| ۱۸ | د نجلى لپاره د هلک خوښول | ۷۰ |
| ۱۹ | پر مېړه د ميرمنې حقونه | ۷۲ |
| ۲۰ | ميرمن د اولاد زيږولو ماشين | ۷۵ |
| ۲۱ | ګډ ژوند | ۷۷ |
| ۲۲ | زمور ټولنه او د ښځو د ازادۍ حق | ۸۰ |
| ۲۳ | ښځه دويمه درجه مخلوق | ۸۲ |
| ۲۴ | ښځه په ميراث کې | ۸۵ |
| ۲۵ | يوه ميرمن هم مايНه او هم ورېندار | ۸۷ |
| ۲۶ | د غمونو رواجونه | ۹۰ |
| ۲۷ | خرافات په ټولنه کې | ۹۱ |
| ۲۸ | د ښځې [illegible] او د نارينه [illegible]دي | ۹۴ |
| ۲۹ | غيبت او بوهتان | ۹۹ |
| ۳۰ | مراجع | ۱۰۲ |


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

دا کتاب مې زموږ په ټولنه کې د هغو حالاتو په اړه لیکلی دی چې ټول مې خپله مشاهده کړي دي یا مې له باوري کسانو په دې اړه اورېدلي دي.

ښځې د یوه انسان په توګه خدای ازاد پیدا کړي، لکه نارینه چې حقونه لري، ښځې یې هم لري. هر انسان په خپل ژوند کې اړتیا لري او هیڅوک بشپړ نه دی؛ نارینه ښځې ته او ښځه نارینه ته اړ دي. موږ ته په کار ده چې یو بل تکمیل کړو نه تنقیص؛ د هر جنس حق، د حق په ډول وپېژنو او د دې پر ځای چې د تروړلو هڅه یې وکړو، باید د حق ور کونې لپاره یې مبارزه وکړو.

له بده مرغه پښتانه د میرمنو هغه حقونه چې عقلا او نقلا ورته ثابت دي نه ور کوي، لکه؛ کار، زدکړې، د پلار او کورنۍ په ملکیت کې حق لرل، د مېړه انتخاب، د خپل واده په چارو کې نظر ور کول، کونډه خپلې خوښې ته ایله کول او...

بل طرف ته همدا ممنوع حقونه نارینه وو ته نه یوازي دا چې مباح دي بلکې تشویق هم ورسره وي چې دا هر څه تر لاسه کړي. پوښتنه دا ده چې موږ ولې له بشر سره د یوه بام دوې هواوې چلند کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې د چارو په اړه له میرمنو سره نه مشوره او د نرانو له لوري د نرواکی کلتور ته وده ور کول د یوه قشر په اړه خورا بدې پایلې لري چې موږ یې په خپلو سیمو کې شاهدان یو.

د ماشومانو په اړه له پیله نه تصمیم او د راوړلو وروسته یې د حقونو، تربیې او ساتنې په اړه یا ارادي یا غیر ارادي سر نه ګرزول د یوې تیاره سبا زیری راکوي چې موږ له دې امله نن هم له مشکل سره مخ یو ځکه یو نسل مو همداسې لکه بې سرپرسته ماشومان را لوی شوی دی او بل نسل همدا دی پر لویدو دی.

د مېړه او مایني ترمنځ مشکل، د خواښې او ننږور ستونزې، د پیغلانو په اړه غیر منصفانه قضاوتونه او د یوه او بل په شخصي چارو کې د مشرانو ګوتې وهل؛ ټول هغه اسباب وو چې زه یې د دې کتابګوټي لیکلو ته وهڅولم. کتاب کې مې زیاتره پر ستونزو بحث کړی دی، د مشاهدې له مخې مې مثالونه وړاندي کړي او تر یوه حده مې د حللارو وړاندیز هم کړی دی.

ځینې هغه چارې چې د کلتور او شریعت دواړه ریښه یې لرله، ما یې تقریبا پر دواړو اړخونو تر وسه لنډ بحث کړی دی چې د لوستونکو د خسته کېدو سبب به ان شاء الله نه کېږي.

دا کتاب مې څه موده مخکې لیکلی وو، څو نور کتابونه چې وختي مې لیکلي وو او ځینې یې چاپ شوي وو نور بیا ناچاپ پاته وو؛ فکر مې وکړ که دا کتابونه ټول pdf خپاره کړم، نو خلګو ته به د استفادې وړ شي. له دې کتابه یې ممکن کمې برخې په ورځپاڼه یا ویبسایټ کې هم چاپ شوې وي، خو ډېره برخه یې نه ده نشر شوې. د چاپ پر ځای مې pdf خپرول ښه وبلل؛ ځکه د مطالعې خلګ دلته کم دي نو کله چې کتاب چاپ شي نو کلونه کلونه په کتابخانو کې پروت وي، تر دې دا ښه ده چې نه پیسې په مصرف شي او هم د خلګو لاس رسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته اسانه شي، له دې امله نو تر چاپ پـي ډي ایـف خپـرول راتـه اوس ښه برېښېدل.

هیله لرم چې تر یوه حده به په خپله موضوع کې ګټـور ثابـت شي او په دې لړ کې به نور کسان هم وهڅول شي چې خپـل د سترګو لیـدلي حالات ولیکي، د حللارو په اړه یې وړاندیزونه ولیکي یا هم له نـورو ژبـو ځینې مواد را ترجمه کړي. پښتو کې مواد کم دي، ژبـاړه وي کـه لیکنـه، دلته حتما خپل اثر پرېږدي، زه تر خپله وسه کوښښ کـوم چـې لـه وس سره سم په خپله برخه کې کار ورته وکړم.

زبیر افغان

۶/۱۱/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماشوم پیدایښت

په نوره نړۍ کې مېره او میرمن د ژوند شریکولو مهال لا د ماشوم په اړه فکر کوي او د هغه لپاره چمتوالی نیسي. د ماشوم راوړلو وخت په خپله مشوره ټاکي. نارینه خپل ځان په ذهني، مالي او د خدمت په لحاظ ورته چمتو کوي او ښځه هم د ماشوم د هر خدمت لپاره ځان تیاروي. د ماشوم ځینې کارونه پلار پر غاړه اخلي او نور بیا د مور مسؤلیت وي. د هغوی د هر یوه د خدمت لیستونه مالوم وي، مهالویش یې ټاکلی وي، د ماشوم د زیږون وخت یې په خپل منځي مشوره تعین کړی وي او داسي نور لازم کارونه او توکي.

زموږ په ټولنه کې خبره د دې برخلاف ده. زموږ د بنسټ ډېره هم ناسمه ښوده کېږي. لومړۍ ورځ مېره او ماینه د خپل راتلونکې ژوند په اړه هیڅ ډول تړون هم نه سره کوي. دلته چې نکاح وشي، بیا که ایینده ژوند سم وي، که ناسم، بس دوی دوه سره تړلي وي او د هر یوه د ژوند تر پایه به ګډ ژوند سره کوي. له دې ناسم بنیاد څخه زموږ د ژوند ټولې برخې متاثیره کېږي او د ژوند پر ډېری ساحو یې خپل سیوری غوړولی دی.

مېره لومړی د جنسي غوښتنو په اړه سم مالومات نه لري. نه د ځان په اړه ضروري هدایات لري او نه د ښځې په اړه. حتا داسي کسان مې لیدلي چې زدکړې یې هم کړې خو د جنسي اړیکو په اړه یې مالومات صفر وو. داسي کسان هم پېښ شوي چې د خپل واده تر شپږو میاشتو یې د ناخبري له امله له ښځې سره اړیکې نه دي نیولې. زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمنې په دې اړه بیخي کم او یا هیڅ مالومات نه لري. داسې کسان هم سته چې په لومړي سر کې فکر کوي د ښځې په خاص اندام کې اړیکې ور سره نیول او په وار وار له هغې سره مستي کول د اولاد د زیږون سبب نه کېږي. ما خپله له نژدو ملګرو اورېدلي چې لومړی اولاد مې د خطا دی.

زموږ د ټولنې ډېره یا که احتیاط وکړم نیمايي سلنه د ښځینه جنس په اړه مالومات یا نه لري یا بیخي ابتدايي دي. یو باتجربه کس که ځوانانو ته په دې اړه مالومات ور کړي نو لومړی خپله ځوان دې ته نه تیارېږي چې له یو چا دا مالومات واوري. که په لسو کې یو کس تیار هم شي نو د ټولنې بانفوذه کسان هغه کس ترټي چې ځوانان بې لارې کوي او ناسم پوهاوی ور کوي. زموږ په کلتور کې د جنسي اړیکو په اړه ږغېدا خورا بد کار ده. زه مې له یوه انډیوال سره مخ شوم. تر کابو ۱۵ کالو وروسته مې ولیدی. د واده یې ۷ کاله کېدل خو اولاد یې نه وو. ما ته یې شکایت وکړ چې داسې ستونزه لرم. ما له ښځې سره د جنسي اړیکو په اړه ابتدایي مالومات ور کول چې هغه سخت د شرم احساس کاوه او فکر یې کاوه چې زه یې په لویه ږیره کونیتوب ته هڅوم.

زموږ ځوانان سهار لمانځه ته ځي او بیا له مسجده سیخ د مور و پلار خونې یا هم کوټې ته د چایو او ناشتې لپاره ځي. هغه ځوان په کورنی، ملګرو او خپلوانو کې ډېر ژر په بې شرم او ښځه نوکي مشهوره کېږي چې سهار له خپلې ښځې سره یو ځای چای څښي او خپل کار ته تر وتلو په خپله خونه کې له میرمنې سره پاته شي. د مور، پلار، خور، ورور او نورو خپلوانو په شتون کې له ښځې سره خبرې یا نه کوي او یا هم د ضرورت خبرې کوي. زما یو اخښی دی چې اوس یې د لور اولاد لا سته. مګر که یې له میرمنې سره په خپله خونه کې وخندل، یا په لوړ اواز خبرې وکړې یا هم د یوې ښکاره ورځې زیاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه له هغې سره په خونه کې تېره کړه، نو مور یې د ښځې مختـه پیغورونه ور کوي او بې شرم یې ګڼي.

په دغسې یو حالت کې به ښځه او مېړه د خپل اولاد په اړه څه تصمیم ونیسي؟ زموږ میرمنې د اولاد په اړه پوره بېتفاوته وي. که پیغله وي یا هم واده شوې، ماشوم یې په نس وي او کنه، ماشوم ته تی ور کوي او که خلاصه مېرمن وي، د کور درانه کارونه کوي، غذا یې په ټولو حالاتو کې یو ډول وي، د کورنیانو او مېړه پاملرنه ورته پر هماغه یوه حال وي.

ځوان پلار خپل ماشوم د هیڅا په مخ کې نه شي ښکولای. میرمن یې همداسې درواخله. له خپلې میرمنې سره ټوکې ټکالي زموږ په کلتور کې سور کفر دی. تر هغه چا بېغیرته نه سته چې د مور و پلار په مخ کې له ښځې سره طنزیه خبرې وکړي، زوی را واخلي او مچ یې کړي او یا هم د کور په کارونو کې له میرمنې سره مرسته وکړي. زما ښه په یاد دي چې یوه ورځ مې له میرمنې سره د کچالو په پخولو کې مرسته کوله. د میرمنې پیغله خور مې راغله او یوګړی په خندا ولاړه وه. بیا کور ته ولاړه او ټول کور یې زما په دې کار خبر کړی وو. ماخستن مې یوه اخښې راته ویل چې تا له میرمنې سره کچالو پخاوه؟ ما ورته ویل، هو! ښه په کړس یې وخندل او تر لاس یې ونیولم چټکې یې را کړې. ما ورته وویل: په دې کې څه بده خبره ده؟ بس نور یې هسې ځان تېر کړ.

زموږ ماشومان په ډېر بد وضعیت کې دې نړۍ ته سترګې پرانیزي. مور یې له ګڼو ستونزو سره مخ وي. ماشوم یا ناروغ و ډنګر پیدا کېږي یا هم تر پیدایښت څو ورځې وروسته داسې وګرزي لکه مړی. په کلیو کې میرمنو ته د حمل اولاد ته د تي ورکولو مهال هیڅ ډول ځانګړې غذا نه ور کوله کېږي. د میرمنې که اولاد پیدا شي نو په درېیمه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د کور کارونه کوي. هغه لومړۍ یوه یا دوې اونۍ که لیږ غوښه یا نور سم خواړه ورکړل شي، نو د ټولو نیت پر بد وي چې وګوره دا هغه او دغه خواړه خوري. ماشوم ته تر اوسه هم واکسین نه ور کول کېږي. ډېری ماشومان مو د ورغتون پر ځای په کورنو کې پیدا کېږي. زیاتره میرمنو ته د ډاکټرې یا نرسې پر ځای زړې خرافاتي سپینسږي ښځې ناستې وي چې په دې ډاکټري کارونو پوهېږي هم نه. دوی لومړی ماشوم ته دود جوړ کړي او سپلني ورته دودوي. ژر یو لوی تاویز ورته تړي او د دم په اوبو یې لمبوي او څاښتونه ورته په اوبو کې اچوي. زه د تاویز په اړه دلته بحث نه کوم، اما د واکسین په اړه باید ووایم چې دا ډېر حتمې دی. له سختو ناروغیو د ژغورنې لپاره اړینه ده واکسین ور کړل شي، ځکه یو لور ته هغه فزیکي کمزوری وي، او بیا واکسین هم ور نه کړل شي نو ناروغۍ یې ډېر ژر لاندي کوي. زما د خورځې زوی د اعصابو په تبرکلوز اخته شو چې لیونی یې کړ او بیا تر ډېرو مصارفو وروسته ځنې ومړ. د یوه قریب ورړه لور مې وه، هغه ملا وو او په کور کې یې ماشومانو ته واکسین نه ور کاوه، یوه ورځ یې لور شري ونیوله، په روغتون کې تر بستر کېدا ځو ورځې وروسته مړه شوه. د شري، تبرکلوز، ګوځڼ، شنې غاړې او تور یا ژړ ژړي له ناروغیو د ماشتوب مهال زموږ په سیمه کې زیات ماشومان مړه شوي دي او یا هم تر خپله ژونده معیوب شوي دي.

یو بل شی چې باید واضح یې کړم حمل لرونکې میرمنې باید د اولاد پیدا کېدو مهال تر وسه شفاخانو ته ورسول شي، یو خو دا ډېر سخت وخت وي چې د مرګ او ناروغیو احتمال ورسره شته، بل تر اولاد وروسته د میرمنې په رحم کې ځینې کثافات وي چې ډاکټرانې یې ځینې ایسته کوي اما د کلي ښځې نه په پوهېږي، یو بل مهم ټکی دادی چې که دا مهال د میرمنو پشار یا لوړ شي یا ټیټ شي یا د وینې له کمښت سره مخ شي یا بله ستونزه نو کور کې یې دفعه نه شي کېدای باید روغتون ته ورسول شي او د مور سختي پر پیدا کېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم هم اغېز کوي چې د کریمونولوژي د علم له مخې د حمل اخیستو مهال که پلار یا مور ناروغ یا مسموم وي یا یې نشه کړې وي، بیا د حمل په نهه میاشتې کې که ښځه غذا کمزورې وخوري، درونډ شیان واخلي، یا پر نس ووهل شي یا د ناروغۍ سختي ور باندي راشي، همداشان د تولد مهال که سختي پر راشي بعضي ماشومان داسې کوي چې بیا په خپل ژوند کې جرمونو ته مخه کوي او دا د ذاتي اسبابو له جملې بلل کېږي چې باید ډېره توجو ورته وشي.

زمور د ماشومانو پیدایښت بس کېده نه لري. تر هغو یې زیږوي چې میرمن یې د زیږون وړتیا ولري. ځیني کسان تر یوه زیاتي میرمنې لري. له ټولو یې اولادونه کېږي او دی په خوشاله وي. د فقر یې دا حال وي چې نه یې په دارو درملو پسې رسېدای شي او نه په جامو و پایزارو پسې. خو له دې هر څه سره شل اولادونه پیدا کوي. په دې برخه کې نه د میرمنې لحاظ کوي او نه د اولاد تربیې ته پام کوي. زیات اولادونه د ګڼو ناروغیو تر څنګ د ښځې جنسي غریزه هم وژني، ځکه نو زمور خلګ دوه یا زیات ودونه کوي. دوی نه پوهېږي چې د خپلې لومړۍ میرمنې جنسي خواهشاتو مې په لوی لاس وژلي. دوه درې کاله وروسته یې نوې میرمن هم د پخوانۍ په شان شي. بیا یې زړه څکېږي چې بله میرمن یې کړې وای. مګر ګټه ورته نه کوي، ځکه له هغې هم یو یا دوه او هغه زیات بې نو درې کاله وي چې خوند به ځنې اخلي او هغه به هم ځان ورته نیسي. کنه په دویم کال کې میرمن هر وخت له جنسي اړیکو غاړه غړوي او زیاتره وخت مېړه په زور له خپلې میرمنې سره اړیکه نیسي چې د کورني تاوتریخوالي او خشونت سبب کېږي.

مور ته دا هر څه له ناپوهۍ را پېښ دي. نه زمور نارینه په دې پوهېږي چې څنګه وکولای شي له میرمنې خوند واخلي او میرمن یې له ده خوند واخلي خو د اولاد مخه ونیسي؟ او نه په دې پوهېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات اولادونه د نورو مرضونو ترڅنګ د جنسي غریزې وژونکې هم دي. که زموږ میرمنې او نارینه په دې دوو ټکو پوه شول نو د ټولنې د تاوتریخوالي او خشونت مخه هم تر یوه حده نیول کېږي. فقر هم تر یوه حده خپله کمبله ور ټولوي. غلاوي، خیانتونه، ظلمونه، فسادونه، عمومې جنګ و جګړې، بداخلاقۍ، د میرمنو جګ ولورونه او ځینې نوري بدۍ هم ور سره کمېږي. ور سره جوخت به د میرمنو ژوند هم ښه شي، مېږه به یې هم له ملګرتیا خوند واخلي او یو د بل پر حقونو به د تیري مخنیوی هم وشي.

## د نارینه او ښځینه اولاد پیدایښت

زموږ ټولنه نرسالاره او جنګ خوښونکې ده. له نن څخه دوې یا درې لسیزې مخته د پښتنو په ډېری سیمو کې به قبیلوي جنګونه کېدل. یا به یوه کورنۍ له بلې سره په جګړه اخته وه. ځینې وختونه د پټي او نورو شیانو پر سر د تربورونو او کلیوالو ترمنځ هم جنګونه کېدل چې د ډېرو نارینه لرونکو کورنۍ به پکې بریالۍ وه.

زموږ نارینه د ګټې وټې کارونه کوي، باغ و پټي ته وزي، سفرونه کوي او که د دفتر کارو وي، نو نارینه یې کوي. له دې امله نو زموږ عمومې ذهنیت داسې جوړ شوی دی چې تر ښځینه اولاد نارینه خوند را کوي. ځکه له پیله د اولاد راوړل دلته یو بیزنیس دی. په دې بیزنیس کې د نارینه ګټه تر ښځینه زموږ په ټولنه کې زیاته ده. له دې امله نارینه اولاد هر څوک خوښوي او ښځینه لږ خوښوي.

که یوه ښځه زیات ښځینه اولادونه زیږوي، نو کورنیان یې بده ګڼي. حتا وهله کېږي چې ولې نارینه نه زیږوي. ځینې کورنۍ داسې هم سته چې که یوه ښځه را واده شي او په هغه کال د دوی په کور کې ښځینه اولادونه وزیږېدل؛ نو هغه ناوي منحوسه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما تر ننه په پښتنو کې نه دي اورېدلي چې لور یې پیدا وي او چا دې د خوښۍ ډزې کړې وي(که څه هم ډزې په هر حال کې بد کار دی، اما دا چې پښتانه یې د زوی په خوښي کې کوي، خو د لور په وار داسې نه کوي) یا دې د مبارکۍ لپاره کور کې چای چمتو کړې وي او خلګ دې د مبارکۍ او چایو لپاره د هغه کور ته ورځي. خو د نارینه اولاد مهال د هر چا په کور کې همدا ټول جریانونه تر سترګو کېږي او هر څوک خوښ و خوشاله وي.

که د یوه کس لس نارینه اولاده پیدا شي؛ نو دوی نه ځنې ستومانه کېږي او نه په خپه. البته که زیاتې لوڼې وزېږېدلې نو د الله بسته نوم اخیر پر ږدي. زما یوه ملګري راته ویل چې غزني کې د یوې کورنۍ اووه لوڼې وشوې. اما د هغه کس هیڅ نارینه اولاد نه وو. نو پر وروستۍ لور یې د الله بسته نوم ځکه کېښود چې خدایه نور لوڼې بس کړه او نارینه اولاد راکړه. خو که همداسې پرلپسې نارینه پیدا شي، نو هیڅوک د الله بس نوم نه پر ږدي او په کلي لوړه غاړه لا هم ګرزي چې دومره نارینه بشري قوه لرم.

زموږ په کلي مې په یاد دي چې د ډېرو ځوانانو لرونکو له کورنۍ سره چا جنجال نه کاوه ځکه ډارېدل چې ډېر دي او وهل ټکول را کوي. بل لور ته بیا د زیاتو نارینه لرونکو کورنۍ به بیا زیات مست وو او له هر چا څخه یې د خشونت او جنګ دریغ نه کاوه.

داسې نارینه هم سته او میرمنې خو بیخي ډېري دي چې کله ښځینه اولادونه راوړي، نو له ځان سره د شرم احساس کوي او که نارینه اولاد پیدا کوي، نو یو ډول د غرور احساس ور سره وي.

زموږ ټولنه د ۲۱ پېړۍ ژوند نه کوي، بلکې لا د پخوا پر طریقه له ژوند کولو سره عادت دي. د ټولنې د بشري قوې په زیاتولو کې نارینه او ښځه یو ډول ونډه لري. که نارینه جبر و ظلم ونه کړي، نو میرمنې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګټې وټې په میدان کې تر نارینه شاته نه پاتېږي، مګر دا ګرمه هم د نارینه ده چې میرمنې ته د کار او زیار اجازه نه ور کوي او په عینې حال کې یې راتګ منحوس هم بولي.

## زمور په ټولنه کې د ماشوم تربیه

پښتانه وایي، ماشوم لکه نیالګی هرې خوا ته چې یې غواړې کښېږي. که مور له دې وخته د یوه انسان پر سمه روزونه خپل امکانات ولګو، نو ټولنې کې د یوه ښه انسان بنیاد به مو ایښی وي.

هوښیار خلګ د اولاد تر حمل لا مخکې د هغه د ودې او صحت لپاره پاملرنه کوي. مور یې ساتي او په ذهني و فزیکې لحاظ یې د حمل لپاره چمتو کوي. کله چې حمل واخلي بیا ښه خوراک ور کوي چې اولاد یې روغ رمټ وي او دا هر وخت ډاکټر ته ور ولي چې په دې حساس پړاو کې میرمنې یا اولاد ته یې زیان ونه رسېږي.

پوهان وایي، که مور له ځان سره د حمل مهال وبورنېږي، نو ماشوم د مور په نس کې ارامېږي. د دوی په وینا چې ماشوم له همدې حالته تربیه کېږي او کله چې پیدا شي؛ نو د ماشوموالي په حالت د راتلونکی شخصیت جوړېږي. له دې امله نو هوښیار مور و پلار هغه ته مینه ور کوي، ښه خواړه ورته چمتو کوي. ښې خبرې یې په مخ کې کوي. د لوبو شیان ورته راوړي. اجتماعي مزاجه یې اموخته کوي.

د خبرو مهال ښه په مینه ور سره خبرې کوي. بهر یې د ساتیرې لپاره باسي. خپله لوبي ور سره کوي. میلمنو ته یې ور ولي سلام ور زدکوي، روغبړ ور ښیي، له خلګو سره یې اشنا کوي او په دې توګه یې جرأتمن تربیه کوي.

له شپږ کلنۍ او اووه کلنۍ څخه یې د زدکړو غم ور سره وي. ښوونځي ته یې ور ولي. هر وخت یې پوښتنه کوي، د مکتب خاصې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې ور کوي. پر کتابونو او کتابچو یې ګرزي. د درس او خط غم یې ور سره وي. هر مهال یې د استادانو په اړه پوښتنه ځنې کوي چې وهي خو دې نه؟ ماشومانو به دې نه تنګوي؟ لار کې به زحمت نه وي؟ کور یې درسونه ور زدکوي. خط په کاږي. مکتب ته ورځي او له همصنفیانو، ملګرو او استادانو سره یې وینې د خپل اولاد په اړه پوښتنه ځنې کوي.

د ماشوم پاکې و نظافت ته پام کېږي. د هغه لاسونه، مخ، پښې او نور بدن پاک ساتل کېږي. کالي، کوټ، بوټونه او نور شیان یې صفا سوتره وي. د خولې او غاښونو کریم و برش ور کوي چې هر وخت یې پاک وساتي. د کور په اړه لارښوونه ورته کوي چې چټلې جوړه نه کړي. د بازار او کوڅې په اړه ورته هدایت کېږي چې اضافه شیان او خځلې هلته وانه چوي.

د پوښتنو یې ځوابونه ور کوي او هیڅکله خوشکه نه ورته کوي. وهل ټکول نه وي. د ماشوم حقونو ته پام کېږي او غوښتنې یې پوره کېږي یا ناسمه غوښتنه یې په سم ډول ردېږي او هغه پوهول کېږي چې دا سمه نه ده.

خو مور څه کوو؟ اولادونه پیدا کوو، د تربیې لپاره یې کوڅې ته استوو. زموږ تربیه په کوڅه کې اتومات کېږي. له وړوکوالي یې روغتیا ته پام نه کوو. خیرن ماشومان وي او خیرن یې کالي و جامې. له خاورو خځلو یې نه را ګرزوو. له بولو او نورو ګنده شیانو یې ژر نه صفا کوو. په ماشومتوب کې وهل ټکول، خوشکې او غوسې ورته کوو. میلمنو ته یې نه راولو او د مینې پر ځای هر وخت ښیراوي ورته کېږي.

د اجتماعیتوب پر ځای یې ګوښه کوي. د سمو خبرو پر ځای کنځل ور زده کوي. د ادب پر ځای بې ادبي ورښیي. د سلام او روغبړ پر ځای یې له میلمه ډاروي چې هغه ماما دي وهي، غوږ در څخه پرېکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري دي، په چاړه دي چولکی در څخه غوڅوي او داسې نوري بابولالې.

یو پلار کور ناست وي، زوی ته وایي، ور سه دروازه ټکېږي ورته ووایه چې پلار مې کور نه سته. هلک د خپل پلار خبره مني او همداسې کوي. دلته په لوی لاس ماشوم ته درواغ ښودل کېږي او ماشوم ور سره روږدي کېږي. والدین یې دا فکر نه کوي چې که نن زه دروغ ور زدکوم، نو سبا یې ماته هم وایي، په معاملاتو کې یې هم وایي، دفتر او د ملګرو منځ کې یې هم ویلای شي. نو د دې بنیاد یې لومړی له کور کېښودل شو.

زموږ زیاتره کورنۍ ډېري لویي وي. ورونه، اکاګان او حتا خوریان او...هم په یوه کور کې اوسي. دا ګډ اوسېدا د نورو جنجالونو ترڅنګ په ماشومانو کې یو له بل سره د کینې او سیالۍ فکر هم زیږوي؛ ځکه مور، خور او پلار یې په وړوکوالي کې ورته وایي، دا کار وکړه کنه پلاني ته وایم، پلاني ته دا شی ور کوم، پلانی بیا راځي هغه یې غواړي. دا خبرې سوکه – سوکه د ماشوم په ذهن کې ځای ونیسي او کله چې لیږ لوییږي نو په کینه او له هغوی سره د سیالۍ په هڅو بدلېږي. زموږ په ټولنه کې ځینې والدین او زیاتره برخه لوی هلکان یو کار د بل د سیالۍ له وجې کوي. ان زدکړې هم له دې امله کوي چې پلانی، د پلاني زوی، زما تربور، زما سیال او هغه و دغه مخته ولاړی، دونه صنفونه یې لوستي او داسې نور. زدکړې که وکړي خو بدکار نه دی، اما دا سیالي یوازې تر دې میدانه محدوده نه پاتېږي. بلکې د ژوند هر ډګر ته یې سرایت کوي چې لوی سرخوږی ایینده ورته جوړ کړي.

عموما یې مندې خپل اولاد ته له نورو پټ پیسې او نور شیان ور کوي چې ماشوم د شیانو په پټولو او غلا اخته کوي. ځکه د مور له خوا پټ څه ور کول هغه فکر کوي چې مور یې له نورو په غلا راکوي حتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپله پلاره هم. نو دا یو بیداري بـولي او ایینـده ژونـد کـې همـدې تـه په خپل ټول عمر کې ځای ور کوي. دا بد عادت په ماشـوم کـې د مـور له ناسمې مهربانۍ څخه را پیدا کېږي.

له ماشوم سره د ساتیري وخت زموږ په مهالویش کې نه سته. لـه لویه سره مو ټولنه او کورنۍ دې ته تیاره نه ده چې یـو څـوک دې خپـل ماشوم ور واخلي، مچ دې کړي، ساتیری دې ور سره وکړي او منـې دې کړي. له دې امله نو له ماشـومه د خلاصـون لپـاره کوڅـه ښـه ځـای ده. هلک چې سهار له خوبه را پاځي، مازي پر مخ و لاس سرې اوبـه تیـري کړي، بس یو غوړپ چای تر ستونې کښـته کـړي او پـه منـډه لـه خیرنـې خولۍ، پري چوټو، چاودو لاسونو و پښو او ببرو ویښتانو سره وزي.

په کوڅه کې نو یو چا ته کنځل کړي. د بل په مـوټر، رکشـه یـا ترکتـول پسې ټال شوی. د ګاونډي کور ته ډبره اچـولې. پـر لار پـه لاروي پسـې نارې وهلې. له خپل همزولي سره اختـه شـوی. یـو پـه بـل پسـې ډبـرې غورزولې او غرمې ته سرمات کورته راستون شي.

دا ماشوم نو کور څه عمل کوي؟ خور ته پوچې خبرې کړې. د مور له امر څخه سرغړونه کړې. د پلار مختـه سـوڼ نـه کـاږي، خـو چـې هغـه تـر دروازه وتلی لا نه وي، ده یې ټولي خبـرې تـر غـوږ ایسـتلې وي. د مـور له کشمشو یو څه غلا کړي، کورت پټ کړي، یو څو دانـې پلمېـټ جیـب ته کړي او ماپښین بیا همداسـې خیـرن د نوروبـدو د زدکـړې لپـاره فـري مکتب(کوڅې) ته ور وتلی.

یو ټولنه چې ماشوم ته مینه ور نه کـړي، د تربیـې لپـاره یـې مصـرف ونه کړي، د هغه ساتیري ته وخت ونـه لـري، د اخلاقي او بـدني روزنـې لپـاره یـې هـیڅ ډول طرحـه او لګښـت پـه پـام کـې نـه وي نیـولی؛ نـو د هغو ټولنو حالت به زمـوږ پـه شـان وي. زده کـړې مـو صـفر دي. اخلاق پېژنو هم نه. غلا و فساد راته خپله بیداري او روا حق مـالومېږي. درواغ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیبت، بوهتان، کنځل او نور ژبني ضررونه هیڅ عیب نه دي. وژنو ته جهاد وایو او په وینه تویونه خدای خوشاله کوو. د انسان په قتل کې جنت وینو. د اخیرت حورو ته د لاس رسي لپاره د انساني سرونو ځلې جوړوو.

میرمنو ته ظاهرا کتل هم ناروا بولو، له دې امله مو په بوریو کې پیچلې او هلکان بیا یو د بل په خار ګرزوو. نجونې مکتب ته د بې حیایي له امله نه ایله کوو، خو ګودر ته د اوبو لپاره ټوله ورځ ځي او راځي. د خپلوانو کره به یې په چادري کې نغښتې ور رسوو، خو د زیارت ملکانو ته لڅ مخ، لڅ لاسون، لڅ مړوندونه، لڅې پښې او لڅ سرونه ناستې وي. د ملنګ په نوم ټکان د هغوی د کور ټول رازونه ځنې اخلې، مګر سړي د خپل کور د ښځې نوم یادول د خلکو په مخکې شرم بولي. له ځینو خلګو مې په ملجس کې اورېدلي چې له مخه ایا ښځې ته مې وویل، یا کورودانه مې وایي یا داسې نور.

په هغه کس کې ټول کلی غیبتونه کوي چې لور یې مکتب وایي، خو که یې میرمن یا لور ناجوړه شوه بیا د ښځینه ډاکټرې پوښتنه کوي. هغه کس د شرم احساس نه کوي چې لور یې په کوڅه کې استاپو یا نوري لوبي کوي، اما د هغې نجلۍ پلار، ورور او نورو خپلوانو ته به هر وخت پیغورونه ور کوي چې هغه ښه پاکه صفا، په حجاب کې پټه هر سهار د زدکړې لپاره مکتب ته ځي.

د دغسي ټولنې غړي که څوک وژني جهاد ورته ښکاري، اما په نجلۍ د مکتب ویل عار بولي. ملا یې مکتب د فحاشخانې په نوم یادوي، خو تاویزګر او کوډګر ته بیا د جواز بانې جوړوي. ځکه نو موږ نړۍ ته خشونت ور کوو او نړۍ موږ ته د ژوند توکې. موږ قهر، غوسه او افراطیت ور وړو، خو دوی سوله، مینه او اعتدال راوړي. موږ لوټنې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژنې، او ورانونې کار بولو او دوی مرستې، ژوند ژوغورل او ابادونې خپل کسب او کار ګڼي.

همدا وجه ده چې مور شاته پاته یو او دوی وړاندې ځي. موږ هیڅ نه لرو او دوی هر څه. موږ دوی ته اړ یو او دوی مو اړتیا پوره کوي. دا شته زیانونه له دې ځایه راپیښ دي. که د نوري نړۍ په شان خپل ماشومان او بنیادونه سم کړو نو موږ به هم تر هغوی پاته نه یو. ماشوم د سبا بنسټ دی. که د خپلې ټولنې بنسټونه سم ورغوو، نو ان شاء الله زیان به ځنې ونه وینو. د همداسې ورځې په تمه!

## موږ او د ماشوم حقونه

زما په خپله کورنۍ کې دا حالت په یاد دی چې کله به مو سره وخندل نو پلار به مو راته غوسه کېده. موږ په کور کې داسې تربیه کېدلو چې ناسته به مو د بل په خوښه وه. لونګۍ تړل به د پلار په رضا وو. کالي مو د نورو په خوښه جوړول. خبرې مو د پلار او مشر ورور په اختیار کې وې. د میلمنو له مخه د خبرو هیڅ اجازه راته نه وه. یوه ورځ مې د میلمه مخته یوه خبره وکړه چې مشر ورور مې راته خوشکه وکړه. میلمه خندل ویل یې چې دی فکر کوي د خپلو همزولو په منځ کې ناست دی. موږ به سهار او ماښام د هغې کوټې خور خونې ته په تاخته تلو چې له موږ سره په کور کې اوسېده او خونه یې زموږ له هاله وتلې وه. زموږ دهلېز جلا او د هغې دا جلا وو. زه د خپل چاپیریال د اثر له مخې په شپه کې له بلاوو، پیریانو او شیطانانو ډارېدم هم، خو بیا هم په توره شپه کې د هغوی خونې ته تر خوراک وروسته ور تلم. زموږ پلار او مور کله هم پر دې فکر ونه کړ چې هلکان ولې تر خوراک سمدستي وروسته له خپلې خونې تښتي او د خور خونې ته ورځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوازې زمونږ د کور حال نه دی. مونږ ته په چایو پسې سمه خوره لا نه را کوله کېده. زما په یاد دي د کلي یوه هلک قدرت الله له ما او یوه بل هلکه پوښتنه وکړه چې تاسو ته د چایو څو پلمیټ در کوي؟ له دې پوښتنې ښکارې چې زمونږ په کلیو او کورنو کې د استبداد او حق لوټونې وضعیت په عمومې ډول حاکم وو.

ماشومانو ته د لوبو حق نه ور کول کېږي. د خندا حق ځنې ترورل کېږي. د جامو طرز په خپله نه شي ټاکلای. د خپل سر ویښته د بل په خوښه جوړوي. زمونږ د کلي مشر د طالبانو تر امارت وروسته ځوانو هلکانو ته ویلي وو چې پیکې او خولۍ مو نه منم، نو څه چې د طالبانو نظام نه دی، دا کارونه به په کلي کې نه کوئ.

زمونږ د ټولنې پلار، مشر ورور، نیکه، مور و خور، د کلي ملک، د کلي ملا او د کلي بل هر کس ستا په شخصي کارونو کې مداخله کوي او کړې یې ده. زما په یاد دي چې یو کس له دوړوو مخ په شمله پټ کړی وو او له بوټونو سره یې جرابي په پښو کړې وې، نو یو ځوان پشالا کنځل پسې کول چې دا څونه په کونه کې دی. د پلاني مسکین زوی یې، مخ دي پټ کړی او جرابي دي کړې وي! دې کس نه بد کار کړی وو او نه یې بل ته په دې سره زیان رسولی. مګر له دې سره نورو د هغه په کار کې مداخله کوله. ولې؟ ځکه دلته حدود نه دي مالوم. یو څوک چې د لویانو په کارونو کې مداخله کوي، نو د ماشوم حقوق خو بیخي نه پېژني.

شهید مولانا له خپل کور سره نژدې د ماشومتوب مهال لوبي کولې، زمونږ یوه همسایه مې پلار ته ویلي وو چې ستا دغه زوی ښه دیني سبق هم وایي، خو دا کار یې بد دی چې له کور سره بیا د کلي له نورو هلکانو سره لوبي کوي. زما پلار هغه له دې کاره بند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم که را محدود شي او ازادي یې ځنې وترورله شي، نو بیا عقدیي کېږي، زموږ په دا ننۍ بده ورځ کې همدا ناسمه روزنه خپل مهم نقش لري. زموږ د ماشوم پر سر څوک لاس نه ور تېروي. د لوبو حق یې څوک نه مني. د خندا اجازه نه ور کوله کېږي. د زدکړو له حقه بې برخي شوی. د جامو هغه طرز ورته ناروا شوی چې د ده ذوق وي. په خپله خوښه د ویښتانو له جوړېدا منعه شوی. پیکی د کونیتوب نښه ده. عطر لګول د نورو د نجونو د جذب علامه وه. له پاک ګرزېدا به ځکه ډېره کېده چې بیا د کلي ځوانانو د جنسي غریزې سړولو خواهش ترې کاوه او که یې ور سره نه منله نو اخیر زور هم ور سره کېده.

دلته د ماشوم هیڅ حق په پام کې نه نیول کېږي. موږ داسې یو لکه ماشوم چې هیڅ حق نه لري. د لومړی ورځې له پیدایښته چې نور کسان د هغه په کارونو کې مداخله پیل کړي تر هغې ورځې روانه وي چې بیا مړ کېږي. لویانو مو زیاتره کارونه د نورو د خوشالۍ لپاره کوي او یا د خلګو له خبرو ځانونه خلاصوي، نو ماشوم ته به په دې انډوخر کې د چا ور پام شي؟!

زموږ د ماشومانو ژوند له ریشخند پرته بل شی نه دی. موږ د ازادي نارې وهو، خو تر ټولو ډېر محکوم موږ خپله یو. په کومه ټولنه کې چې د ماشوم د ازادي درناوی نه کېږي، هغې ټولنې د لویانو به څه ازادي وي؟ دلته تر اوسه هم د ازادي مفهوم ناسم تشریح کېږي او تل راته ناسم معرفي شوی دی. له دې امله موږ د کعبې پر ځای ترکستان ته روان یو.

لوبې، پر خپل ذوق جامې جوړول، خنداګانې، زدکړې، پاک کالي و جامې د ماشومانو حق دي او موږ یې باید د حق په ډول ورته ومنو. سمه تربیه، ښې خبرې ور زدکول، له مشرانو سره ناسته د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایینده جوړوي، د دې لپاره باید دا حق هم ور کړو. ماشوم ځینې کارونه د ماشومتوب مهال د تفتیش لپاره کوي، هغه له دې کارونو زدکړه کوي، له دې امله باید پابندۍ ورباندې عایدې نه شي او خپله ازادي یې سلب نه کړل شي.

## د زدکړو په اړه زمونږ ذهنیت

زمونږ د سیمې یوه بوډا ملا په ډکه غونډه کې وویل چې کفر له مکتبه راغلی او اسلام له مدرسې. مشرانو راته ویلي چې د ظاهر شاه په وخت کې دولتي هیئت راغلی وو د خلګو په مشوره یې سیمه کې مکتبونه جوړول چې زمونږ خلګو نه غوښتل، ځکه نو هغه هم بیرته ولاړل.

ماشوم خپل لومړي وختونه په کوڅه کې تیر کړي. کله چې لږ لوی شي، نو یا مال پیایي، یا باغ له مرغیو ګوري، یا په پلار، ورور، اکا او نورو پسې پټي ته خوراک ور وړي، یا د کور نور کارونه. ژمی د کلي له ملا څخه قاعده بغدادي وایي او پسرلی بیا هم هغه یاد کارونه.

مکتبیان زیاتره په کونیانو معرفي شوي. زمونږ د ماشومانو پر خوله به یوه لنډۍ وه چې د زده کونکې صفا حالت به یې انځوراوه او بیا به یې ویل چې د معلم یې دمدم(ذکر) ورته ښوري. له دې مالومیږي چې زمونږ ماشومانو ته څه ډول ذهنیت ور کول شوی؟!

د کلي ملا چې د علم خبره کوي، نو یوازي شروط الصلاة او دې ته ورته کتابونه یې هدف وي. ځکه د قران او حدیثو له علمه دوی بې برخې دي، د فقهې ستر کتابونه یوازي تر نومه ور مالوم وي، فلسفه او نور علوم ځنې پردي شوي. نو ور پاته همدا شروط الصلاة دی چې هغه یې هم په سل کاله پښتو نه کړ همداسې په عربي ماشوم ته ویل کیږي او هغسي به یې زدکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له علم سره دوښمني زموږ د کلتور يوه مهمه برخه ده. څوک چې ځان ته عالم وايي، د علم پر مسند ځان حاکم بولي، د علم د زدکړې ادعا لري او بيا علم تر ديني علومو انحصاروي، دا نو له علم سره دوښمني نه ده چيشی ده؟ څوک چې په زوی مالونه او رمې څروي خو د مکتب لېوال يې نه وي، له علم سره دوښمني نو ډلونه وهي؟ د چا کلتور چې نجونو ته د زدکړو هيڅ مخينه نه لري، د عالم له خولې د نجونو د زدکړو د نارواوالي فتواوي راوزي، عداوت نور تور وي که بور؟

زما د ماشومتوب مهال مې په ټوله سيمه کې د يوې ښځې نوم نه دی په ياد چې مکتب يې ويلی وي. دا خبرې مې د هر کس له خولې اورېدلې چې عالمان وايي، ښځو ته زدکړه مه ور کوئ، ځکه بيا د انډيوال په پيدا کولو کې له ليک لوست څخه کار اخلي!

زموږ ګودر ته نجونې او ښځې راوزي خو مکتب ته نه. هديرې او زيارت ته اجازه لري، خو پوهنتون ته نه. د ملنګ، ګوډګر، دمګر او تاويزګر جونګړې او ماڼۍ ته ورتګ روا دی، مخالفت يې وهابيتوب دی، خو د علم لپاره راوتل فحاشي او کونيتوب دی. موږ تر اوسه لا هم خلګو ته په اياتونو او حديثونو د مکتب رواوالی، د نجونو راوتل، د واکسين جواز، د ماشومانو حقونه او نور ثابتوو. لا هم له ملا څخه غواړو چې د علم په خپرولو کې زموږ مرسته وکړي. لا هم د سلګونو ډاکټرانو، ليکوالو، فزيکپوهانو او داسې نورو عالمانو پر علمې ويناوو د يوه بېعلمه کوډګر بې بنسټه خبر وزن لري.

په دغسي يوه ټولنه کې ژوند کوو، را لوی شوي يو او لا هم پکې پاته يو.

دا هغه حقيقتونه دي چې موږ يې هره ورځ په سترګو وينو. له دې امله بايد سترګې پر پټې نه کړو. که يې نن هم د نورو وخت په شان په پردو کې وپوښو نو ممکن ژوند يې نور هم اوږد شي. که يې نن نقد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، سبا به یې خلګ له پاللو مخ واړوي. که یې مور له دې سره چې ور سره مخ یو، مګر له دې ډاره چې په دې نقدونو مې شخصیت ته نن زیان ونه رسېږي، پټه خوله شو، نو راتلونکې نسلونه به زمور په شان به ځنې ژاړي. دوی به مور ته ښېراوي کوي چې دا مو کوم کلتور را ایله کړی، مور به خپلو مشرانو ته چې تاسو ولې داسې شیان په میراث را پرې ایښي؟! له دې حالته د خلاصون یوازینۍ لار د دې ناوړه کلتور نقد دی او بس. څوک که خپه کېږي، نو یوه پلا دي په خپل شاوخوا کې وګوري چې ایا داسې نه ده؟ که وي، نو بیا زمور مسوولیت دی چې دا کارو وکړو که څه هم نن په هر لحاظ راته درونډ تمامېږي.

## میرمنې او د زدکړو حق یې

زمور د سیمې سپینسرو میرمنو به ویل، ښځه یا د کور ده یا د ګور. یاني که ژوندۍ وه، نو د کور خدمت د هغې دایمې دنده ده او که له ژونده خلاصه شوه بس ایله له له کوره وزي او ګور یې تل پاتی ځای شو.

مور د روایاتو او فقهې په کتابونو کې داسې روایات او متون لرو چې د میرمنو زدکړې ناروا بولي. زه د هغو روایاتو جاجونې ته نه ځم او نه هم هغه فقهي عبارتونه را اخلم. زما مشر ورور شهید مولانا په خپل کتاب (ښځه په افغاني ټولنه کې) کې دا کار کړی. له دې امله یې دلته اړتیا نه وینم.

زمور په کور کې زما شپږ خوندې دي. زمور پلار په یوه هم مکتب نه دی ویلی. زما میرمن خپل نوم نه شي لیکلای، دا په داسې حال کې چې زمور ټول وروڼه لوستي دي او زما د ښځې وروڼه هم ټول مکتبیان دي. زما دوې ورینداږګاني یوه هم زدکړې نه لري، خو په کور کې یې نارینه وو زدکړې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د مور څلور خوندې وې. له دې سره یوې هم الف نه وو زدکړی. زما د ښځې درې خوندې دي، یوې هم د مکتب دروازه نه ده لیدلې. له دې حالته مې اصلي هدف دا دی چې زموږ لا لویه برخه خلګ دې فکر منلو ته نه دي چمتو شوي چې د نجونو د زدکړو حق ومني.

په زړو مقولو، پخوانو عبارتونو، زړو فکرونو، بې بنیاده ادعاوو، کمزورو بانو او نورو خبرو د ښځو د زدکړو مخنیوی کوو او له دې حقه یې ښه په خوند بې برخې کوو. زموږ د پښتنو داسې ځوانان مې لیدلي چې له پوهنتونه فارغ وي، خو ځان ته به داسې میرمن نه خوښوي چې زدکړې یې کړې وي. زه دا نه را سپړم چې ولې؟ ممکن بیلابیل عوامل ولري، خو په مجموع کې دا خبر ځنې ثابتېږي، چې زموږ جمعي ذهنیت څنګه د لوستو ځوانانو ذهنیتونو باندي اغېز کړی دی؟

زموږ ټولنه له لویه سره نر سالاره ده. نر پر ښځه ځان غوره بولي. له دې امله یې نو حقونه هم تر پښو لاندې کوي. زموږ نارینه هغه د یوه ازاد انسان په توګه نه مني. ځکه نو د زدکړو حق ور کول او نه ور کول د ځان اختیار بولي. زموږ نارینه د هغې نوم په مجلس کې نه یادوي، له دې امله نو د علم لپاره د هغې بهر وتل نه شي زغملای. زموږ نارینه غواړي چې ښځه یې د نړی پر مخ هیڅوک هم ونه ویني، له دې امله یې نو په بولکانو کې پیچلې وي، په داسې یوه حالت کې به هغه څنګه تیار شي چې مکتب ته یې ولیږي؟ پر لار به خلګ ورته ګوري او لازمې خبره ده چې مکتب او پوهنتون کې یوازې میرمنې نه وي، بلکې نارینه به هم هلته خپل صنفونه لري؟!

نن په نړی کې نارینه په دې شرمېږي چې د کور میرمنو یې زدکړې نه دې کړې، کور کې یې میرمنې له خپلو حقونو ناخبره دي او یا حق یې ترې اخیستل کېږي، اما زموږ خلګو ته چې دا خبرې وکړې، یا ځان تېر کړي یا وایي، هغه کافران دي هر څه چې کوي دا یې دنیا ده موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اسلام دا امر کړی دی. په داسې حال کې چې شریعت داسې څه نه دې ویلي. درویش په یوه بیت کې د دې وګړو په اړه وایي:

دا وګړي په تیارو کې دي لوی شوي

په لیدو یې د رڼا کړې سترګي پټې

د زدکړو مخنیوی هم کلتور کوي او هم رواجي ذهنه ملایان. د ناموس ساتنې بې بنیاده تعریف او پرې غیرت زموږ د کلتور او دودیز مذهبي تعبیر زیږنده ده چې په دې بلاوو یې اخته کړي یو. له سمدم ازاد انسان څخه مو فکري او فزیکې مینځیانې جوړي کړې او لا مو هم ور پام نه دي.

میرمنو ته کار او زدکړې د یوه مسلم حق په توګه هم قانون منلې دي او هم اسلام، کنه نو د پیغمبر علیه السلام له میرمنې عایشې رض به یونیم زر(۱۵۰۰) د حدیثو روایات نه کېدلای!

د ښځو نه زدکړې او نه کار له نورو زیاتو تاوانو سره یو تاوان دا هم جوړ کړی چې فقر په ټولنه کې ورسره زیات شوی دی، ځکه د یوه کار نارینه ټول مصارف پرې کوي، له دې سره امدن کم او مصارف زیات وي، که ښځه او نارینه دواړه کار وکړي نو امدن به زیات او یا حداقل له مصارفو سره مساوي شي، په دې ډول له فقر را کم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیغلې د مور و پلار په کور کې

مخکې مې وویل چې کله وړه وي نو په کوڅه کې ګرزي. له همزولـو نجونو سره لوبې کوي. کله چې هـم لـږ لویه شي نـو بیا مـور د هغـې لپاره کارونه ټاکي. د کورو لـه کـارونو رانیـولې بیـا د غـاړو او پټوګـانو تـر جوړولو مختلف کارونه ور سپاري.

د مـور و پلـار پـه کـور کـې نجونوتـه د زدکـړو پـر ځـای کـورني کارونـه ورښودل کېږي. لوښي مېنځل، تنور کې اور بلـول، د ځـایونو چـارو کـول، د میږو، بوزو او غواو سمبالول او لوشل، د جـامو مینځـل، اوتـو کـول او ټولول، سهار وختي بسترې ټولول او ماښام یې اوارول، د ماشومانو او میرمنـو د جـامو رغـول، ډوډۍ پخـول، خـواړه تیـارول، د میلمنـو خـدمت کول او د کور د نورو چارو په تنظیم کې له میرمنـو سـره مرسـته کـول؛ که څه هم دا په خپل ذات کې بد کارونه نه دی، مګر له دې سره باید د زدکړو او کار حق ورته ومنل شي، دا ټول کارونه یوازې د ښځې حـق نـه دی چې کوي بـه یـې، بلکـې دا د کـور د ټولـو غـړو مسـوولیت دی چـې برخه پکې واخلي.

له دې سره چې د تعلیم و تعلـم لـه حقـه بـې برخـې شـوې، پـه خپلـو حقونو نه ده خبره شوې، د یوه ماشین په شان کار ترې اخیست شوی، تر دې هر څه وروسته دا هم ورسره کېږي چې د وژند ملګری یـې د دې په خوښه نه انتخابېږي. دا نه خبـره وي نـه اتـره، پلـار یـا د کـور بـل مشـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې له یو چا سره سودا وکړي. نه د مېړه د انتخاب حق لري او نه د ولور او نورو چارو د پریکړي حق.

د مور و پلار په کور کې له هغې سره د هیڅ شي مشوره نه کېږي. دې ته له پیله دا فکر ور کول کېږي چې لور او خور د بل د کور دي. له دې امله نو هغه هم د دې کور د ملکیت دعوه نه کوي. یوه نجلۍ دا هم نه شي کولای چې که د بل د کور یم نو هغه کور خو باید زما په خوښه وټاکل شي. ځکه دا بیا په بې شرمۍ او بې حیا مشهوره کېږي او نارینه و ښځې ټول بد پر وایي. د (۲۰۱۸ د مې پر ۹) تاریخ د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو راپور نشر کړ چې پکې راغلي وو؛ «په تېره یوه کال کې له کوره د نجونو د تېښتي ۵۰۰ واقعې یې ثبت کړې دي.» له دې ښکاري چې مور په ځومره بد وضعیت کې یو. دا یوازې هغه تعداد دی چې کمېسیون ته احوال رسېدلي او هغوی ثبت کړي دي، کنه په واقعیت کې به دا شمېر تر دې څو چنده اضافه وي. ځکه نجونې د خپلې کورنۍ په لاس له حقونو پرلپسې بې برخې کېږي او له دې امله یوه نجلۍ د ځان په مسله کې خپله کورنۍ نه ور ګډوي، ځکه پوهېږي چې که معامله دوی ته په لاس ور کړم، نو هغه څه چې زه یې غواړم؛ کورنۍ یې نه راکوي.

زموږ په رواج کې ور کړې نجلۍ نه شي کولای چې له خپل مېړه سره وویني. د هغه خبرې واوري. د هغه ان یو انځور ووینې. د کوژدې په ورځ د نجلۍ پر ځای د هغې یو وکیل د خلګو په مخ کې په شوي ټرون د هغې د رضایت اعلان کوي او هغه بې چاره په کور کې ناخبره او بې واکه ناسته وي.

لنډه دا چې زموږ د نجونو ټول سرنویشت مور و پلار یا د کور بل مشر ټاکي. د هغوی په خوښه له لومړی د حقونو له پېژندنې بې برخې شي. بهر ته وتل یې ممنوع اعلان شي. له کوره پرته بل ځای کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـې د کلتـور او شـریعت مخـالف وګڼـل شـي. پـه وهمـې او خرافـاتي باورونو اخته کړل شي او اخیـر پـه لـوی لاس نـاخبره یـو داسـې کـس او کـور تـه پـه لاس ور کړلـه شي چـې نـه د هغـې خـوښ وي او نـه یـې راتلونکی ژوند کې سمېدای شي.

دا زمونږ له یوه ژوندي او ازاد انسان سره د هغـه د ژونـد جوړېـدلو پـه اړه انساني او لـه شـرعي فرمـانونو سـره سـم سـلوک دی؟ پـه دې حـال کې هم مونږ ادعـا کـوو چـې میرمنـو تـه مـو حقونـه ور کـړي او کـه سـم ژوند وو نو زمونږ میرمنې به یې لري. نوره نړۍ خو له میرمنو د فحاشـي کار اخلي، څوک یې د وسیلې په توګه کاروي او بلـه ټولنـه بیـا ظلـم ور سره کوي.

دا حالت له ډېره وخته پر ټولنه حـاکم پاتـه شـوی دی او اوس میرمنـو هم دغه حالت منلی دی. زما یوې خور یوه ورځ نـورو میرمنـو تـه ویـل، ښځه که ښه شی وای، نو د بل کور ته به نه تله. دا لاندې ټپې یـې هـم د ذهنیت څرګندونه کوي:

جانان زما زه د جانان یم

که په بازار مې خرڅوي ور سره ځمه

ورور مې توپک، زه یې ګولۍ یم

په تورو غرو مې خېژوي، ور سره ځمه

زمونږ میرمنو ځانونه د نورو ملکیت ته وړاندې کړي، له دې امله یې د ځان د خرڅولو واک بل تـه ور کـړی. کـه څـه هـم لـومړی ټپـه د مینـې او مینتوب په اړه هم ده، خو د ځان واک بل ته ور کول هم ترې ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناوې د مېږه، خوابښې، خوسر او نورو ترمنځ

مورې واده مې مطلب نه دی

دا ستا لپاره خدمتګاره راولمه

زموږ د یوه ملګري پلار به دا خبره ډېره کوله چې زموږ په پښتنو کې د میرمنې ور کړه یوه کس ته نه وي؛ بلکې پوره قبیله یې ځانونه مېړونه بولي.

دا خبره تر یوه حده سمه ده. ما ته پوره مالومات سته چې زموږ په ټولنه کې نږور د خوابښي خدمت کوي، خبره یې مني، د هغې په خوښه د پلار کره شپې کوي، د کور ټول خدمت د هغې په خوښه کوي، له هغې سره خاندي او ژاړي هم. د خوسر هر خدمت ته ولاړه وي. مېږه خو یې نو ځان د هغې مالک بولي. له دې امله یې اوله ورځ لا امر ورته کړی وي چې زما د مور، پلار، ورور، خور او میلمنو خدمت به په شپه او ورځ کې کوې.

خور یې بیل فرمایشونه لري. په خدمت کې یې خاشې ماتوي، په کتغ کې خبرې ور کوي، په خبرو یې کار ور لري. که له مېړه سره په خونه کې لیږ ځنډ وکړي دا پیغورونه ور کوي. که مېړه جامې یا بل شی ورته راوړل او د خور برخه کې نه وه، نو بیا اسمان ځمکې ته را کښته کېږي. دا په دې خاطر نه چې د خور حق یې خوړلی، بلکې له نږور سره د مقابلې له امله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناوې له کوره که یو څوک راشي او هغه د پلار کره په شپو بیایي، نو له مېړه اجازه اخیستل اړین دي. ناوې به خواښې ته زارۍ کوي چې څو شپې وکړم؟ راغلی کس به له خوسر یا د کور له مشر سره خبره کوي چې زه دا نجلۍ کورته بیایم تاسو اجازه ور کوئ؟ څو شپې وکړي؟ هغه بیا په نخرو خبرې کوي او یو وخت د ۱۵ شپو اجازه په ډېرو ناغېړیو ور کړي.

کور ته تر راتلو وروسته د خپل ماما کره د تلو اجازه نه لري. د همسایه کره د میلمستیا خوراک ته نه شي تلای. د واده شوې خور کور ته به نه ځي. په کلي یا کوڅه کې به واده، کوزدې یا بلې خوشالۍ ته نه ورځي. په دې هر تګ که یې مېړه، خوسر یا خواښې خبره شوه، نو له ورتلو سره سم به شخړو، نارو او ان وهلو ته ځان چمتو کوي.

خواښې له هر کار سره ورته وایي، ها! په کلي ولې نه ځې؟! اینـدرور ورته وایي، پر تا چې د وړورک وام نه وي، تمامه ورځ په دیارونو ګرزې! خوسر ورته وایي، مرداره! که بیا خبر شوم چې د پلاره له کوره د بل کره تللې یې، نو ګیله دي له ځان ده!. مېړه خو یې څو ورځې ځان خپه اچولی وي چې تا نو ولې زه مور، پلار، خور او وروڼو ته ټیټې سترګې کړم؟!

مور ته دا فکر را کول شوی چې کله میرمن ستا کور ته را واده شوه نو د هغې هر څه ستا په اختیار دي. هغه ستا ناموس شوه او ستا له اجازې پرته وتل یې د ناموس بایللو په مانا دي. جالبه مو له ځان سره ټول خلګ لیوني او یا مست فرض کړي وي چې که زما ښځه بهر ووته، نو بس زما ناموس ته به خلګو اړولي وي او زه به بدنامېږم؟!

زموږ د سیمې له زړو میرمنو اورم چې تر اوسنیو میرمنو خو یوه ټېله پچې لا ښې دي خونه خو به په ګرمه کړم. دا حالت د یوه ازاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان په اړه خورا زورونکی او د افسوس وړ دی. موږ دلته د میرمنو د ازادي په اړه هیڅ هم نه پیژنو. بده دا ده چې له میرمنو سره د خشونت دې بهیر کې تر نارینه میرمنې خپله ډېر لوی لاس لري. د یوې ناوې خواښې دا ټول بد او سختې ورځې تجربه کړې وي. مگر له خپلې نږور سره بیا هم بد چلند کوي؟!

خپله پیغله لور د نږور پر سر ور کېنې وي. پر دې فکر نه کوي چې زما دغسي کړه وړه د دې سبب کېږي چې له ما سره، له لور سره مې یا هم له بلې خپلې سره مې داسې وشي؟ اصلا په یوه خشین چاپیریال کې چې هر څوک لوی شي، نو بیا خشونت کول د هغې د کلتور، رواج او مزاج برخه گرزي. زموږ میرمنو ته اوس بیخي دا فکر نه ور پیدا کېږي چې په ټوله کې له میرمنو سره د ظلم لویه برخه خپله میرمنې کوي. د خواښې، ایندرور، میرې، بنې او نورو تر نوم لاندي دا روان ظلم یوه میرمن له بلې سره کوي.

پر دې ولې فکر نه کېږي چې د دې تیري او ناسم کلتور مخه ونیوله شي؟ ما وختي هم وویل چې زموږ میرمنې زدکړې نه کوي. له علمه لیرېوالي او په جهالت کې پاتېدا د دې خشین کلتور په لا غوړېدا کې لوی لاس لري. په مجموع کې د نارینه او نورو ټولنو له لوري پر دې کلتور نه نیوکې هم د دې سبب شوې چې دا کلتور پاته شي. نارینه مو هم له علمه لیرې دي یا په ټولنه کې له بدنامۍ ډارېږي او له نورو ټولنو سره زموږ اختلاط نه شته له دې امله د هغې له لوري له پیغور سره مخ نه یو چې له دې ناروا کار څخه لاس اخیستلو ته مو وهڅوي.

د کلتور په توگه یې له ډېره وخته را پاتېدا بل لامل دی چې اوس یې خلگ ایله کولو ته زړه نه ښه کوي. زموږ خلگ یو متل کوي چې وایي: څه دې کول، چې پلار او نیکه دې کول. یا: هغه کوه چې پلار او نیکه دې کول. له دې او دې ته ورته متلو څخه خلگ استدلال کوي چې موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه کوو. له میرمنو او نرښدو سره دا چلند دوی د ځان حق بـولي او دا متلونه یې دلایل ورته چمتو کوي.

که ووایم چې موږ دلته میرمنو ته ازادي نه ور کوو، بلکې که د ازادي په نوم ډېر لږ څه هم ولري، نو تر واده وروسته هغه هم ځنې اخیستل کېږي او د یـوې مینځـې پـه توګـه ژونـد کـوي. دا خبـره سـمه کـوم؛ ځکـه ځوک چې د خپل پلار کره د تلو راتلو اجازه ونه لري، حتا د یـوه نـاروغ د پوښتنې لپاره لا هم، نو ایا دا ازاد انسان دی؟!

زموږ پـه کورنو کې خوسر نږور وهي او دا د ځان حـق بـولي، هیڅـوک هـم دا نـه شـي ورتـه ویلـای چـې دا نـاروا کـار دې ولـې وکـړ؟ زمـوږ خواښیانې د کنځلو سره نږور وهي او کله ناکله د سزا پـه توګـه خـوراک نه ور کوي. پر دې کار یې په کور کې څوک نیوکه نـه کـوي او خواښـې فکر کوي چې څه کوم؛ هغه سم کوم. مېړه د هر کار اجازه لري. که یې په نیمه شـپه د پلار لـه کـوره پـه داسـې حـال کـې خپلـه مـاینـه کـور تـه راوستله چې هلتـه واده وي، د ده، پلار او مـور پـه اجـازه یـې میـرمن د څو ورځو لپاره تللې وي، هم څوک یې مخه نه شي نیولای او دا هغـه د ځان حق بولي. که یې په هسې خوشې چټې تور میرمن وهلـه او ډبولـه هم څوک یې د پوښتنې کولو نه سته او نه حـق لـري. خپلـې ښـځې تـه به هر وخت وایي چې لـه پـردو نارینـه وو سـره اړیکـې ونـه سـاتې، خـو خپله به دی هر وخت د نورو په ښځو پسـې سـترګې لـه بیخـه را کـاږي؛ هدف مې دا نه دی چې خبره یې بده ده، اما عمـل یـې بـد دی. څـوک چې خپله یو څه کوي او قول یې بل شی وي نو د هغه خبره بـې تـاثیره وي او په دې هر کار که یـې میـرمن خبـره شـي، نـو هغـه بـه لـه مېـړه د انتقام په خاطر ناسم کارونه کوي او زموږ په کلي کې همداسې پیښـه شوې ده او خورا بد نتایج تر شا ایله کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (۲۰۱۸/ ۳/ ۱۰) تاریخ بي بي سي ماښامنۍ خپرونه کې له میرمنو سره د خشونت په اړه یو راپور وړاندي کړ. راپور کې راغلي چې په تېر (۱۳۹۶) کال کې تر دوه زره زیاتې د خشونت پیښې ثبت شوې دي چې (۲۷۷) یې د وژنې او قتل دي. په راپور کې راغلي چې (۸۵) فیصده میرمنو ورته ویلي چې په کورنو کې له مختلف النوع خشونت او زورونو سره مخ دي. را پور کې ویل شوي دي چې زیاتره د ښارونو میرمنې له دې حالت څخه پرده پورته کوي او د خپل ناوړه حالت چیغه باسي. دا په داسې حال کې چې زموږ لویه برخه وګړي په کلیو کې اوسي او د کلیو د میرمنو حالت به تر هغه هم ډېر زورونکی وي چې په ښارونو کې ژوند کوي. څکه ښاري کسان د کلیوالو په نسبت علم لري، اقتصاد یې ښه وي، میرمنې یې زدکړې کوي او تر یوه حده یې حقونو ته قایل وي؛ نو چې دلته دا حالت دی، په کلیو کې ایا څوک د میرمنو د حق یادونه هم کوي؟

پر همدې یاد تاریخ بیا بي بي سي په سهارنۍ خپرونه کې له فاریابه یو راپور در لود چې یوه لېور د ورور کونډه لومړی ځان ته نکاح کړې ده. خبریال ویل چې دا کس د طالبانو سیمه ییز قومندان هم دی. بیا یې له میرمنې سره د هغې د اولاد د میراث پر سره شخړه راغلې ده او میرمن یې په ډزو وژلې ده. دلته هغه څوک لومړی د میرمنو حقونه تر پښو لاندي کوي چې د اسلامي نظام په پار یې دا ۴۰ کاله توپک له اوږې نه دی ایښی. طالب د نظام پر سر جنګېږي، اما په خپل کور کې د خدای امر نه عملي کوي، د کونډې ازادي نه مني، د اولاد میراث یې نه ور کوي، د میرمنې د ژوند فیصله هم د هغوی په لاس کې ده؟!

زموږ په ټولنه کې د غلامۍ دوره پای ته نه ده رسېدلې. دلته د غلامۍ او مینځیتوب یوه بله بڼه رواج شوې ده. زموږ په کورونو کې قسم دی د یوې ناوي لپاره مېړه، خوسر، خواښې، لېور او ایندرور ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مشوره بوخت وي چې په کومو ډولونو خپلې را واده کړې ناوې ته اذیت ور کړي؟!

د انسانانو دغه ډول ژوند ته چې د غلامۍ نوم ور نه کړم نو د ازادي نوم ورته غوره دی؟! ایا زموږ په ټولنه کې له یو کس سره دا فکر سته چې میرمنې یو ازاد مخلوق دی او د خپلو کړنو په اړه خپله تصمیم نیولای شي؟ که یو فیصد هم خلګ دې ته چمتو نه وي، نو غلامې نور ښکر لري؟ زموږ په ټولنه کې چې لومړي ورځ نجلۍ پیدا کېږي او مور یې د ازادي او حقوقو په سلبولو بوختېږو بیا تر هغې ورځې چې له دې نړۍ کوچ کوي، نو ایا د غلامې دوره به هم تر دې ډېره بدتره او تیاره وه؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طلاق په شریعت او کلتور کې

دا خبره تر اوسه په انساني ټولنه کې منل شوی حقیقت دی چې هره ټولنه د هرې ایډیالوژۍ متون او نظریاتو ته د خپل کلتور او غوښتنو په عینکو کې ور ګوري. تعبیر یې د خپل کلتور، زمان و مکان او تقاضاو تابع وي.

د میرمنو په اړه موږ هم د اسلامې شریعت له متونو سره همداسې معامله کړې. د طلاق په اړه پښتنو کې له وخته دا تصور موجود وو چې ښه یې نه ګڼې راتلل. له دې امله دلته هغه تعبیر خلکو خورا خوښ کړ چې شریعت کې هم طلاق ابغض حلال دی. لاکن په نړۍ او خاصا زموږ پر شاوخوا دا حالت د چټک تغییر په حال کې دی او موږ هم باید نور پر خپل زوړ او ناسم کلتور د پاتېدا بې ځایه ټینګار ونه کړو. دا کلتور بدل کړو او له دې سره به په شریعت کې هم د ابغض حلال قضیه حل شي.

هغه روایات ډېر خوله پر خوله کېږي چې د طلاق له روا والي سره ابغض هم بولي. د خدای ناخوښ حلال یې ګڼي. په پښتنو کې له میرمنو سره د سلوک په اړه راپاته رواجونه زیاتره زموږ د هغه وخت کلتور دی چې لا دلته اسلام نه وو راغلی. کله چې اسلام راغی، نوپه دې برخه کې یې هم چندان د پام وړ بدلون را نه وست. ځکه د اسلام لومړي مبلغین جنګیالي وو او هغو د دې سیمې په ډېری خلګو اسلام په جبر ومانه؛ دوی درې اپشنه در لودل چې اسلام منل، جزیه ور کول او یا جنګ وو. له دې امله افغانان چې ښه ډېر وجنګېدل او اخیر یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسه پوره نه وه نود جزيې تر صورت يې د اسلام منل غوره وبلل او نوي دين ته له داخلېدو سره يې خپل ټول زاړه رواجونه هم وساتل.

د طلاق مسله دلته له وخته حساسه وه. زموږ په کلتور کې دا نه سته چې مېړه دي په اساني ميرمنې ته طلاق ور کړي. دا خبره د پښتنو په کلتور کې ډېره بده ده چې يو څوک دې ميرمنې ته طلاق ور کړي او هغه دې بيا هلته بل څوک وکړي. د ميرمنې کورنۍ سمدم بدۍ ته چمتو کېږي چې زموږ ښځه مو ولې طلاقه کړې ده؟ بد کار يې کړی او کنه ولي مو دا بدرنګي را واړوله؟ دلته ميرمنې ته طلاق ور کول يوازي په يوه صورت کې کېږي چې هغه زنا وکړي او نور که هر ډول ژوند وي څوک طلاق نه شي ور کولای.

زموږ په ټولنه کې دې رواج پر ميرمنو د خشونت په زياتولو کې مهم رول لوبولی. يوه ميرمن که هر څومره بد ژوند ولري، د طلاق غوښتنه نه شي کولای او يو مېړه که له ښځې هر ډول ناراضه هم وي، طلاق ته يې زړه نه کېږي. يو لورته خو زموږ خلګ بې وزلي دي، له دې امله هم طلاق ته نه مايل کېږي چې د بلې ميرمنې وس زياتره کسان نه لري.ماينه ځکه د طلاق يا خلعې غوښتنه نه شي کولای چې يو لورته په ټولنه کې خلګ پيغور ور کوي او بل ته يې ولور کورنۍ خوړلی وي او هغه څه مېړه ته نه شي ور کولای چې هغه خلع ور سره وکړي. بله خبره دا هم ده چې له وخته د جابر و ظالم کلتور له امله نارينه بيا ميرمنې په خپلو پاته اولادونو زوروي. مثلا: مېړه کله هم بيا اجازه نه ور کوي چې مور دې له خپلو زامنو سره وګوري، خپلې لور ته دې ور شي، يا دې اولادونه پوښتنه پر وکړي. له دې امله هم ميرمنې دا نه خوښوي چې له مېړه طلاقه شي.

يو بل شي دا هم دی چې طلاقه شوې ميرمن بيا بل څوک په اساني نه په نکاح کوي. ځکه فکر کېږي چې دا بدکاره ده، له دې امله لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېږه طلاقه کړې او که بل کس ور سره نکاح وکړي نو بیا به هم هغه خپل کار مخته وړي. زموږ په ټولنه کې میرمنې له اجتماعي کارونو ګوښه دي، له دې وجې نارینه په جنسي فقر اخته دي، همدا وجه ده چې د میرمنو په اړه یې لومړی سوچ او فکر له همدې ځایه سرچینه اخلي. خلګ دا فکر نه کوي چې په ژوند کې د مېړه او مایني ترمنځ یوازې د جنسي اړیکو خبره نه وي چې مشکل یې سره پیښ شي، بلکې ډېرې نورې خبرې هم شته چې امکان لري پر هغه د نه توافق له امله دې یو له بل څخه بیل شوي وي.

د طلاق په اړه دا تصور باید بدل شي. ځکه په داسې صورت کې چې مېړه او ماینه سمه ګوزاره نه شي سره کولای، ګڼ زیانونه هم ځانونو ته رسوي او هم ټولني ته. د کور ستونزه مېړه او ماینه په ژور خپګان اخته کوي، د کور د مصارفو په اړه ماینه فکر نه کوي ځکه له مېړه یې زړه مات وي او د هغه په ستوماني یې زړه نه دردېږي، اولادونه یې خشین او غیر نارمل را لوییږي، ګاونډی یې هر وخت له نارو او جنجالونو تنګېږي، کورنی چاپیریال هر وخت له خشونته ډک وي، یو پر بل باور ختم او ځای یې شکایتونه او شکونه ونیسي، راتلونکي میلمانه او خپلوان په کور کې د دې حالت په لیدو خپه کېږي او مېړه له مایني او ماینه له مېړه هر وخت شکایتونه کوي. تر دې ورهاخوا نور زیانونه یې هم شته.

که موږ دا رواج بدل کړو؛ نو یو لور ته به مو یاد زیانونه له منځه وړي وي او بل به مو انساني کرامت ته درناوی کړی وي. ځکه په نه طلاق کې مېړه او ماینه هر وخت یو د بل حقونه تر پښو لاندې کوي، که سره بیل شي؛ نو د دې کار مخنیوی به شوی وي. مګر دا په هغه صورت کې چې طلاقه شوې میرمن په ټولنه کې بده ونه ګڼله شي او بل کس له هر ډول زړه نازړه توب پرته نکاح ور سره وکړي، مېړه هم پر دې غیرت ونه کړي چې زما ښځه به دلته سیمه کې بل کس ته ناسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. مېږه او ماينه تر بيلېدا وروسته يو په بل پسې تخريب ونه کړي او هر يو خپل بيل ژوند ته ايله کړي چې ارام ژوند وکړي او خپله ځان ته مناسب ملګری پيدا کړي.

شريعت هم له هر ډول چون و چرا پرته د طلاق اجازه ور کړې او هيڅ ځای يې نه دي ويلي چې طلاق ابغض روا دی. ځکه دلته پاراډوکس رامنځته کېږي چې که يو شی روا وي، نو بيا ابغض ولې شي؟! لکه څنګه چې نکاح د انساني ټولنې د اړتيا له مخې روا شوې ده، دا په داسې حال کې چې پخوا انسانانو دا ښه نه بلله چې د کور ميرمن يې د بل کور کره ولاړه شي، ځکه به عربو نجونې ژوندۍ ښخولې. يوه قوم بل ته د خپلو ميرمنو له ور کولو ډېره کوله. زموږ په پښتنو کې اوس هم زياتره دوستۍ يوازې خپله پښتانه سره کوي او په تېره بيا هغه کسان چې سره نږدې وي، خپلوان وي او له وخته سره پېژني. زما يوه خورځه بلوڅ ته ود شوې ده. پلار مې خور ته ويل؛ بلوڅ ته مو نجلۍ ولې ور کوله؟ هغې ورته ويل، دا بلوڅ پښتو وايي او زموږ د هيواد دی. له دې ښکاري چې موږ لا د منځنيو پېړيو فکر نه دی ايله کړی او تر اوسه هم په دې فکر کې يو.

له دې امله طلاق هم د انسانانو مجبوريت دی، شريعت له دې وجې جواز ور کړی. نکاح چې د مجبوريت له کبله د ثواب وړ بلل شوې، طلاق هم بايد له دې جهته چې انساني حقونه کې خوندي کېږي او يو کس(د هغه په فکر) د ناوړه ملګري له ملګري خلاصېږي او کولای شي بل وړ کس ځان ته پيدا کړي، د ډېر ثواب کار بايد وګڼل شي. دلته به هغه روايت هم را نقل کړم چې زموږ د ذهنيت موافق راغلی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ مُعَرِّفِ بْنِ وَاصِلٍ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَبْغَضُ الْحَلَالِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى الطَّلَاقُ» (سنن ابي داؤد، کتاب الطلاق، باب في كراهية الطلاق: ۲۱۷۸)

ژباړه: ابن عمر رض له رسول الله ص څخه نقل کړی چې ویل یې: په حلالو کې ناخوښ الله تعالی ته طلاق دی.

امام الباني په ارواء الغليل کې تر همدې روایت لاندې لیکي:

وجملة القول: أن الحديث رواه عن معرف بن واصل أربعة من الثقات , وهم: مُحَمَّد ابن خالد (الواهبى), وأحمد بن يونس , ووكيع بن الجراح , ويحيى بن بكير.وقد اختلفوا عليه , فالأول منهم رواه عنه عن محارب بن دثار عن ابن عمر مرفوعا وقال الآخرون: عنه عن محارب مرسلا.ولا يشك عالم بالحديث أن رواية هؤلاء أرجح , لأنهم أكثر عددا , وأتقن حفظا , فإنهم جميعا ممن احتج به الشيخان فى " صحيحيهما " , فلا جرم أن رجح الإرسال ابن أبى حاتم عن أبيه كما تقدم , وكذلك رجحه الدارقطنى فى " العلل " والبيهقى كما قال الحافظ فى " التلخيص " (۲۰۵/۳) وقال الخطابى وتبعه المنذرى فى " مختصر السنن " (۹۲/۳) : " والمشهور فيه المرسل ".لا يقال: قد رواه عن محارب به موصلا عبيد الله بن الوليد الوصافى , فهو يقوى أن الحديث موصول.لأننا نقول: قد مضى عن ابن عدى أن الوصافى هذا ضعيف جدا , فلا يتقوى به كما هو مقرر فى " علم المصطلح ".

ژباړه: لنډه دا چې له معرف بن واصل څخه روایت څلورو باوري کسانو کړی(محمد بن خالد واهبي، احمد بن یونس، وکیع بن جراح او یحیی بن بکیر) دوی بیا له ده په روایت کې اختلاف کړی. د دوی لومړي له واصله هغه له محاربه او هغه له ابن عمره مرفوع روایت کړی. دا نورو بیا له ده او هغه له محاربه مرسل روایت کړی. په حدیثو عالم کس شک نه کوي چې د دوی روایت ترې ډېره ترجیح لري. ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د شمیر له مخې زیات دي، ساتنه یې ډېره باوري ده او ټول هغه دي چې بخاري او مسلم په خپلو کتابونو کې روایات ځنې نقل کړي. مخکې مو وویل چې په دې کې شک نه شته چې ابن ابي حاتم له خپل پلاره په روایت کې ارسال ته ترجیح ور کړې. همداشان دارقطني په (العلل) کې ترجیح ور کړې او بیهقي هم ویلي، لکه چې ابن حجر په التلخیص کې یادونه کړې. خطابي هم په مختصر السنن کې ویلي دي چې منذري یې تایید کړی: په دې روایت کې مشهور یې مرسل دی. دا نیوکه دې نه کېږي چې دا روایت خو له محارب څخه عبید الله بن ولید الوصافي موصول نقل کړی؛ په دې سره د موصول احتمال قوي کېږي؟ ځکه موږ مخکې وویل چې هغه ډېر ضعیف دی، د علوم الحدیث له مخې د دې درجې په راویانو قووت نه شي راتلای.

له دې ښکاره شوه چې روایت د سند له مخې کره نه دی، په متن کې یې هم مشکلات شته. قران کریم طلاق ته له دې قیدونو پرته جواز ور کړی او خپله د روایت د متن ترمنځ هم پاراډوکس موجود دی. یو لورته حلال دی او بل لور ته خدای ته بې ډېر ناخوښه او ابغض دی؟!

ابن عباس رض روایت کړی چې د ثابت بن قیس میرمن رسول الله ته راغله او له هغه څخه یې د طلاق غوښتنه ورته وړاندې کړه. رسول الله د ولور په بیرته ور کولو هغه ته امر وکړ چې میرمنې ته دې یو طلاق ور کړه. (بخاري، کتاب الطلاق، باب الخلع و کیف الطلاق فیه: ۵۲۷۳)

انس بن سیرین له ابن عمره رض نقل کړی چې ده ویل، میرمنې ته مې په حیض کې طلاق ور کړ، رسول الله تر خبرېدا وروسته امر وکړ چې بیرته رجوع ورته وکړم.(بخاري، کتاب الطلاق باب اذا طلقت الحائض تعتد بذلک الطلاق: ۵۲۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې روایاتو ښکاره شوه چې د رسول الله په زمانه کې طلاق بد کار نه وو، خو په حیض کې طلاق ور کول ناسم عمل دی. ځکه بیا یې د عدې موده ناسمه راځي. هغه مهال هم میرمنو د ځینو لاملونو له وجې خلعه کوله او کله بیا مېړه طلاق ور کاوه. په هیڅ صورت کې هم دا بد کار نه بلل کېده او د یوه مجبوریت په توګه شریعت منلی دی.

## درې طلاقه، شرعي جنبه او کلتوري ستونزې

### د طلاق پېژندنه:

طلاق د طلق مصدر دی. لغوي مانا یې خوشي کول دي. عرب وایي: طلق الرجل زوجته تطلیقا. یاني سړي خپله میرمن ایله کړه. اطلقتُ الاسیر. بندي مې خوشي کړ. حُبِس فلان فی السجن طُلُقاً، مانا په زندان کې زولنه نه دی.(۱)

لغوي مانا؛ په فقهي یا شرعي مانا کې هم راغلې: رفع قید النکاح بلفظ مخصوص. یاني په خاص لفظ د نکاح قید ختمول، د طلاق فقهي مانا ده.(۲)

### د طلاق شرعي او کلتوري اړخ:

قران کریم د الطلاق په نوم یو سورت لري. دې سورت کې د طلاق احکام بیان شوي، که څه هم نورو سورتونو کې هم د طلاق پر مسلې بحث شوی دی خو دا سورت یې لکه څنګه چې په نوم دی همداسې یې ځانګړي احکام هم ذکر کړي دي.

د طلاق له شرعي صبغې څوک انکار نه کوي او دا بیخي هر کس ته جوت دی. د کلتور قید مې ځکه ور سره ایښی چې له شریعت څخه په تعبیر کې ځانګړی کلتور خپل اغیز لري. د طلاق مسله هم له دې اغیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه خوندي نه ده. زمونږ په ټولنه کې میرمنې ته طلاق ور کول ډېر مشکل کار دی او په عربي جامعه کې یو عام رواج دی. له دې ښکاري چې د طلاق پر مسله هر کلتور خپل اغیز کړی دی.

فقهاؤ د طلاق په اړه خورا ډېر بحثونه کړي دي. زه دلته د طلاق پر ټولو ډولونو، بعدونو او اړخونو بحث نه کوم. یوازي درې طلاقه را اخلم چې اوس یې موضوع ډېره مهمه ده. خصوصا زمونږ په ټولنه کې له دې ځخه ځینې مشکلات پېښ شوي دي.

درې طلاقه:

په دې اړه د اصحابو له زمانې بیا ترننه اختلافات موجود دي. حتا د یوه کس په اړه هم مختلف روایات شته چې کله یې یوه فتوا ورکړې او کله بله. مثلا: له ابن عباسه مسلم روایت کړی چې درې طلاقه د رسول الله، ابو بکر او د عمر په لومړي وخت کې یو طلاق بلل کېدل(ځیني ظاهریان او نور علماء اوس هم په دې اند دي)، مګر وروسته عمر(رض) درې کړل. د عمر رض له دې عمل ځخه جمهورو علماؤ استدلال کړی او د زیاتره علماؤ منهج همداسې دی.

امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، علي، په یوه قول کې ابن عباس، ابو هریره، ابن عمر، عبد الله بن عمرو بن العاص، ابن مسعود، انس او زیاتره تابعین و ائمه په همدې اند دي. د امام قرطبي په وینا: اتفق ائمة الفتوی علی لزوم ایقاع الثلاث فی کلمة واحدة. د فتوا وړ امامان پر دې متفق دي چې په یو کلمه درې طلاقه واقع کېږي.(٣)

د جمهورو علماؤ دلیل دادی چې که راوي له خپله روایته مخالفه فتوا ور کړه نو ګواکي هغه خپله روایت ته اعتنا نه کوي ځکه نو د اعتبار وړ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا شان طاؤوس، عطاء، جابر ځینې نور متقدمین اوله متاخرینو ابن تیمیه او ابن قیم په همدې اند دي.(۴)

درېیم قول دا دی چې که له میرمنې سره جنسي اړیکې نه وې نیول شوې، پر یوه ځای درې طلاقه یې درې بلل کېږي او که دخول په شوی وي بیا نه واقع کېږي. په دې رایه کې د ابن عباس یو څه ملګري، اسحاق بن راهویه، حسن بصري، عطاء، جابر بن زید او ابن حزم سره متفق دي.(۵)

زه نه غواړم په دې اختلافاتو کي ور ګډ شم، هر چا د خپل موقف په اړه دلایل ذکر کړي او دا مقاله یې د تفصیل، تشریح او شننې ځای نه دی. زه یوازي غواړم له دې طلاق څخه پر  را پیښو ستونزو خبره وکړم. په دې اړه د شرعي نصوصو په رڼا کې خپل موقف روښانول غواړم چې که د اړتیا له مخې یې نن علماء ومني نو په دې اړه چي عوام له کومو ستونزو سره مخ دي هغه به یې تر یوه حده اوار کړي وي.

زه خپله په دې اند یم چي پر یوه ځای درې طلاقه ور کول له اسلامې طریقې سره مخالف عمل دی، له ماسره په دې خبره کې زما د مالوماتو له مخې هیڅ مسلمان هم اختلاف نه لري. دا موقف مې د قران د دې وینا له مخې خپل کړی:

الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ (البقره: ۲۲۹)

ژباړه: طلاق دوه ځله دی(تر دې وروسته) نو یا له رواج سره سم یې رانیول دي یا هم په ښه ډول ایله کول.

د ایت مطلب دا دی چې که یو څوک میرمنې ته یو طلاق ور کړي، بیا بل وخت بل ور کړي، نو تر دې هرو دوو وروسته د رجوع اختیار لري، مګر درېیم وار خبره فیصلې ته درېږي. یا به له میرنې سره سم ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي یا به د درېیم طلاق په ور کولو هغه خپلې مخې ته خوشې کوي. احسان همدا دی چې میرمنې ته د هغې د ځان په اړه واک ور کول شي، ځکه د نکاح په وسیله مېړه تر دې ځای له میرمنې سره د یو ځای اوسېدو شرعي جواز در لود، کله چې درېیم ځل طلاق واقع شي نو بیا هغه مجوز ختمېږي او مابنه خپل اختیار ته پاته شوه. ځکه تر طلاق وروسته مېړه او میرمن دواړه د ځان واک لري او که یې خوښه شي او شرعي مانع وجود ونه لري، کولای شي چې بیا هم واده سره وکړي. قران کریم وایي:

وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا (البقره: ۲۲۸)

ژباړه: او د میرمنو خپل مېړونه له دوی سره د نکاح (تر نورو) حقدار دي که مېړه او ماینې د سمون اراده کړې وه.

له دې ایت څخه مالومه شوه چې طلاقه شوې میرمن د مېړه په انتخاب کې حق لري او هیڅوک یې دا حق د شریعت له مخې نه شي ترې اخیستی. اما که درې طلاقه یې ور کړي وي، بیا په قران کریم وایي:

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ (البقره: ۲۳۰)

ژباړه: نو که یې درېیم ځل طلاقه کړه، بیا تر هغو مېړه ته روا نه ده څو له بل مېړه سره نکاح ونه کړي، که یې طلاقه کړه بیا د الهي حدودو په مرعاتولو یې بیرته یو بل ته د رجوع اراده در لوده؛ نو پر یوه هم ګنا نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه بیان دی چې که میرمنې ته درې طلاقه ور کړل شي، اما که یو کس یو طلاق ور کړی وي، هغوی که عده یې ووزي بیرته نوې نکاح سره کولای شي. خو دلته یو شرط دی چې ځو بل مېړه نکاح ور سره ونه کړي تر هغو یې لومړی مېړه نه شي نکاح کولای.

اما دا فهم چې ځینې خلګ د دې مسلې د حل لپاره حلاله روا کوي، بیخي ناسم فهم دی. قران هیڅکله دا جواز نه دی ور کړی، د اهل سنت علماء پر دې متفق دي چې په نکاح کې به د ټاکلې مودې شرط نه وي، نکاح د یوه ساعت لپاره نه وي او نه د دې لپاره کېږي چې میرمن بل ته حلاله کړي. دا ټول کارونه د نکاح له هدف سره ټکر دي. بل لور ته په حلاله کې له میرمنې د هغې واک سلبېږي، د عدې تیرولو ته نه ایله کېږي، مهر نه ور کول کېږي او له دویم مېړه تر طلاق وروسته بیا عدې ته نه ایله کېږي سمدستي یې بیرته اول مېړه په نکاح کوي. دا په هیڅ مذهب کې روا نه دي او نه د شریعت هیڅ نص د دې حرام کار جواز ور کړی دی. په دې ځای کې جرم میرمنې نه دی کړی، بلکې مېړه کړی دی او سزا یې د نرواکې ټولنې دیني زورواکي میرمنې ته ور کوي. د هغه فکر له مخې چې درې طلاقه یوځای درې شمېري، نو بیا ښځه باندي حلاله کول داسې دي لکه څوک چې پردۍ میرمن راونیسي او په زور یې ځان ته نکاح کړي بیا ورسره جنسي اړیکې ونیسي؛ دلته به یا درې طلاقه واقع وي یا نه؛ که نه وي واقع خو هیڅ شي ته اړتیا نه شته او یوازي رجوع غواړي، که واقع وي نو ښځه له مېړه څخه جلا شوه او په هیڅ صورت نور د هغه واک نه پر چلېږي، میرمن واک لري چې هر څوک په خپله خوښه مېړه کوي د هغې خوښه ده څوک یې مجبورولای نه شي، اما د حلالې په مسله کې دې یوې خبرې ته هم پام نه کېږي.

اصلا طلاق په انساني ټولنه کې د اړتیا له مخې رواشوی دی. کله په ژوند کې داسې وخت راځي چې باید مېړه او میرمن سره جلا شي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې لپاره یې د طلاق یا خلعې دروازه خلاصه کړې ده. د دې شرعي طریقه داسې ده چې لومړی به په طهر کې یو طلاق ور کول کېږي، درې طهره که مېره پر همدې طلاق صبر وکړ مېرمنې ته یې رجوع ونه کړه نو هغه طلاقه شوه او دویم ځل رواوالی به یې په نوې نکاح او رضا وي. د قران کریم په لوړو ایاتونو کې همدا خبره ذکر شوې ده. مېړه او میرمن باید د دې ستړې پریکړې لپاره وخت ولري چې فکر پکې وکړي. ځکه طلاق یوه درسته کورنۍ سره بیلوي. په دې وخت کې اړتیا ده چې مېړه او میرمن دواړه فکر وکړي، که یو بل ته یې معافي سره وکړه او د سم ژوند اراده یې وکړه نو به مهلت لري چې بیرته له کوم مشکل پرته نوی ژوند شروع کړي.

مګر که یو څوک په غلطي درې طلاقه ورته ووایي او دا پسې نافذ هم شي، نو بیا د فکر وخت له منځه ولاړ او په شریعت کې چې د کوم هدف لپاره د طلاق مسنونه طریقه مشروع شوې او ما لوړه بیان کړه د هغې هدف له منځه ځي. یوه کورنۍ له څه فکر پرته دړې وړې کېږي، ایینده ژوند کې هم ښځه له مشکل سره مخېږي او هم مېړه. دویمه خبره دا ده چې ټول اهل سنت پر دې متفق دي چې دا درې طلاقه پر یوه ځای بد عت دی، یاني شرعي صبغه نه لري؛ مګر بیا هم نافذېږي، دا نو جالبه ده چې یو شی دې په دین و شریعت کې مخینه ونه لري خو د یوه شرعي حکم ځای دي ونیسي؟!

د قران کریم د دې لوړو ایاتونو په تایید کې مسلم له ابن عباس(رض) څخه روایات هم نقل کړي چې قرانکریم ته د نژدېکت له امله یې مور د استدال وړ بولو او هغه موقف یې نه شو تاییدولای چې ده بیرته د خپل روایت خلاف فتوا ور کوله. قران کریم ته په کتو د ابن عباس د مسلم روایات صحیح دي او په دې اړه هغه روایات هم لاسوند کېدای شي چې درې طلاقه یو ځای بدعت بولي، سنت دادی چې یا یو طلاق ور کړل شي درې حیضه ورته انتظار وشي یا هم په هر طهر کې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلاق ور کړل شي اما يو ځای يې ور کول بدعت دي. که يې بيرته سره خوښه شوه نو درې مياشتې په واک کې لري چې خپل ژوند سره پيل کړي او کوم مشکل به يې په وړاندې خنډ هم نه وي.

زموږ په ټولنه کې خلک غريبان دي، اما خشونت هم پکې زيات دی. له مختلفو لاملونو خشونت پکې ډېرې ريښې زغلولې دي، خلک په کورنيو کې ژر غوسه کېږي او که د درې طلاق خبره يې تر خوله ووزي نو هم د نارينه ژوند تبا کېږي او هم د ميرمنې. ځکه زموږ په ټولنه کې طلاقه شوې ميرمن خلک دويم وار ډېره په سختنه د ميرمنې په توګه مني. د همدې لپاره اړينه ده چې زموږ علماء د دې وخت غوښتنه درک کړي او دا فيصله د اسلام له روح سره برابره کړي. خلګو ته د فکر وخت ور کړي، د بدعت پر طريقه د طلاق واقع کېدل رد کړي او دا يې بدعت وبولي او پر ميرمن و نارينه دواړو زړسوی وکړي. د کورنۍ خرابي پر ټولنه هم بد تاثير کوي، له دې امله لازمې ده چې نور د وخت غوښتنې درک کړل شي او د خلګو ستونزو ته په کتو فقهي مسلې تجديد کړای شي.

۱) المصباح المنير:۲/ ۵۱۴.

۲) فتح القدير د ابن الهمام: ۳/ ۳۲۵.

۳)فتح الباري: ۳/ ۳۶۳.

۴)الفتاوی الکبری: ۳۳/ ۸، نيل الاوطار: ۷/ ۱۶.

۵)فتح القدير: ۳/ ۳۴۲، المحلی: ۱۰/ ۱۷۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنسي اړیکو په اړه د ناوې او مېړه ناخبري

زما د میرمنې یو ورور دی. ماته یې د خپل واده کیسه کوله. د واده په ورځ یې د لیسې ازموینې وې. سهار په خره بازار ته تللی وو او هغه وخت بیا کورته راغلی وو چې ورا د واده لپاره د هغه د خوسر کور ته روانېده او تر شل ګنښته یې ده ته زیات ټلیفون کړی وو چې ژر راسه ټول تاته انتظار یو.

ده ویل، له بازاره په تاخته راغلم، ځان مې ومینځی او کالي مې په غاړه کړل او له پوره ستومانۍ سره په ورا کې ور سره ولاړم. واده وشو او زه یې د یوې افغانۍ په خوند قسم دی که پوه شوی یم. تر دې ډېره بده لا دا وه چې ویل یې، شپږ میاشتې په دې ولاکه پوهېدم چې په میرمن نو یو څوک څه کوي؟!

ده ویل، یو وخت چې د نارینه او میرمنې ترمنځ په اړیکو لږ پوه شوم بیا مې میرمن نه پرې پوهېده او د هغې راضي کول یو بل غم وو. خو تر دې ټولو وروسته لا هم هغه نه پوهېدی چې له دې کار څخه مو اولاد پیدا کېږي، د میرمنې په غوښتنو نه پوهېدی، د اولاد د نه راوړلو په چم بیخي خبر نه وو.

نو زموږ خلګ په داسې یوه حالت کې واده ته خوشاله وي. زموږ لویه برخه زومان د واده په خبرو، کیسو، تصامیمو او کارونو په اړه شرمېږي. دا خپله د دې ثبوت دی چې موږ تر پوهاوي مخکې واده کوو. موږ که په دې ځانونه لومړی پوه کړو چې واده د ژوند یوه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیا ده چې هیڅ انسان هم ترې مستثنا نه دی، نو بیا راته د شرم او عار خبره نه مالومېږي چې په اړه یې خپله فکر وکړو، تصمیم ونیسو، له خپلوانو سره سلا مشورې وکړو، خپله میرمن د ځینو ځانګړنو له مخې انتخاب کړو او هغه له خپلو قریبانو سره شریک کړو چې زه دغسې یوه میرمن غواړم او په دې صفاتو پوره یوه میرمن ماته د پلانې، لور، خور، خورځه او ... ښکاري.

موږ چې کله زوی ته کوزده کوو، نو هغه دا مهال د کوزدې په نوم شرمېږي. په هغه مجلس کې کله هم نه کېني چې د هغه د کوزدې په اړه خبرې پکې کېږي. موږ دې ته نه ګورو چې لور یا زوی مې په ذهني او فزیکې لحاظ څومره دې کار ته چمتو دی؟ زما مالي حالت څومره دا کار براداشت کولای شي؟ زوی مې څه کار کوي، څومره لاس ته راوړنې لري، سبا خپله میرمن ساتلای شي او کنه؟ له دې سره ټولي تړلې پوښتنې مو یوه هم ذهن ته نه راځي، بس یوازې دې ته خوشاله یو چې زوی یا لور ته مې کوزده وکړه. لور خو یوه وسیله ده چې د ځان ساتلو لپاره یې له ولور څخه استفاده کوو، خو زوی که د لور په شان دغسې یوه وسیله نه ده، مګر موږ د خپلې ناخبرې له امله وسیله کړی دی او له دې ستر کار څخه مو یو ریشخند اوس جوړ کړی.

زموږ ډېری کسان له میرمنو سره د اړیکو په اړه یوازې دومره پوهېږي چې له میرمنې نارینه جنسي خوند تر لاسه کوي. له دې پرته نور هیڅ نه پوهېږي. زموږ داسې یوه جامده ټولنه ده چې یو څوک که د پوهاوي هڅه وکړي نو خلګ یې پیغور ور کوي. زما په یاد دي. یوه ورځ د کوټې په رشیدیه کتابخانه کې له شهید مولانا سره ولاړ وم. هغه د جنسې اړیکو په اړه یو کتاب را واخیست او مطالب یې کتل. دا مهال هغه واده نه وو کړی. دا وخت یې د میرمنې ورور محمد عمر جان اخوندزاده راغی. تر روغبړ وروسته یې د هغه له لاسه کتاب واخیست. کله چې یې د کتاب پر نوم سترګې ولګېدې، نو سمدستي یې وویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه کوې؟ ایله که دا نو اوس د کتو دی؟ دا مهال یې خندل هم او زه و مولانا دواړه یې یو ډول خیجل کړو.

له ژوند سره تړلې دومره یوه مهمه موضوع موږ دا ډول صرف نظر کوو؟ اخوندزاده چې تجربه کار کس وو موږ باید دې موضوع ته تشویق کړي وای. مګر له بده مرغه چې د تشویق پر ځای یې زړه نازړه کړو.

زیاتره مېړونه د میرمنو په اړه صفر مالومات لري. په دې نه دي خبر چې میرمن هم دنارینه په شان له دې اړیکو خوند اخلي. په دې نه پوهېږي چې مېرمنې د نارینه په شان ژر نه راپارېږي، بلکې تر جماع مخې باید شل دقیقې یا هم نیم ساعت له هغه سره ساتیري ته اړتیا ده. نارینه د ځان کنټرولولو هیڅ چل نه زدکوي. کله چې میرمنې ته ورنژدې شي، نو په ۵ دقیقو کې انزال شي او میرمن یې له کاره خوند وانخلي او همداسې له پیله د دې کار په اړه له ځان سره بد تصور واخلي.

له میرمنې مچې اخیستل، تیانو ته لاس ور وړل، په کوناټو ګوتې ور وهل، سوکه سوکه د هغې کوناټي، تیان، مټان، ملا او نس په چکو وهل او لاس پر تېرول به میرمنې ته څومره خوند ور کوي؟ خو زموږ مېړونه ترې ناخبره دي. د میرمنې د اندامونو، ښایست، له دې سره د اړیکو نیولو، خبرو، مجلس یې او دارنګه د کار او کتغ و خوراک صفت یې کول هغه لیونۍ کوي او مېړه پر ګرانېږي، خو زموږ ځوانان په دې کم پوهېږي.

زموږ د کلي یوه ځوان راته کیسه کوله چې د پلاني زوی پلانی وایي چې زه له میرمنې سره د کار مهال د هغې لاسونه ټینګ وتړم ځکه هغه له ما سره په خوښه کار نه کوي. نو زه هغه لومړی وتړم، بیا یې لڅه کړم او تر کار وروسته یې خلاصه کړم او زه ځنې بیده سم. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمن به نو د جنسي اړیکو په اړه څه تصور لري؟ د نارینه او مېږه په اړه به څه فکر کوي؟ له دا ډول جنسي اړیکو به څه خوند اخلي؟

یو وخت مو د سمون په نوم یو ویبسایټ درلود. د پوښتنو او ځوابونو برخې ته یې دوو میرمنو لیکونه را لېږلي وو چې یوې د اړیکو مهال د ټول بدن د لڅوالي په اړه پوښتنه کوله. لیکلي یې وو چې زما مېړه مې د اړیکو مهال ټوله لڅه کړي، دا کار خو به شرعا حرام نه وي؟ دې ته فکر نه کوي چې مېړه که ستا خاص اندامونه لڅ نه کړي، نو کار څنګه وکړي؟ دا هم نه ګوري چې له مېړه سره د کار مهال خو بل هیڅوک هم نه وي، نو که د فرج ښکارول روا وي د نور بدن ښکارول به ولې ناسم کار وي؟ د اړیکو مهال که مېړه ته ټول بدن ښکاره نه وي، نو مېړه له اړیکو سم خوند نه شي اخیستی. دا کار باید لومړی خپله میرمنې کولای چې ټول بدن یې ورته ښکارولای او له دې کاره یې خپله خوند اخیستای. مګر زموږ میرمنې ناخبره دي. د جنسي اړیکو په اړه نه پوهېږي. ډول او کیفیت یې ور مالوم نه دی.

یوې بلې میرمنې لیکلي وو چې تر واده مخکې مې د ماما له زوی سره ناسم کار کړی. پرده مې پرېده مېړه ته به څه ځواب ور کوم. که دا میرمن په دې اړه لېږ هم پوهېدای نو پوښتنه یې نه کوله. ځکه د بکارت پرده یوازي په جنسي اړیکو له منځه نه ځي، ډېر نور لاملونه هم د دې سبب کېږي چې د بکارت پرده له منځه یوسي او د سوال و پوښتنې ځای مېړه ته نه پیدا کېږي چې یوازي له دې امله پر خپله میرمن بدګومانه شي.

زما یوه ملګري په فیسبوک د جنسي اړیکو په اړه یو پیج جوړ کړی وو. هغه قسم کاوه چې شناخته خلګ له ډېرو عادي ستونزو کړېدل او له ما به یې د حل غوښتنه کوله. ده ویل، زه پوه شوم چې په دې اړه زموږ ټولنه له څومره ستونزو سره مخ ده. خو بیا یې هغه پاڼه له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله بنده کړه چې شناخته کسانو هغه نه پېژندی او خپل پټ رازونه یې ورته میسج کول او ده نه غوښتل چې د ملګرو په پټو رازونو خبر شي.

زموږ د ټولنې دا شرم دي ورک شي چې له دومره حساسې مسلې یې خلګ ناخبره ساتلي دي. له دې ناخبرۍ زموږ میرمنې او نارینه په خدای له سلو مرضونو، ستونزو او مشکلاتو سره مخ دي. د زیاتو ودونو یو لوی لامل همدا ناخبري ده. له خپلې میرمنې د خوند نه اخیستلو یو لوی علت همدا ناپوهاوی دی. میرمنې چې مو په دې اړیکو کې فعاله ونډه نه اخلي لامل یې همدا جهالت دی. د زیاتو اولادونو ستونزه له همدې ځایه را پېښه ده. داسې که یې شمار کړم نو لیست به یې خورا پراخ شي. زه په سل فیصده باور وایم چې زموږ د کلیو لویه برخه کسان په دې اړه پوهاوی نه لري او په ژوند کې ارو مرو له یو نه یو ډول ستونزو سره مخېږي چې که لېږ پوهه هم ولري نو حل یې خپله کولای شي، مګر د جهالت دې کور وران شي چې زموږ خلګ له عادي ستونزو سره مخ وي او داسې یې د ژوند خوند ځنې تروږلی وي لکه سترو مشکلاتو چې را چاپیر کړي وي.

## ښځه د ولور په مقابل کې

زما یو اخښی دی. مشره لور یې ډېره ذهینه، ښایسته او په خبره پوه وه. ما ته به یې هر وخت ویل چې زه د لور ولور نه خورم. ستا خورځه ده چې ځونه ښه ځای دې ورته خوښ وي هلته یې ور کړه. ما د هغې او خپلې خور په خوښه یو ځای ورته انتخاب کړ. خبره فاینل ته نژدې وه چې ده د شپې په ټلیفون باندي یوه کس ته پر بن ور کړې وه. د هغه کس لس لکه کالداري زما پر اخښي پور وې، د هماغه پور د ورکړې پر ځای یې لور ور کړه. هغه کس چې د لور ولور یې نه غوښتی اخیر یې کابو ۱۵ لکه کالداري ولور وخوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د خور زوی په خپل کلي کې کوزده وکړه. تر کوزدې وروسته ایران ته ولاړ چې د خپلې ښځې اته لکه ولور ور کړي. په دې کې درې کاله تیر شول او د هغه هلک لاسونه د بیل لاستي او پردو مزدریو وخوړل. د میرمنې ولور یې ټول اکا واخیستی او یوه روپي یې هم نه نجلۍ ته ور کړې او نه یې ورته معاف کړې ده.

زما ماما دی. یو وخت چې مې مور ژوندۍ وه او کوزده مې نه وه شوې. زمور کره راغی. مور ته یې ویل، زوی ته ې لور در کوم. مور مې ماته سوکه تر غوږ راتېره کړه چې پلانۍ وایي، لور در کوم. ما لنډ ځواب ور کړ چې زه په خپلوانو کې دوستي نه کوم. د دې ځواب تر لاسه کولو وروسته د بلې خور کره ولاړ او هلته یې په نغدو شپږ لکه کالدارو لور ور کړه چې د واده او کور ټول مصارف یې زما د خاله پر زامنو ایښي وو.

دا یې مشت نمونه خروار دی. زمور د خلګو داسې فکر جوړ شوی چې څومره ولور لوړ وي هومره د میرمنې ارزښت ور سره زیاتېږي. بل لور ته فقر ځپلي یو او د لور و خور په ولور ځانونه ژوندي ساتو چې له لورې مړه نه شو. داسې خلګ مې لیدلي چې پورونه یې د لور یا خور ولور ته ساتلي وي. کله چې دا زهر زقوم تر لاسه کړي نو د پوروړو غاړې خلاصوي. جهالت پر ټولنه حاکم دی، له دې امله هم څوک پر دې فکر نه دی کړی چې دومره ولور اخیستل خو د خپل زوم او لور کور په لوی لاس ورانول دي. نه دې ته چا پام کړی که زه نن لور په دومره ډېرو روپو ور کړم نو سبا زما نمبر هم دی. که نن ښځه واده کوم نو سبا مې د زوی یا ورور وار دی چې هلته به ما هم له حلالو خلاص کړي. که په ټولنه کې هوښیار او د پیښو پر نتایجو غور کونکي انسانان زیات وای نو نن به مو ټولنه له داسې مصیبتونو څخه نه کړېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ له کلي په دې لنډ وخت کې څو نجونې له ځوانانو سره وتښتېدې. مشران شکایت کوي چې همجنسي بازي زیاته شوېده. پلرونه شکایت کوي چې زامن مو په خوله نه کوي او زموږ له اجازې پرته یا طالب ته تښتي، یا عسکرو ته، یا خارج ته ځي یا نورو ناسمو کارونو ته مخه کوي چې په لیست کې یې نشې هم راځي.

دلته فکر نه کېږي چې د دې ټولو بدیو یو لوی عامل دا جګ ولورونه دي. یو هلک چې لس لکه کالداري نه لري، نو واده په څه شي وکړي؟ هغه زړه لري، خواهشات لري، همزوليویني، نجونې ګوري، په انساني چاپیریال کې اوسي، لازمې ده چې د دې ستونزې یو حل را وباسي. یوه لار دا ده چې هلک نجلۍ په خپله خوښه وتښتوي. بل راولاړېږي او حللار یې دا بولي چې همجنسي بازي شروع کوي. درېیم دا دواړه کارونه سم نه بولي. ځکه خلګ یې په ټولنه کې په ښه نوم نه یادوي. له دې امله نو د ثروت لپاره د طالب لیکو ته پنا وړي. بل بیا عسکرو ته ځان رسوي(که څه هم د پوځ، عسکرو او ملي امنیت لیکو ته به د هیواد ځوانان د ملي خدمت په فکر راتلل نه د مادي ګټو په خاطر، البته مادي ګټې به د هغه ملي او پراخ فکر تر څنګ یو ضمنی شی وای). د سوله ییز فکر یو خاوند بیا دا نه خوښوي، خو د مزدروۍ لپاره کوښښ کوي او په دې لړ کې اخیر مجبور شي چې له وطنه خارج ته ولاړ شي. ځکه دلته جنګ جګړو هره څه له منځه وړي او د کار و زیار هیڅ نه دي پاته. داسې کسان هم کم نه دي چې نه هغه کوي او نه دغه. له دیغت او زړه تنګي څخه باندارونو او میلو ته پنا وړي. دلته له دونیا د ناخبري لپاره نشې کوي. اخیر په نشو روږدیږي او په دې لار کې خپل ژوند له سختو خطرونو سره مخوي.

که زموږ پر مشرانو د خپلې ټولنې غړي ګران وي، نو د ولور له ستونزو دې ځوانان خلاص کړي. د ولور ټوله قضیه دې مېږه او ښځه ترخپل منځ حل کړي. هیڅ میرمن نغواړي چې د دې مېړه د ولور لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تکلیف شي، البته که هغې غریبې ته واک ور کړل شي. د دې لپاره چې یادې ستونزې ورکې یا کمې شي، نو یو وړاندیز دا دی چې ولور د مېړه او میرمنې خوښې ته ایله کړل شي. بل دا دی چې ټول قومې مشران دې یو تړون سره وکړي او د ولور لپاره دې یو داسې حد مالوم کړي چې د ټولنې زیاتره کسان یې تر پیټې لاندې د ولاړېدو توان ولري. دا کار به یې هم پر ځانو د شفقت په مانا وي او هم پر نوي نسل. پلرونه به هم له زیاتو مشکلاتو خلاص شي او ځوانان به هم د ولور لپاره د خارج د مزدوریو، طالبي لیکو ته د پنا وړلو، عسکرو ته د ځان رسولو،(دلته باید یوه یادونه وکړم چې عسکری ته لومړی د وطن بچی د هیواد او خلګو د خدمت په موخه باید راسې نه دا چې ولور وګټي، ځکه مې نو دلته یادونه وکړه) نشو کولو او نورو ناسمو کړنو فکرونه ایله کړي.

هره ستونزه په ژوند کې یو حل لري. ستونزه له اسمانه نه را نازلېږي. بلکې خپله انسانان یې مواد پیدا کوي، لاملونه یې پنځوي، کونکې یې خپله انسانان وي. له ستونزو د وتلو لار دا نه ده چې یا بې تفاوته پاته شو یا ژوند له دې ستونزو سره مل وبولو او د حل پر ځای یې په خپل ژوند کې په خوښوي وزغمو. ستونزې وړې وي او که غټې، ژوند سختوي او اخیر په یو لوی ناورین بدلېږي. د دې لپاره چې خپل ژوند ته مشکلات جوړ نه کړو او خپل همنوعه انسان ته مو هم اساني پنځولې وي، باید د هرې ستونزې حل هماغه مهال ولټوو چې کله رامنځته شي. ولور زموږ په ټولنه کې سمدم په یوه ناسور اوښتی. دا کشاله نوره هم پراخېږي او ښایي نور انسانان تر موږ هم زیات په تکلیف کړي. نو څه باید وکړو؟ د دې لپاره چې دا یوه ټولنیزه پدیده ده، د حل په موخه یې هم باید د ټولنې د هر قشر استازي سره کېني. یوه اجماع دې را وبلله شي او د دې ستونزې حل دې ترې وغوښتل شي. له دولتي ادارو دې مرسته وغواړي. ځینې کسان دې د همدې هدف لپاره د نورو ټولنو دې ته ورته مشکلات او بیا یې د هغوی حل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالعه کړي، که یې دلته د کاپي کولو امکان وو او زموږ ټولنې ته یې زیان نه رساوه، نو هغه دې وړاندیز کړي. د دې سترو ټولنیزو ستونزو حل نه د یوه لیکوال کار دی او نه د یوه قوم و قبیلې. د ټولو همسایه قومونو او قبیلو یوه اجماع باید راوغښتله شي او دې ته ورته ستونزې دې ته ور وړاندي شي چې هغوی یې په خپلو ناستو کې حل وړاندي کړي.

ځینې خلک فکر کوي چې له ولور پرته نکاح شرعا نه ده روا، مګر دا سم فکر نه دی. قران کریم د ولور له ټاکلو پرته هم د نکاح یادونه کړې ده:

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً

(البقره: ۲۳۶)

ژباړه: پر تاسو ګنا نه شته که مېرمنې تر جماع او ولور ټاکلو مخکې طلاقې کړئ.

تر همدې ایت مخکې د بدایع لیکوال داسې لیکي:

وَلَا خِلَافَ فِي أَنَّ النِّكَاحَ يَصِحُّ مِنْ غَيْرِ ذِكْرِ الْمَهْرِ وَمَعَ نَفْيِهِ.

په دې کې اختلاف نه شته چې د مهر له ذکر یا بیخي نفې کولو پرته هم نکاح روا ده.

د بدایع لیکوال علاء الدین ابو بکر بن مسعود بن احمد الکاساني الحنفي تر دې لوړ ایت وروسته کاږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَفَعَ سُبْحَانَهُ الْجُنَاحَ عَمَّنْ طَلَّقَ فِي نِكَاحٍ لَا تَسْمِيَةَ فِيهِ، وَالطَّلَاقُ لَا يَكُونُ إلَّا بَعْدَ النِّكَاحِ فَدَلَّ عَلَى جَوَازِ النِّكَاحِ بِلَا تَسْمِيَةٍ، وقَوْله تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ} [الأحزاب: ٤٩] وَالْمُرَادُ مِنْهُ الطَّلَاقُ فِي نِكَاحٍ لَا تَسْمِيَةَ فِيهِ بِدَلِيلِ أَنَّهُ أَوْجَبَ الْمُتْعَةَ بِقَوْلِهِ: {فَمَتِّعُوهُنَّ} [الأحزاب: ٤٩] ، وَالْمُتْعَةُ إنَّمَا تَجِبُ فِي نِكَاحٍ لَا تَسْمِيَةَ فِيهِ فَدَلَّ عَلَى جَوَازِ النِّكَاحِ مِنْ غَيْرِ تَسْمِيَةٍ، احْتَجَّ الشَّافِعِيُّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً} [النساء: ٤] سَمَّى الصَّدَاقَ نِحْلَةً، وَالنِّحْلَةُ هِيَ الْعَطِيَّةُ، وَالْعَطِيَّةُ هِيَ الصِّلَةُ فَدَلَّ أَنَّ الْمَهْرَ صِلَةٌ زَائِدَةٌ فِي بَابِ النِّكَاحِ فَلَا يَجِبُ بِنَفْسِ الْعَقْدِ؛ وَلِأَنَّ النِّكَاحَ عَقْدُ ازْدِوَاجٍ؛ لِأَنَّ اللَّفْظَ لَا يُنْبِئُ إلَّا عَنْهُ فَيَقْتَضِي ثُبُوتَ الزَّوْجِيَّةِ بَيْنَهُمَا (بدايع الصنايع، كتاب النكاح، فصل المهر:۲/ ۲۷۴)

ژباړه: الله تعالی هغه ځوک ګناګار ونه ګڼی چې مهر يې نه وي ټاکلی او نکاح يې کړې وي او بيا طلاق ور کړي. ځکه طلاق تر نکاح وروسته وي، نو ثابته شوه چې له مهر پرته نکاح روا ده. د الله تعالی دا قول چې( ای مومنانو که مومنانې مو تر نکاح وروسته له جماع پرته طلاقې کړې) دلته هم تر هغې نکاح وروسته طلاق دی چې مهر پکې نه وي، ځکه وروسته يې د (متعې) حکم کړی او متعه په هغه نکاح کې وي چې مهر پکې نه وي، نو ثابته شوه چې نکاح له مهر پرته هم روا ده. امام شافعي هم په دې دليل نيولی چې د نساء په سورت کې ميرمنو ته د مهر يادونه په (نحله) توري شوې ده، نحله ور کړې(عطيه) ته وايي او ورکړه خو صله بلله کېږي؛ نو ثابته شوه چې د نکاح په بحث کې صله(مهر) يو زايد شی دی يوازي د نکاح په تړلو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واجبېږي او بل نکاح (لفظا) د ګډ ژوند تړون دی، ځکه له لفظه یوازي همدغه مفهوم راوزي، له دې امله د دوی ترمنځ د زوجیت د ثبوت غوښتنه کوي.

عربي کې ولور ته مهر، صداق، نحله، فریضه، اجر او عُقر وایي. لومړي څلور نومونه یې قران کریم هم یاد کړي دي.

## د یوې ښځې په بله بدلول

زما یوه خور ده هجرت نومېږي. پلار مې زموږ د مشر ورور پر کوزده ور کړې ده. یوه بله خور مې ده معراجه یې نوم دی. زما پلار د خپل وراره په موخي کې ور کړې. د مشرې خور مې یوازینۍ لور ده چې خور مې د مشر زوی په کوزده کې په بدل ور کړه. د معراجې یوه لور ده صدیقه مو بلله. اخښي مې د زوی پر موخۍ ور کړه. د مور تر ټولو کشره خور مې وه. زما مشر ماما ځان ته واده په کړی وو.

که زموږ د ټولنې له هر کس څخه وپوښتل شي نو د خپلې کورنۍ د دغه ډول دوستیو لوی لیست به درته جوړ کړي. موږ د بدل واده ته موخۍ وایو. عرب ورته شغار وایي. دا کار نه یوازي دا چې زموږ پښتنو کې رواج لري، بلکې د اسلام د ظهور مهال یې عربو کې هم رواج در لود. له دې امله نو د اسلام پیغمبر علیه السلام ویلي: لا شغار في الاسلام. په اسلام کې موخۍ نه شته.( ابن ماجه، کتاب النکاح، باب النهي عن الشغار ح: ۱۸۸۵)

عربي ګرامري اصولو ته په پام دې حدیث د موخۍ هر ډول منعه کړی دی. ځکه نکره چې د نفي په څنګ کې راشي نو عمومیت فایده کوي چې دلته شغار تورى د لا په حیز کې راغلی. ګواکې د رسول الله هدف د دې د ټولو نوعو مخنیوی وو. په ابوداؤد کې یو حدیث راغلی چې امیر معاویه د خپل خلافت مهال شغار منعه کاوه او د خلګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې نکاوي يې فسخه کولې.(ابوداؤد کتاب النکاح باب في الشغار ح: ۲۰۷۵)

دلته به د مذهب لور ته نه ځم چې د امام صاحب په مذهب کې څه حکم لري او د شافعي په مذهب کې څه؟ دلته به يې پر ټولنيزو زيانونو خبره وکړم چې له دې څخه نن څومره زيانونه را پېښ دي او زمونږ د ټولنې يو لوی قشر ترې ځورېږي.

د موخې يو زيان دا دی چې د ميرمنو روا او شرعي حق تر پښو لاندې کېږي. زمونږ د رواج موافق چې نارينه يوې ميرمنې ته يو څه ور کوي، دا د هغې حق کېږي، د قران د ارشاد له مخې که ميرمن خلعه کوي نو مېړه ته به دا ور کول شوي بيرته سپاري. زمونږ خلګ په موخې سره د ميرمنې حق له منځه يوسي او د خلعې يا له مېړه د طلاق تر لاسه کولو لپاره له هغې سره په لاس کې هيڅ هم نه وي.

په موخې کې که له يوې ميرمنې سره لږ بې انصافي وشوه نو اتومات له بلې سره هم په کور کې د هغې دوه برابره بې انصافي کېږي. په دې ډول د ښځو ترمنځ بدبيني زياتېږي او دا کرکه اخير د کورنيو په نفرت بدلېږي چې اخير لويي لويي شخړې ترې پيښېږي.

د موخې دوستي د مينې پر ځای کرکه پيدا کوي. يوه کورنۍ پر بله بدګومانه کېږي. ښه روابط په بدو اوړي او تر بدو بدتر شي. يو له بله سره همکاري ايله کړي. د يوه او بل په غم چندان غمجن نه وي. انساني خواخوږي يې په زړه کې ورو- ورو کمېږي. اخير د يوې کورنۍ غړی د بلې کورنۍ کس ته سلام هم نه وايي او همداسې د دوښمنانو په شان يو له بل سره ګرزي را ګرزي.

په کورنۍ کې يوه ميرمن تر هغو چې اولادونه يې ستر شوي نه وي، د کورنۍ د يوې غړي اهميت نه شي تر لاسه کولای. يوه کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ناوې ته دومره ارزښت ور کوي چې د دوی د کور میرمنې ته په هاغه بل کور کې ور کول کېږي. دلته انساني ارزښت، بشري کرامت او دوستي ټول کډه وکړي. د ښو او بدو معیار یوازي متقابل ارزښت او درنښت ونیسي. یوه میرمن که هر څومره ښه اخلاقه وي، کارینده وي، ښایسته وي، له خپل مېړه او د خوسر له کورنۍ سره اخلاص ولري، خو که د یوې بدمغزې، بدمخې، بدبختې، کرکجنې او له اخلاصه خالي ښځې په مقابله کې ولاړه، بیا یې نو هیڅ هم ارزښت نه لري او هغه څه به ور سره کېږي چې د هغې بلې د خپل بد عمل نتیجه وي. دا نه له شریعت سره یو فیصد سمون لري او نه له بشري قوانینو سره.

موخې د دوو کورنیو د غړیو ترمنځ د جاسوسي او تجسس ناولي کار ته زمینه برابروي. زموږ میرمنې چې زیاتره یې زدکړې نه لري، وختونه یې په غیبت او د یوه کور و بل په ستاینو او غندنو تېرېږي. دا کار که څه هم هر وخت بد دی او نتایج یې هم ښه نه وي. خو د موخې په معامله کې بیا ډېر بدعواقب لري. د نارینه وو مجلسو ته پټ غوږ نیول. هلته دلته بې ځایه درېدل. خلګ پر ځان شکمن کول. تمامه ورځ شکایتونه کول. بې بنیاده خبرې را پیدا کول. د نورو حقونه تر پښو لاندې کول. غیبت کول بوهتان تړل او داسې نور شرعي و قانوني جرمونه له همدې موخې څخه را پیدا کېږي.

تر ننه ما یوه داسې کورنۍ هم نه ده لیدلې چې موخې یې کړې وي او بیا یې له دې دوستي رضایت ښودلی وي. حتا که تر دې دوستي مخته سره قریبان هم وي. ما دوه ورونه لیدلي چې تر موخې وروسته یو د بل وینو او غمونو ته ناست وو. ورور او خور مې لیدلي چې شکایتونه یې زموږ تر کوره را ورسېدل. انډیوالان مې ولېدل چې سره خپه شول او اخیر یې دواړه میرمنې سره طلاقي کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دوستۍ یو ډېر بد پیل دی. پر ناسم بنسټ هیڅ ودانۍ نه شي رغېدای. د موخې چې لومړی تهداب کمزوری، غیر اخلاقي، له قانونه وتلی او د شریعت له اصولو مخالف ښودل کېږي، ځکه یې نو پایلې هم تل سرچپه راوتلې. هیڅوک دې کار ته د دوستي په نوم نه ګوري. یو کور مې په ټول ژوند نه دی لیدلی چې له دې دوستي څخه یې خوښي ښودلې وي.

د مالي مصارفو سبب هم کېږي. زموږ د ټولنې غړي چې له خپلې کمبلې سره سمې پښې نه غزوي، تل غاړه تر نورو جګه وړي. له دې امله که یوې کورنۍ خپلې ښځې ته د یو لکو افغانیو کور ور کړ نو دا بل د یو لک شلو زرو مصرف کوي. که یوه سل کسان میلمانه کړل بل یو سل شل کسان را غواړي. که یوه هر شی دوه – دوه اخیستي وي دا بل کوښښ کوي چې ځینې شیان یې له هغه متفاوت وي څو هم خلګو ته ځان ښکاره کړي او هم هغه دوست ته خار ور کړي چې دومره تکړه یم؟!

یوه ښځه تر ډېره وخته د مېړه کور خپل کور نه ګڼي. دې ته د مور او خور له لوري فکر ور کول کېږي چې زموږ په کور کې ستا په بدله راغلې ناوې داسې کوي، هغسې کوي، دا بې انصافي یې وکړه او هغه چل یې کېښود. ته هم د دوی په کور کې راستي مه کوه. دا فکر میرمن لیونۍ کړي چې زما له مور سره بد کېږي؟ بس د کور د هیڅ شي په کیسه کې هم نه وي. مصارفو ته پام نه کوي. زړه یې نغواړي چې کور کنټرول کړي او په راستي له خپل مېړه سره همکاري وکړي چې د کور مالي حالت یې خراب نه شي.

د مېړه له خپلې ښځې سره سم زړه نغواړي. که یو مېړه خپله میرمن پر ګرانه کړي، دستي یې مور، خور او د کور نور غړي پیغور ور کوي چې ستا له خور سره دا او هغه کېږي او ته دا پر سر کېنوې؟ مېړه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو څو د مور او خور پیغورونو ته ځان ټینګ کړي؟ یو وخت لازمې د هغه زړه ماتېږي او د مینې پر ځای خپلې میرمنې ته د نفرت په سترګه ګوري.

پر اولادونو یې بد اثر کوي. ځکه په کور کې تاوتریخجنه فضا د ماشومانو پر ذهنیت بد اغیز کوي. د یو ماشوم له مور سره چې په کور کې بد سلوک کېږي حتما هغه د کورنیانو په اړه بد تصویر له ځان سره جوړوي. حتا د خپل پلار په اړه لا هم.

د دې لپاره چې د دې ټولو بدیو مخه ډب کړو؛ باید له دې ډول دوستۍ تېر شو. د دې کار یو لوی لامل د ولورونو زیاتوب هم دی. که د ولور مسله په سم ټول حل شي نو د موخې کچه به هم ور سره کمه شي. په دې توګه به مو په ټولنه کې د ډېرو بدیو، کرکو، نفرتونو، شخړو او جنجالونو مخنیوی کړی وي.

## په بدو کې د ښځو ور کول

د عالم خان په نوم زموږ یو توخی وو. دې کس نه پوهېږم ځنګه یو بل کس وژلی وو. هغه مهال زموږ زیاتره قریبانو پاکستان ته کډې وړې وې او موږ و څو نور خپلوان د بوري په کېمپ کې دیره وو. عالم خان یو وخت را پیدا شو او د بدۍ ږغ ور سره را غبرګ شو.

کلي کې اوازه وه چې عالم خان بدي کړې ده. موږ واړه وو په دې نه پوهېدو چې زموږ یې ور سره څه؟! د کلي یو قریب حاجي غوث الدین له کوره د شپې وتښتېدی. بیا مې پلار ویل چې د هغه پیغلي لوڼې ناستې دي، د دې لپاره فراري شوی چې لوڼې یې د ده په نه شتون کې څوک نه شي ور کولای.

کلیوالو په مشوره عالم خان ونیو او د هغه دوښمنانو ته یې وسپاره. مګر هغوی یوازې عالم خان څه کاوه؟ هغوی ویل موږ له ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوم سره بدي لرو.(قوم دلته د قبیلې د یوې پښې په مانا دی) له دې امله ټول خلک اړ شول چې روغه ور سره وکړي. د حاجي کاکړ اکا دوې لوڼې په بدي کې ور کول شوې. زموږ څو پسونه او یو توپک د مالي زیان په توګه و رکول شول. همدارنګه هر کس خپله یوه ونډه واخیسته او خلګو د عالم خان له بدي ځانونه خلاص کړل.

دا یوه پېښه نه ده. د پښتنو په قبیلو کې زرګونه دا ډول پیښې شوې دي چې بدي نارینه کړې وي او په بدو کې یې میرمنې ور کولې کېږي. د کوټې له عالمو چوک سره د شابو په نوم یو کلی وو. موږ (۲۰۱۲) کې هلته اوسېدو. د تربنانو یوې کورنۍ له بلې سره بدي کړې وه. بیا یې په روغه کې دوې وړې نجونې ور کړې وې. هغه ټول کلی شاهد وو چې دا نجونې به یې په سپینه رڼا ورځ داسې وهلې چې نارې او چیغې به یې ټول کلي اورېدې.

دغه ډول نجونې او میرمنې زیاتره وخت بیا نه د پلار کور ته تلای شي او نه یې کوم قریب ورته راځي. ځکه دلته دوستي نه شته بلکې د بدي د مخنیوي په خاطر میرمنې ور کړل شوې. له دې امله نو بیا د پلار کور ته تلل نه شته او نه به یې کوم خپل یا قریب ورته راځي.

زه چې څومره خبر یم پخوا د پښتنو په ټولو قبیلو کې دا کار یو عام رواج وو چې هیچا یې مخالفت هم نه کاوه. که په دې اړه پلټنه وشي نو زرګونه داسې پیښې به ثبت شي.

دا له ښځینه قشر سره د پښتنو یوه نه هېرېدونکې بې انصافي او ستر ظلم وو. پښتانه چې په خپلو کارنامو هر وخت نازېږي او ځانونه د زبرځواکونو د را نړولو اتلان بولي، خو په کور دننه یې د ژوند سطحه تر دې اندازې ټیټه وه. زموږ دا حالت د عربو هغه حالت ته ورته دی چې خپلې لوڼې به یې ژوندۍ ښخولې. قران کریم یوځای د دې کار داسې یادونه کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ () بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ (التکویر: ٨، ٩)

ژباړه: او چې له ژوندۍ ښخې شوې پوښتنه وشي، په کومه ګنا ووژل شوه؟

دا له میرمنو سره د توپیري چلند او مېنځي کولو بل ثبوت دی چې د پښتنو په تاریخ کې به تل ثبت وي. د دې میرمنو په لیست کې داسې ښځې هم شته چې په خپل ټول ژوند کې یې بیا د پلار یا بل کوم قریب کور نه دی لیدلی. د پلار په میراث کې د حق خبره خو هسي هم په پښتنو کې له لویه سره مطرح نه وه. د مېړه انتخاب خو له پیله زموږ نارینه وو له میرمنو اخیستی دی. اما دلته یې د بیا راتلو حق هم ترې واخیست. زموږ نجونې بس په ځو میاشتې کې تر واده وروسته دې ته خوشاله وي چې د پلار، یا ماما یا بل قریب کره ولاړه شي او یو څو ورځې په خوشالي تېرې کړي، مګر د پښتنو ځینو کورنیو دا حق هم ترې اخیستی او لازمې خبره ده چې د دې میرمنو په نکاح کې به ملا او د عالم په صفت یو څوک ناست هم وو او دا نکاح به یې هم د ده په ګومان له نبوي سنتو سره سمه تړلې وې!

های! افسوس زموږ د پښتني نجونو پر حالت. دلته مې یو بل مثال هم ذهن ته راغی. زما تر ټولو وړه خور چې په کوم کور کې واده ده. د هغې ایندرور جمیله هم په بدي کې و رکول شوې. دا کیسه مې نو ښه په یاد ده. د جملې د اکا پر زوی باندي له یوې پیغلي میرمنې سره د ناروا اړیکو تور ولګېد. په کلي کې تر دې اوازې وروسته هغه ځوانه نجلۍ د هغه ځوان کور ته پسې ورغله او مجبورا هغه نکاح ور سره وکړه. دا بلې کورنۍ ادعا وکړه چې موږ ته مو بدرنګي را اړولې. له دې امله روغه وشوه او په روغه کې دا جمیله او مالي تاوان ور کول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما جمیله په یاد ده چې هغه مهال ډېره وړه وه. په دې شیانو پوهېده هم نه. مور به زوروله چې هغه دی رحمت الله راغی. دا به د توت تنې ته پټه شوه. زه نه پوهېږم چې په دې پټېدا څه پوه کړې وه؟

د طالبانو د امارت مهال ملا محمد عمر امر وکړ چې د میرمنو په بدي کې ور کول شرعاً ناروا دي او که هر څوک دا کار وکړي نو قانوني چال چلند به ور سره کېږي. تر دې وروسته ملایانو هم د دې پر خلاف تبلیغ وکړ او د خلګو د شعور کچه هم لېږ را لوړه شوه؛ نو ځکه دا کار په ډېری سیمو کې اوس د ورکېدو په حال کې دی.

## د کوزدې او واده رواجونه

د انسان د پوهې کچه چې څومره لوړېږي هومره بې ځایه تکلیفونه او زیان رسونکي کلتوري بندیزونه له منځه وړي. زموږ د پښتنو په پرتله نوري ټولنې چې تر موږ په علمې لحاظ وړاندې دي دومره بې ځایه رواجونه نه لري او نه یې ګټه ویني له دې امله یې نو وختي لا د پای ټکی ورته ایښی.

زموږ پښتانه که یو لور ته له فقره زورېږي بل لورته بې ځایه رواجونه او مصارف هم کوي چې د هغوی په فقیر کولو کې یې مهم رول لوبولی.

د واده او کوزدې په اړه هم ډېر دومره رواجونه موږ لرو چې زموږ په بې وزله کولو کې ښه غوښن رول لري. زما په یاد دي کوټه کې یوه ورځ د حاجي ابراهیم په نوم د یوه شتمن کس د لور کوزده وه. حاجي ابراهیم اڅکزی وو. یو بل ماړه کس ته یې لور ور کړې وه. د زوم له کورنۍ کابو ۵۰ کسان ورته راغلي وو چې لومړۍ ورځ دسمال ځنې یوسي. راغلو کسانو کې هر یوه ته د زرونو کالدارو جامې، لنګوټې، بوټونه، پټوګان او نور شیان ور کول کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل لورته بیا د حاجي ابراهیم له لوري هم زیات کسان میلمستیا ته را بلل شوي وو. دې کورنیانو ته به بیا هغه د زوم پلار زر – زر کالداري ور کولې. د زوم پلار چې له کوټې را ووتی د زیاتو خلګو په لیدو یې د مخ بڼه په خدای بدله شوه. حاجي ابراهیم څه ور سره کول؟ د کور هلک یې بهر درولی وو او دلارې هر لاروی یې را ګرزاوه او د خلګو په کتار کې یې کېنول چې د زوم له پلاره پیسې په وشکوي.

دا کار هم د حاجي ابراهیم لپاره سبا ګران تمامېږي او هم د نورو لپاره. موږ خپله رواجونه رامنځته کوو او بیا ځنې کړېږو هم. هوښیارې ټولنې په دې هڅه کې وي چې ژوند له سختیو را وباسي او څومره چې اسانېږي هغونه یې خوند ډېرېږي. له مصارفو خلاص وي. ذهني پشار نه لري. بې ګټې رواجونه یې ژوند نه ګوابنې. د خلګو له خندا خلاص وي. شل غمونه یې نور هم ختم کړي وي. زموږ مشران که له رواجونو ټولنه خلاصه کړي نو هم به یې ځانونو ته اساني جوړه کړې وي او به یې نوي نسلونو ته.

د میرمنو جامې، میلمستیاوې، کوتوني،[1] د زوم ښکارول، هر اختر ناوې ته جامې او کورنۍ یې ور سره یادول او داسې نور رواجونو زموږ ژوند را تریخ کړی دی. زموږ ځوانان یو لور ته ستر ولورونه پرې کوي او بل لور ته د رواجونو له مصارفو ځانونه نه شي خلاصولای. شتمنې کورنۍ یې په کیسه کې نه دي ځکه لري یې. اما د بې وزلو یې کورونه ور خراب کړل. دوی یو لورته شته نه لري چې د شتمنو په شان رواجونه وکړي او بل لور ته یې صرف نظر هم نه شي کولای ځکه ټولنه کې بیا خلګ پیغورونه ور کوي.

---

[1] د غوښې پر ځای ژوندي پسونه د ناوې کور ته تر واده مخکې ور ولې چې د واده په میلمستیا کې یې له غوښو ګټه اخلي، همدې پسونو ته موږ(کوتوني) وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د خپلې کوزدې مهال د خوسر کورنۍ ته وویل چې نه رواجونه درسره کوم نه به یې راځخه غواړې. د هغه هم خوښه شوه او کوزده و واده مو په خوښۍ تېر کړل. یوه اخښې مې راته ویل چې ستا واده داسې خوند کاوه لکه زموږ د خپل کور د یوه کس واده چې وي، ځکه په هیڅ شي کې نه یو سره خپه شوي، ټول شیان مو تر وس لاندي وو او د یوه کور د کسانو په شان مو له یوه بل سره ژوند کاوه او اړیکې مو پاللې، تر اوسه هم نه سره خپه یو او نه یو پر بل بوج شوي یو.

زموږ د ټولنې لومړی دا کار ډېر ناسم دی چې یوکس د بل کس، یوه کورنۍ د بلې کورنۍ او ان یوه قبیله د بلې قبیلې په کارونو کې مداخله کوي. دا هم یو ډول مداخله ده چې یوه کس د د هغه پر لیرو مصارفو پیغور ور کول شي. که ناوې ته ۵۰ جوړه جامې وانخلي نو همسایه کورنۍ پیغور ور کوي. د ښار خلګ که واده په هال کې ونه کړي نو خپلوان یا د ناوې کورنۍ پیغور ور کوي.

دا چټي رواجونه دي. رواج باید تر هغو وپالل شي چې انسان ته خوشالي ور کوي. کله چې په زیان بدل شي بیا یې د ایله کولو لپاره لارې چارې باید ولټول شي. زموږ د کوزدو او ودونو رواجونه اوس د خوښۍ پر ځای په غمونو بدل شوي. داسې کسان مې لیدلي دي چې څو میاشتې یې واده له دې امله ځنډېږي چې د هال مصارف نه لري. بل د کلیوالو میلمستیا ته چمتوالی نه وي نیولی. دا په داسې حال کې چې مېړه او میرمن غواړي ژر خپل کور جوړ کړي، خواښې او خوسر غواړي د خپل زوی کور یې جوړ شي، لېور او ایندرور غواړي خپله وریندار وویني او د کور په غړو کې یې یو کس اضافه شي. اما د دې درستو دوو کورنیو د خوښې مخه څه شي نیولې؟ زموږ رواجونو. دا رواجونه نور په پاللو نه ارزي، دا باید ورک شي او د بیخ ایستلو لپاره یې د ټولنې ټول غړي او قشرونه باید لاس په کار شي. کلتور او دود انسانان خپله ایجادوي. نه تقدس لري او نه د قران توری دی چې بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې بدلیدل امکان نه لري. د انسان په خپل لاس جوړ شوی شی باید دومره د نه بدلېدونکې شي بڼه وانخلي چې اخیر یې له وجوده انسان خپله ځوربېري.

## یو مېړه او څو ښځې

زما د میرمنې مشر اکا دی. دوې میرمنې لري. یوه یې زړه او اوس له خپل مشر زوی سره په کور کې اوسي او بله یې ځوانه ده چې له مېړه سره په خپل کور کې ژوند کوي. دې کس په کال هم د خپلې لومړۍ میرمنې دروازه نه ده خلاصه کړې او له خپلې دویمې ښځې سره ټول ژوند تېروي. یو مهال یې د کور په ګاونډ کې زه هم اوسېدم. یوه لور یې زموږ کورته راتله او سهار مهال ما ورته قران کریم وایه. کله ناکله به مې ورته ویل، سکینې! پرون مو بیا څه سره غوړي توی کړي وو چې نارې مو تر اسمانه رسېدې؟ دې به خندل او کله به یې د نارو علت په ډاګه کړ او کله به همداسې خاموشه پاته شوه.

د سورساندي په نوم مې یوه مشره خور ده. د هغې مېړه یو مهال دویمه ښځه وکړه. هغه وخت به یې دا خبره ډېره کوله چې ماته مې لومړۍ کوزده پلار کړې او زه دا ځل خپله کوزده کوم. په کراچې کې یې یوه نجلۍ وغوښته. تر یو څه وخت وروسته یې اوازه شوه چې دا مې نه ده خوښه لومړۍ میرمن مې پر ښه ده. خور مې ویل بیخي ډېر وخت یې خونې ته نه ورځي او د ده د نه پاملرنې له امله یې مور هم ډېر بد ور سره کوي. زه به چې د خور کور ته ورغلم نو د هغې نجلۍ لونې به کوټې ته راغلې. ما به له خوریانو سره یو ځای هغو نجونو ته هم روپۍ ور کولې. خور مې ویل، دادا یې نورو میلمنو ته نه را ایله کوي یوازې تاسو ته راځي. ما به د هغې میرمنې او دې نجونو په اړه فکر کاوه چې په ذهن کې به یې څه تېرېږي؟ سخت به مې زړه پر سوځېده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۳ کال وو؛ د کوټې په شابو کلي کې مې د بریښنا د سامان یو دوکان در لود. زما د دوکان مالک حاجي شیر محمد نومېده. مشر زوی به یې سهار مهال له ماسره بانډار کاوه. شیرزمان یې نوم وو. ده به ځینې وختونه د خپل کور کیسې راته کولې. پلار یې څلور ودونه کړي وو او شیرزمان دوه. زوی ته یې ما ویل، ته ځوان او لوستی انسان یې؛ ولي دې دوه ودونه کړي؟

ده ویل، دا لومړی مې پلار راته کړی. په خوله مې د خلګو په مخکې ورته وویل چې زه نالوستې نجلۍ نه کوم خو پلار مې راته ویل؛ خرکوسه ته زما په مخکې خبرې کوې. له مجلسه یې وشړلم او کوزده یې راته وکړه. زه هم په ضد کې راغلم او د پېښور له یوې کورنۍ سره مې خپله بله کوزده وکړه. له دې امله نو اوس دوې میرمنې دي. ما ورته ویل، پلار دې ولې څلور کړې؟ ده خندل، ویل یې؛ مست دی! اما په کور کې یې شیان له میرمنو څخه کولپ کړي وي.

زموږ له خلګو که پوښتنه وشي چې ولې دوه یا زیات ودونه کوئ؟ وایي، خدای اجازه را کړې. ما یو وخت هغه ایت چې خلګ یې د ډېرو میرمنو لپاره دلیل ګرزوي، ښه په غور وکتی. له هغه ایت څخه داسې عامه تامه اجازه نه تر لاسه کېږي. دلته به یې را نقل کړم:

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا (النساء: ٣)

ژباړه: او که تاسو د یتیمانو په اړه له بې انصافۍ ډاربدئ، نو له هماغو میرمنو چې ځوک درته خوښې وي دوې، درې یا څلور په نکاح کړئ. خو که پر نه عدالت بې ربدئ نو یوه میرمن وکړئ او یا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چې ستاسو راسته لاسونه یې مالکان دي. دا دې ته نژدې ده چې ظلم ونه کړئ.

دې ایت کې ښکاره ویل شوي چې د یتیمانو پر حق که ډارېدئ؛ نو هغه ښځې په نکاح کړئ چې له یتیمانو سره اړه لري، په دې توګه به مو یتیمان د خپل کور غړي شي او د ناانصافۍ وام به مو ختم شي. دا یوه عامه اجازه نه ده. دلته څو شرطونه ایښودل شوي. لومړی به داسې یو حالت رامنځته کېږي چې یتیمان پاته وي بیا به انصاف رعایت کېږي، که انصاف څوک نه کوي نو یوه میرمن د خدای امر دی او یا هم مینځه. نن چې مینځه نه شته نو یوازې یوه میرمن باید روا وګڼل شي او که د ایت بیان شوی حالت رامنځته شي نو یوازې د قانون په چوکاټ کې دننه دې هغه چا ته اجازه ور کوله شي چې انصاف کولای شي. که یو چا تر واده وروسته انصاف نه شوای کولای، نو میرمن حق لري چې محکمې ته رجوع وکړي او له خپل مېړه څخه ځان ازاد کړي.

دا کار یو لورته د خدای له مقیدې اجازې بې قیده شوی دی، بل لورته په ټولنه کې د بې انصافۍ ګراف ور سره لوړېږي. یو زوی، یوه لور، یوه نږور او داسې نور کسان په روښو سترګو وینې چې له مور سره یې بې انصافي کېږي. له دې کاره هغوی د پلار او بلې مور همدارنګه د ناسکه وروڼو او خوندو په اړه ناسم تصور اخلي.

یوه میرمن له بلې سره په کارونو او مشترکو شیانو کې انصاف نه رعایتوي. هره یوه د کور یو شی د خپل اولاد او له دې سره د اړوندو کسانو په ګټه کاروي. د اختر د جامو پر سر جنجالونه وي. د خوراک او ډوډۍ په اړه داوې وي. هره یوه د بلې په اړه مېړه ته ناسم مالومات ورکوي. مېړه له میرمنو سره د دوی د ناسمو مالوماتو له امله اخته کېږي چې د کور ټوله فضا ور سره ناارامه او خشینه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې بد وضعیت څخه راتلونکي ماشومان ټول بد سبق زده کوي. کینکښ، خشین مزاجه، جنجالیان، توندخویه، تر سمې خبرې جنګ خوښونکې، بې انصافي ته پر تتی ور تلونکې، درواغجنان، حیله جوړونکې او داسې د نورو ناسمو خویونو سبب یې همدا د کور ناسم چاپیریال تر یوه حده کېږي. دا صفت یوازي تر خویه محدود نه پاتېږي. بلکې هر خوی په خپل خاوند عملي ګام هم اخلي. دا که یوه ورځ په کور کې وي بله ورځ یې په ټولنه او جامعه کې هم پورته کوي.

زموږ د کور په تربیوي حوزه کې دا هم یو ستر خنډ دی. جامعې ته ور پېښ مشکلاتو کې مو یو ستر مشکل دا هم دی چې له مذهبه تر کلتوره ژورې نه وچېدونکې ریښې هم لري. دا کار که زموږ پر اقتصادي وضعه بد اغیز کوي، نو پر اخلاقو، تربیه، عدالت او ... مو هم ډېر بد اثر کوي.

له دې ستونزو د خلاصون لپاره باید دا کار نور قانوني کړای شي. هر څوک چې دویم واده کوي، لومړی باید محکمې ته رجوع وکړي. قاضي ته شواهد وړاندي کړي چې زه د دغو اړتیاو له مخې دویم واده کوم. که یې ضرورتونه له قانون سره سم او عذر یې د منلو وړ وو، نو قاضي دې اجازه ور کړي او یو لیک دې په محکمه کې ترې واخلي چې یو لړ شرایط پکې لیکلي وي که له میرمنې سره پر لیکلو شرایطو مېړه ژوند نه کاوه، ماینه دې قضا ته خبر ور کړي او هغوی به یې په پوره عدالت او قانوني چوکاټ کې سره جلا کوي.

## د نجلۍ لپاره د هلک خوښول

زموږ په ټولنه کې دا عیب دی چې څوک د خپلې لور لپاره یو هلک خوښ کړي او د هغه کورنۍ ته د دوستي وړاندیز وکړي. بلکې زموږ پلرونه د زامنو لپاره نجونې خوښوي او کله چې یې یوه نجلۍ خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي بیا د نجلۍ کورنۍ د هلک د کورنۍ له لوري د دوستي وړاندیز کېږي.

دلته اصلا هدف یو دی. که د هلک کورنۍ وړاندیز کوي یا د نجلۍ کورنۍ، موخه د دوو کورنیو دوستي او د هلک و نجلۍ د ګډ ژوند ترون دی. نو بیا ولې یوازي د هلک کورنۍ وړاندیز کوي. زموږ هر څوک دا غواړي چې لور یې په ښه کور کې واده شي او ښه زوم یې وي. دا بل لور ته هر څوک غواړي چې زوی ته سمه نجلي واده کړي.

نو بیا یوازي د نارینه د کورنۍ له لوري وړاندیز سم بلل او د نجلۍ د کورنۍ له لوري وړاندیز ناسم، ښه کار نه دی. دا رواج باید بدل کړو. خپلې لور ته د ښه ژوند لپاره لازمه ده چې کله ښه کور او هلک پیدا کړو خپله نجلۍ ورته وړاندیز کړو؛ البته که د نجلۍ خوښ وي. د خلګو دا منفي ذهنیت باید بدل شي چې دا کورنۍ له خپلې نجلۍ په تکلیف دي. بلکې مثبت فکر باید وکړو. داسې وانګیرو چې دا کورنۍ خپلې نجلۍ ته ښه ژوند او د ملګرۍ یو ښه پارټنر پیدا کوي.

ولې د نارینه لپاره دا بد کار نه دی او د میرمنې لپاره ناسم دی؟! میرمنې هم انسانان دي او د خپل ژوند په اوږدو کې هغه ټولو شیانو ته اړتیا لري چې نارینه یې لري. نو بیا توپیري چلند د څه لپاره؟ دا کار نه یوازي دا چې شرعا جواز لري بلکې د اصحابو په زمانه کې هغوی خپلې نجونې وړاندیزولې. عمر فاروق د خپلې لور وړاندیز عثمان او ابو بکر رض ته کړی دی. اخلاقا هم دا سم کار دی. ځکه د یوه انسان لپاره د ژوند ښه ملګری غواړو او د ښه ژوند لپاره غوره کورنۍ ورته پیدا کوو. نو دا په ټوله مانا یو سم اخلاقي کار دی.

د علم او پر مختللي تمدن په دې زمانه کې موږ باید نور د پخوا له رواجونو راووزو. رواج د انساني ټولنې پیدا وار دی. موږ یې رامنځته کوو او که په زیان تمام شي نو هوښیاره ټولنه یې له منځه وړي. رواج

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کلتور نه تل پاتې شیان دي او نه هم ټول وخت پاتېدای شي. له دې امله باید دا کلتور بدل شي او له میرمنو سره توپیري چلند ختم کړل شي.

## پر مېړه د میرمنې حقونه

زموږ خلګ په دې فکر دي چې مېړه پر ښځه ډېر حقونه لري؛ سهي ده لري به یې؛ اما د میرمنې په اړه مې له چا وانه ورېدل چې موږ یې حقونه نه دي ور کړي او مېړه ملامت دی. زموږ پلار د ملایانو له خولې یو حدیث روایت کوي چې رسول الله ویل که له خدای پرته چا ته سجده روا وای؛ نو ما به ماینه امر کړې وای چې مېړه ته سجده وکړي. حدیث داسې دی:

لَا يَصْلُحُ لِبَشَرٍ أَنْ يَسْجُدَ لِبَشَرٍ، وَلَوْ صَلَحَ لِبَشَرٍ أَنْ يَسْجُدَ لِبَشَرٍ، لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا (مسند احمد، مسند انس بن مالک ح: ۱۲۶۱۴)

ژباړه: انسان ته مناسبه نه ده چې انسان ته سجده وکړي، که مناسبه وای چې بشر، بشر ته سجده وکړي؛ نو ښځه به مې امر کړې وه چې خپل مېړه ته سجده ولګوي.

دا حدیث له انس بن مالکه ماسیوا له معاذ بن جبل، بریده بن الحصیب الاسلمې، عبد الله بن عباس، سراقه بن مالک، عبد الله بن ابي اوفی،قیس بن سعد بن عبادة، غیلان بن سلمه، زید بن ارقم، ابو هریره او عائشې رضی الله عنهم څخه نقل شوی دی.

موږ دا نه هېر وو چې اسلام کې د مېړه پر غاړه د ښځې او اولاد نفقه ور اړول شوې ده، مېړه د روزي په پیدا کولو کې مسوول دی، سمه ده چې حق به یې زیات وي، اما داسې هم نه چې ټوله به د مېړه چلېږي. د رسول الله ص میرمنو له رسول الله څخه د زیاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفقې غوښتنه کړې ده او له هغه سره یې پر دې مسله جنجال کړی دی چې ولې مور د عامو انسانانو د میرمنو په شان نفقه لرو او زیات هیڅ شی نه شته، رسول الله له دوی په دې غوښتنه خپه هم شو چې ولې داسې یې انصافه غوښتنه کوئ، اما له دې سره رسول الله هغوی ته حقونه منلي وو، د کور په کار کې یې مرسته هم ورسره کړې ده، مشوره یې هم ورسره کړې ده او د هغوی روا غوښتنې یې اورېدلې او عملي کړې دي.

له دې حدیث څخه داسې برداشت کول چې ټوله به د مېړه چلېږي میرمن به هیڅ نه پکې وایي، ناسم او د زورواکې تولنې تعبیر دی. که داسې وای نو رسول الله او اصحابو به همدغسي کړي وای.که یو څوک د دې حدیث له بیان څخه دا هدف نه لري، خو بیا هم تولنې اوس دا فکر ځنې اخیستی دی او زمور کلتور هم پکې دخل لري. زمور په تاریخ کې نارینه پر میرمنو حاکم پاته شوي. کله چې له دې وضعیت سره نور ملاتړي لاملونه هم مله شي؛ نو بیا دا حالت نور هم دوام کوي او تر ډېره له میرمنو سره دا توپیري او تبعیضي چلند ژوندی پاتېږي.

د مېړه په شان حقونه میرمن هم پر خپل مېړه لري. دواړه باید یو د بل حقونو ته پام وکړي او درنښت ورته ولري. زمور یوه لویه بدبختي دا هم ده چې حقونه مو هیڅ مالوم شوي نه دي. یو مېړه د خپلې میرمنې حقونه نه پېژني. مېړه که د هر شي امر ورته کاوه میرمن به یې مني. د نه منلو په صورت کې میرمن وهل کېږي او جبرا دې ته اړیستله کېږي چې د مېړه خبره ومني. دا کار که د میرمنې په تاوان هم وي؛ هغه مجبوره ده چې وې مني.

زمور په کورنیو کې تر اوسه هم بدوي ژوند کېږي. یو نارینه کار کوي شل یې ور سره خوري. بیا نو پر کور حکمراني د هغه کس چلېږي. یوه میرمن کار کوي او نوري بېغمه ورته ناستې وي. هغه ماشومان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، مالداري هم خوندي کوي، د کور نور کارونه هم کوي او دې ناستو میرمنو ته به هم لاس پر نامه ولاړه وي. که له دې کاره سرغړونه وکړي چې تر ډېره حده خو هیڅ امکان نه لري، اما که فرضا یوه میرمن دا کار نه کوي؛ نو په کورنۍ او ټولنه کې سخته بدنامېږي.

نن د علم دور دی؛ قوانین جوړ شوي او هر قشر ته خپلې دندې او حقونه معرفي شوي دي. موږ هم باید نور د میرمنو په وړاندي دا بدوي دود پرېږدو. له اولې ورځې په تړون کې ور سره ولیکل شي چې میرمن به څه کوي او مېړه به کوم کارونه تر سره کوي. میرمن پر مېړه څه حقونه لري او ماینه یې باید کوم حقونه ور پر ځای کړي. د نه عملي کېدا په صورت کې میرمن او مېړه دواړه محکمې یا د کور مشرانو ته د شکایت حق لري. میرمن دوا ته اړتیا لري، مېړه د ناخلاصي، مسکنت، له کلینکه لروالی او داسې نوري بانې ورته کوي.

میرمن د پلار یا نورو خپلوانو کره تګ ته زړه کېږي، مېړه ناغېړی کوي. ښځه جامې غواړي مېړه یې نه ور کوي. میرمن په فزیکې او ذهني لحاظ د اولاد راوړلو ته چمتو نه وي، مېړه یې جبرا په راوړي. میرمن ټوله ورځ د لوی کور په کار اخته وي. ماښام ته ستړې ستومانه وي او ارام ته اړتیا لري. خو مېړه په دې وخت کې د جنسي اړیکو غوښتنه ترې کوي. دا بې انصافۍ هم د شریعت له مخې ناروا دي، هم د قانون له مخې او هم بشري اخلاق دا نه تاییدوي.

اوس دې ته اړتیا ده چې د خدماتو او حقونو دواړو پولې باید تعین شي. د کور ټول واکونه نارینه ته ور کول او میرمن د یوې مېنځې په توګه هغه ته ور سپارل که له یوې خوا ظلم دی نو له بلې خوا د خدای او قانون څخه بغاوت دی. له میرمنو سره د دې ظلم د مخنیوي یوه لار دا ده چې په لومړۍ ورځ د هر یوه مسوولیتونه مالوم شي. تړونلیک په قضا کې ولیکل شي او د فسخې اختیار یې د شرایطو د نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملي کېدا په صورت کې محکمې ته ور کړل شي. په دې توګه به میرمنې د خپل ږغ اورېدو یوه مرجع پیدا کړي او د خپل حق اخیستلو جرات به ور سره پیدا شي او نارینه په خپله زورواکې لږ را کمه کړي او د شکایت په صورت کې به د سزا ګاللو ډار ور سره پیدا شي.

دا چې ترون باید څنګه ولیکل شي؟ دا کار دې د یوې داسې اجماع له مخې وشي چې دین پوهان، قانون پوهان، ټولنپوهان، له میرمنو سره د اړندو ادارو استازي او نور د نظر خاوندان ټول پکې شتون لري. په دې توګه به هغه ظلم او توپیري چلند ته پای ور کول شي چې هم یې خدایي قانون ماتاوه هم یې د هیواد اساسي قانون. بشري کرامت یې تر پښو لاندې کاوه او انساني اخلاقو ته یې صدمه رسوله. په مجموع کې د ټولنې نیمایي برخه تر پشار لاندې وه چې دې کار بیا د ټولنې پر رواني، اقتصادي او اجتماعي حالت بد اغیز کاوه.

## میرمن د اولاد زیږولو ماشین

موږ څلور وروڼه او شپږ خوندې یو. دوې خوندې او یو ورور مې مړه هم دي. زموږ یو دوست دی چې ماینې یې راته ویل زما اتلس اولاده شوي دي. په کوټه کې مې یو ملګری وو؛ لس یې یوازې ځوانان وروڼه در لودل. ما به کله ناکله ورته خندل چې ستا پلار هم سمه ضربه په کړېده. څو خوندې یې هم وې چې اوس مې په یاد نه دي.

دا وضعیت زموږ د ټولنې لپاره ځورونکی دی. میرمنې مو په خپل ژوند کې د خوشالۍ یوه ورځ هم نه لري. د واده له اوله کاله وروسته تر هغو روغه د خوشالۍ ورځ نه لري چې شنډه کېږي.

د زیاتو اولادونو لاملونه حالاتو، کورنیو او ځایونو ته په کتو بدلېږي. ځینې د ثواب په نشه کې زیات اولادونه راوړي او د اخرت توښه یې بولي. ځینې نارینه اولاد نه لري، د دې لپاره چې نارینه اولاد راوړي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات اولادونه پيدا کوي چې زيات وارونه د نارينه پر ځای ښځينه وي او په دې توګه يې د اولادونو شمېر هم زيات شي. نور بيا د تربور غم اخيستی وي. زيات اولادونه يې مټ قوي کوي. که يې په ژوند کې له کليوال، تربور، د پولې او پنډل له شريک سره جنګ شو، نو زيات اولادونه به يې په شخړه کې پله درنه کړي او خپل مخالف کسان به يې وهلي وي. داسې کسان مې هم ليدلي چې له خپل پلار څخه يوازي نارينه اولاد پاته شوی وي. زمونږ خلګ دې حالت ته بې کسي وايي. دا بې کسان خپل تېر حالت ځورولي وي، له دې امله يې په ډېرو اولادونو زړه نه سړېږي. يوه لويه ډله بيا د اولاد نه راوړلو په چم نه پوهېږي. زمونږ په سيمه کې داسې پيښې شوې دي چې يو کس د بل ميرمنې ته ورغلی. دا چې هغه کس به له کوره په سفر تللی وو او د ميرمنې به يې تر څو مياشتې وروسته په نس کې اولاد را ښکاره شو نو لازمې و حتمې خبره وه چې ناروا اړيکې يې ساتلې دي. ځکه به يې نو خوسر او خواښې د زنا تور پرې پوري کړ او هغې به هم د کلي پر يوه ځوان لاس کېښود چې دغه له ماسره اړيکې ساتلې دي. له دې مثالونو مونږ ته ثابتېږي چې نارينه مو د اولاد بندولو په چم نه پوهېږي. که پوهېدای نو د هغه اولاد مخه خو به يې نيولې وه چې د ده او ټولې کورنۍ د بدنامۍ ترڅنګ د يوې بلې کورنۍ بدنامې هم ور سره تړلې او له دې کاره ستر جنجالونه را پيښ شوي دي.

زيات اولادونه زمونږ په يوه ستره بدمرغي بدل شوي. والدين يې سمه تربيه نه شي کولای. په مالي لحاظ يې سترړي کړي. لازمه غذا نه شي ورته چمتو کولای. ناروغيو او جامو ته يې سمه پاملرنه نه کېږي. د لوبو او ساتېري وخت او توکې نه شي ورته تيارولای. د بې سوادۍ او بې کارۍ ګراف ور سره لوړېږي. په ټولنه کې جرمونو او خشونت ته مخه کوي. دا انسانان د دې لپاره چې بل ته خير ورسوي، ټولنه هوسا کړي، خپله انرژي سم ځای مصرف کړي، بدو لارو ته مخه کوي، جرمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سره کوي، انسانان وژني، قاچاق کوي، لاري وهي، خپله هم پر ناسمه لاري ځي او نورو ته یې هم چانسونه برابروي.

موږ اوس له ډېرو اولادونو په هر لحاظ ستومانه یو. دولت، مدني ټولنې، د علم مرکزونه، موسساتې، لوستي خلګ، رسنۍ، علماء او نور مسوولیت لرونکي کسان دنده لري چې د اولاد نه راوړلو او زیاتو اولادو د زیانونو په اړه عامه ملت ته پوهاوی ور کړي. که د دې اقدام هر څومره ژر کېږي، موږ به یې حتمې ګټې هم ژر ووینو.

## ګډ ژوند

زموږ یو بد کلتور دا هم دی چې خلګ مو تر ډېره وخته په یوه کور کې ګډ ژوند کوي. ګډ ژوند ته تر اوسه هم زموږ زیاتره کسان په ښه سترګه ګوري. مذهبي کړۍ وایي چې دا اتفاق دی او اتفاق د خدای خوښ دی. قومې مشران وایي چې په دې کار کې برکت دی او برکت د نیکبختۍ نښه ده. پلرونه او د کورنیو مشران وایي چې ګډ ژوند زموږ پر ښو اخلاقو، زغم او زیات صبر دلالت کوي او دا زموږ د ښې تربیې نتیجه ده.

البته یوازي دا لوړ یاد شوي اقوال یې هم ټول عوامل نه رانغاړي. له دې پرته نور لاملونه هم لري. د اتفاق خبره ناسمه ده. موږ زیاتره کسان نن وینو چې په جلا کورنو کې اوسي خو ترمنځ یې د خوښۍ او غم خبره یوه وي. یو له بل سره همکارۍ یې کله هم نه ده سپمولې. نو د اتفاق دا تعریف نن ناسم دی چې یو ځای اوسېدنه د اتفاق نښه ده. اتفاق له یوځای اوسېدلو پرته هم ممکن دی که یې څوک غواړي او شوق یې ولري.

د برکت خبره زموږ له بې شعورۍ سره اړیکه لري. موږ برکت په ګډ ژوند کې غواړو او نورې نړۍ په زیار او کار کې غوښتی. موږ بریالي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که نور؟ بې برکتي او برکت چې د کومو ځایونو لپاره موږ کاروو، یقینا بې مانا او بې مفهومه الفاظ دي او یوه مانا هم نه لري. که هر سړی کار وکړي او خپل کور ته د اړتیا وړ شیان چمتو کړي نو د ګډ اوسېدو او برکت خبره به له سره مطرح نه شي. د کور د مشرانو خبره هم سمه نه ده. اخلاق په عملي میدان کې زموږ ښه دي که د نورو؟ هر څوک دلته یو مثال بیانوي چې نه، ولا تر موږ نور خلګ ډېر اخلاقیان دي. نو بیا زموږ د مشرانو خبره بې بنیاده ده. اخلاق یوازې دا نه دي چې یو ځای سره اوسو. بلکې ډېری کورنۍ مو ګډ ژوند لري، خو نه له خپلو سره ښه اخلاق کوي او نه له نورو سره. عملا یې ډېره فیصدي برخلاف ده خو زموږ مشران بیا هم د کلتور له وجې ګډ ژوند ښه بولي او د اخلاقو یوه بیلګه یې ګڼي.

د ګډ ژوند یو بل لامل له پایلو ناخبري هم ده. موږ دې ته فکر نه دی کړی او نه مو په ټولنه کې تعامل ته په ښه دقیق نظر کتلي چې ګډاوسېدل زموږ په ژوند کې مثبت نقش لري او که منفي؟ هغه کسان چې د ګډ اوسیدلو فکري طرفداران دي؛ دې ته نه دي کتلي چې دلته ګډ ژوند د ډېرو بدمرغیو سبب کېږي. له دې کاره د ناسم احترام فکر را پیدا شوی. کشر کار کوي، مشر ته د احترام له مخې د کار څوک نه وایي، حتا که مشر کار ته ورشي نو کشران یې منعه کوي ځکه ډارېږي چې خلګ پیغور ور کوي. نو مشر همداسې لټ ګرزي او د بل په تناکو تر لاسه شوي توکي دی او د ده اولادونه هم خوري. له دې امله اولنو ویلي چې یو یې ګټي او شل یې څټي؟ دا خبره دوی ته اتفاق وه او موږ ته بې همتي او لټي ښکاري.

د ګډ ژوند یو بل لامل کمزوری اقتصاد دی. زموږ هر کس جلا د خپل کور مصارف نه شي پرېکولای. له دې امله یا له پلار سره اوسي او یا څو ورونه یو ځای ژوند کوي چې د کور کرایه، د برق او اوبو بیل په ګډه سره ادا کوي. ځینې وختونه د کور ټول لګښتونه په ګډه سره پریکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګونـو او تصـادفي ژونـد هـم ګـډ اوسـېدلو تـه اړ کـړي دي. دلتـه مرګونـه زیـات دي. د دې لپـاره چـې سبا دی نه وي او کـورنۍ یـې بـې سرپرسته پاته نه شي، نـو ګـډ ژونـد سـره کـوي او کـه یـو ورور سـبا وژل کېږي ښځه او ماشومان یې د نورو له غاړې وي او هغوی یـې سـاتنه د ځان دنده بولي.

له پیغـوره ځـان ساتنه هـم ددې سـبب شـوې چـې کشـران ورونـه لـه مشرانو او زوی له پلار سره یو ځـای ګـوزاره وکـړي. زوی تـه خلـګ پیغـور ور کوي چې له پلاره جلا شوې. ښه کار دي نه دی کړی. پلار ته سـاتلی یې، ښه یې در سره کړي، مور دې هم ستا ساتنه کـړې، نـو نـن بایـد تـه په ښه ور شې. لاکن ته ځنې جلا شـوې. دا نـو اوس د مـور و پلـار حـق دی؟ له ملا تر ملکه یـې ټـول ملامتوي، لـه دې املـه ځـوک زړه نـه ښـه کوي چې بیل ژوند وکړي.

داسې کـورنۍ هـم شـته چـې د پلـار او مـور لـه املـه ګـډ ژونـد کـوي. زمـوږ خپـل پلـار د زامنـو پـه جلـوالي زیـات خپـه کېـږي. د مشـر ورور پـه بیلوالي مو مور بیخي تر مرګه ناجوړه شوه او اخیر مړه شـوه. مـور بـه مې ویل چې زمـوږ دوو پـه ژونـد کـې بـه تاسـو نـه سـره جلا کېـږئ. خـو مشر ورور مې د مور خبره ونه منله او جلا شـو چـې دې کـار یـې زمـوږ پر مور بد اغیز وکړ.

د ګډ ژوند کلتـور مـوږ تـه ځینـې سـتونزې ایجـاد کـړې دي؛ دا خبـره زه تکرارا هم ویلای شم؛ اما د خپـل مـور، پلـار، ورونـو او خونـدو خیـال هـم باید وساتو. مګر داسې نه چې ګډ ژوند سره وکړو، بلکې هغوی ته باید قناعت ور کړو چې جلاوالی هیڅ بـد کـار نـه دی او ستاسـو هـر خـدمت زموږ ټولو دنده ده. د ګوتو په شمار ځینې کورنۍ داسې هم شته چې د مور و پلار په ژوند کې سره جلا شوي او خپل والدین یـې هـم خـوښ ساتلي دي. که موږ د دې کلتور عامولو ته کار وکړو نو یوه ورځ به ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا ډېری والدین په دې راضي وي چې زامن یې سره جلا خونې ژوند وکړي.

## زموږ ټولنه او د ښځو د ازادۍ حق

ازادي د هر انسان حق ده؛ اما دلته د کم پوهاوي او د ځینو هغو کسانو له لوري ملت ته غلطه ور معرفي شوه چې د ازادي مفهوم یې زموږ له ټولنې او ارزښتونو څخه بهر غوښتی. د ازادي مفهوم موږ ته په نور برخو کې هم د نن له غوښتنو سره سم نه دی راپېژندل شوی. د وطن ازادي ده که د بیان ازادي، د ښځو ازادي ده که داسې نوري ازادیاني. موږ د سمې پېژندنې پر ځای  د هغو اصلي مفهومونه هم پسې مروړلي او تر عامو اذهانو مو ناسم رسولي. له دې امله خلګ یې د خپلولو پر ځای دوښمني ور سره کوي. د ښځو ازادي ته هم زموږ خلګ په ناسمه سترګه ګوري. دوی فکر کوي د ښځو ازادي دا مانا چې فحاشي دې روا وي. دا مانا چې میرمنې دې لڅې ګرزي. دا مانا چې له ځوانو هلکانو سره دې ګرزي، د مینې کیسې، عاشقانې او عیاشیاني دې په عامو کوڅو او بازارونو کې سره کوي. زه له داسې کسانو سره مخ شوی یم چې د ازادي په اورېدلو یې دا لوړ شیان راته بیان کړي او بیا یې ویلي ته خپله میرمن یا خور داسې غواړې.

که ورته وایې چې یا، نو دی وایي، ازادي دلته نه چلېږي، که ورته وایي چې داسې نه ده، دی فکر کوي چې په دې لوړو شیانو دا کسان راضي دي. سړی په دوه کې ورته حیران شي چې د دې کس ستونزه یا خپل کم پوهاوی دی یا د ځینو هغو کسانو د اعمالو نتیجه ده چې ادارتا یې له دې مفاهیمو ناسمه استفاده وکړه او لا یې هم کوي؛ په هر حال دغه کسان ټولنې ته ستونزې جوړه وي.

میرمنو ته ازادي د فحاشي په مانا نه ده. میرمنو ته ازادي داده چې خپل حقونه تر لاسه کړي، د یوه انسان حیثیت ولري نه د مال، یا یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس د عزد وسیله شي چې هغه یې څنګه کارول وغواړي هغسې به کېږي. میرمن حق لري چې زدکړې وکړي، دا حق باید هغې ته ور کړل شي نه دا چې ورور او پلار یې د خپل غیرت په نوم څنې واخلي. میرمنه دکار حق لري، دا باید د یو حق په ډول ورته ومنو؛ نه دا چې ترې وتروړل شي. میرمنه د مېړه د انتخاب حق لري، له دې کاره یې منعه کول د ازادي د سلب په مانا دی. د جامو په اړه خپله رایه لري، د تلو راتلو په اړه خپل نظر لري، د ملګریو نجونو په اړه خپله تصمیم نیسي. د یوه انسان او د ټولنې د یوه غړي په حیث هغه شخصي ژوند لري او شخصي چارې لري چې بل کس د هغې د قریب، مشر او کشر په نوم ګوتې پکې ونه وهي، له بده مرغه شخصې کارونه یادول دلته بد مفهوم د خلګو اذهانو ته رسوي، خو حقیقت داسې نه دی. مثلا؛ د هغې جامې، داسې نه ده چې مېرمنې له خپلو ارزښتونو خبرې نه دي، دلته به د یوې غربي ښځې په شان جامه اغوندي او دا به د هغې حق بلل کېږي، هغه کار چې عامه ټولنه ترې متضرره کېږي د یوه کس حق نه شي بلل کېدای، اما د ارزښتونو په مرعاتونې میرمن خپله د جامې د انتخاب حق لري، زدکړې، تر هره وخته یا هره رشته چې وایي د هغې خوښه ده، البته نظر ور کول که یې اړتیا وه بده خبر نه ده؛ مېړه د هغې حق دی، دا شخصي چارې دي.

ډېرې الفاظ د ټولنې او زمانې په تېرېدا خپل مفهوم هم بدلوي. د میرمنو ازادي هم زموږ ټولنې ته په کتو خپل هغه مفهوم نه ور کوي چې د امریکا په ټولنه کې یې خلګ ورته مني یا یې میرمنې غواړي. دلته ازادي شرعي قوانینو، ټولنیزو اصولو او اساسي قانون ته په پام تعریفېږي. موږ دلته میرمنو ته هغه ازادي غواړو چې خدای په خپل قانون کې ور کړې او پوهانو یې په قانون کې مسلم حق بللی دی. نه د غرب ازادي غواړو، نه د اروپا. دلته د ازادي لپاره مبارزه کونکې دا ټول ځمکني شرایط په پام کې نیسي او بیا د میرمنو د ازادي ږغ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ یو مشکل دا هم دی چې له خپله ځانه جوړ شوي تعریفونه پر نورو هم ور تحمیلوو په داسې حال کې چې هغه له واقعیت سره سمون هم نه لري. د میرمنو د ازادي لپاره هم دلته په قبیلوي، مذهبي او دودیزو حلقو کې یو تعریف جوړ شوی او عامو خلګو ته هغه بیانېږي او د دې کار پر ضد تبلیغات کوي. که زموږ ملت لوستی وای او یا مو لویه فیصدي تعلیم در لودای، نو داسې ناسمو تبلیغاتو به ژر اغیز نه را باندي کولای. زموږ زیاتره کسان لوستي نه دي او ځینې بد مغزه کسان یې په دې او هغو دلایلو ناسم استعمالول غواړي. له دې کسانو سره که څه هم علمې دلایل او نظریې نه شته خو زموږ پخواني کلتور او د غرب د پروژې په نوم تبلیغاتو ګټه ورته رسولې ده. یوه نکته دا هم ده چې روشنفکري یوازي په تحصیل پوري اړه نه لري، ګڼشمېر کسان شته چې زدکړې هم لري اما د میرمنو په حق منلو کې تر نالوستو ډېره کوتاهي کوي. ځینې د پوهنتون استادان شته چې لوستو میرمنو ته د کار، بهر تلو، وظیفې او ان د خپلې خوښې کارونو اجازه لا نه ور کوي. دا یوه ستونزه ده چې حل یې وخت او زیار ته اړتیا لري.

## ښځه دویمه درجه مخلوق

زموږ خلګ یو متل لري چې وایي؛ (اوس به مو نر او ښځه سره مالوم شي) مانا که نر وې نو دا کار به وکړې او که دې ونه کړ، نو ښځه یې. په غیرت، مېړانه او تکړه توب کې د نر په شان نه یې.دا متل خو زموږ له همدې ذهنیت څخه سرچینه اخلي. موږ د میرمنو په اړه همدا د دویمه درجه انسان تصور لرو، ځکه مو نو په ټولنه کې له وخته دا رنګه متلونه را پاته دي.

موږ له ډېره وخته په خپل تاریخ او کلتور کې د ښځې مقام همداسې تعین کړی دی. د اسلام تر راتلو وروسته دودیزو ملایانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام ځکه د خدای او رسول په نوم زموږ پر همدې ذهنیت د سموالي داسې ټاپې ولګولې چې تر پخوا یې په ډېره پیمانه زموږ خلګ له میرمنو سره همدې چلند ساتلو ته وهڅول.

میرمنو ته دویم مقام ور کول اوس هم مذهبي ریښې لري او هم کلتوري. دا بستر لومړی په کلتوري لحاظ اوار شوی وو او ملایانو مذهبي جنبه هم پسې ور کړه. جالبه دا ده چې زموږ د ټولنې ډېری میرمنې اوس خپله هم په دې مقام راضي دي او که د دې ذهنیت خلاف خبرې ورته وشي؛ نو لومړی یې خپله میرمنې هم نه مني.

اسلام د میرمنو د حقونو لپاره خورا ډېره مبارزه کړې او د عربو ذهنیت یې یو مخ د میرمنو په اړه بدل کړ. قران کریم د نساء په نوم بسته سورت لري او په عربي ټولنه کې له میرمنو سره د کېدونکې ظلم په وړاندې اسلام لومړی ناره اوچته کړه. اسلام هغه کسان وغندل چې د لور په پیدا کېدو به یې مخ توره لمبه کوله او د خلګو د پیغور له امله به پټ ګرزېدل. اسلام د هغه چا له جرمه هم پرته پورته کړه چې نجونې به یې له عاره ژوندۍ پټولې او خدای یې دا کار نه هېرېدونکی جرم وباله.

اسلام میرمنو ته د نارینه وو په شان د زدکړو مساوي حق ور کړ. اسلام په ټولو عباداتو کې د میرمنو ونډه مالومه کړه او له نارینه سره د اوږده په اوږده درېدلو جواز یې ور کړ. اسلام میرمنو ته د خپله ژوند ملګري ټاکلو جواز ور کړ او هغه تړون یې لغوه اعلان کړ چې د میرمنو له اجازې او رضا پرته تر سره شوی وي.

اسلام له عدالت او اړتیا پرته د څو میرمنو جواز له نارینه څخه واخیست او دا یې له میرمنو سره د نارینه وو ظلم وباله. په میراث کې یې خپل حق ورته مالوم کړ. په ټولنه کې یې مقام ور کړ او د عربو د ذهنیت برخلاف یې میرمنو ته یو مثالي مقام ور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاکن خبره دلته ورانه شوه چې له همدغه اسلام څخه ځینو داسې کسانو د میرمنو د حقونو تعبیرونه موږ ته بیان کړل چې د د ښځو په اړه د ناسم کلتور په محدوده کې بند ول او دغه خپل مشکل یې درک کاوه هم نه. د اسلام پر ځای یې د عالمانو په خبرو خطا کړو. د دې سیمې د فرهنګ له امله یې ګڼشمېر د هغه وخت ایاتونه او احادیث منسوخ کړل او یا یې وویل چې نن په دې عمل نه شي کېدای.

زموږ مذهبی کړیو کې تر اوسه هم مشهور ده چې میرمن د نارینه له چپه پښتۍ څخه جوړه ده. تر اوسه هم فکر کېږي چې عقل یې تر نارینه کم دی. دا فکر لا ښه پوره حاکم دی چې خدای د میرمنو چارې نارینه وو ته ور له غاړې کړې. نرواکه ټولنو کې نارینه د خپل اقتدار ساتلو په موخه هر څه د خپل ځان په ګټه تماموي. دلته هم زموږ ملایانو چې ټول یې له نارینه قشر سره اړیکه لري د میرمنو د شتون په وړاندي همدغسي ناعدلانه تګلاره کارولې. په نورو ټولنو کې میرمنو د خپلو حقونو لپاره له ډېره وخته مبارزه وکړه او تر ډېره حده یې د نارینه له ولکې خپل حقونه وایستل. مګر له بده مرغه چې زموږ ټولنه لا له دې لحاظه یوه ډېره وروسته پاته او د خام ذهنیت خاونده ده.

موږ د میرمنو په اړه د ازادي او له نارینه سره د ژوند په ټولو یا هم ډېرو ډګرونو کې د هغوی عادلانه حق نه شو زغملای. له دې امله د هغه چا نارې او مبارزه راته شکمنه ښکاري چې د میرمنو د حقونو او له نارینه سره د متناسبې درجې لپاره کار کوي. دا ځکه چې زموږ له کلتوري او مذهبي ذهنیت سره برابر نه دی. نور باید له خوبه را ویښ شو. د خپل ناسم کلتور د سمولو او دودیز مذهبي فکر د سمون هڅه وکړو. د خدای په قانون کې د عدالت او تناسب له هغو نصوصو څخه کار واخلو چې په خپل کتاب کې یې د میرمنو په اړه را لېږلي. د هغو ناسمو تعبیرونو مخه ونیسو چې د خپل زمان او مکان د محدودیت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبله یې اسلامې متون هم پر ناسم لور بیولي او د خلګو ذهنیت یې په دې توګه په ولکه کې اخیستی دی.

## ښځه په میراث کې

میرمن د انساني ټولنې نیمایي برخه تشکیلوي. د ټولنې په پرمختګ، فعالیتونو، مدنیت، ویښتیا او حتا جنګونو کې یې لا ونډه اخیستې ده.د سبط حسن په وینا چې میرمنو لومړی د زراعت بنسټ ایښی دی.(ماضي کې مزار) له دې امله نو هغه حقوق چې نارینه یې مستحق بلل کېږي باید میرمنو ته هم ومنل شي البته ځینې استثناوې به لازما وي.

اسلام له پیله په خپل کره متن کې د میرمنو دې حق ته ځای ور کړی او پر خپلو پیروانو یې لازمه کړې چې د میرمنو حقونه ادا کړي. قران کریم د نساء په سورت کې د میرمنو په اړه پر ګڼو مسلو په واضح ډول ږغېدلی. د پلار له کوره حق او همدارنګه د مېړه له کوره حق دواړه د قران کریم صراحت دی. په هر کور کې د میرمنو دا حقونه نه ور کول د قران کریم مخالفت، د میرمنو حق تر پښو لاندې کول، له انساني قوانینو سرغړونه او بشري اخلاق له پامه غورزول دي.

زموږ ټولنه له میرمنو سره په دې ډګر کې څه معامله کوي؟ زما یوه مور او څلور مې د مور خوندې دي. له پلاره یې ښې ډېري مځکې او جایدادونه پاتې شوي. یوازي درې وروڼه لري. دا ځمکې او جایدادونه هغوی سره تقسیم کړل اما د خوندو حق یې په پام کې نه دی نیولی.

زموږ په ټول کلي کې داسې کس نه دی را مالوم چې د میرمنو په طبقه کې دې چا ته حق ور کړی وي. زموږ د کلي مشر یوازینی کس دی چې خپلې خور ته یې د حق وړاندیز کړی. هغې ورته ویلي ما حج ته بوزه او حق نه کوم. ورور یې په خور حج وکړ او تر ژونده یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ساتنه هم پر غاړه ده. دا په ټول کلي کې زما د مالوماتو له مخې یوازینی مثال دی.

زموږ فکر داسې جوړ شوی چې خور یا لور په کور کې دومره حق لري چې یو مهال د ځو ورځو لپاره میلمنه راوستله شي. په کال یا دوه کې جوړه کالي ور وکړي او یو اختر د هغې کورته د پوښتنې لپاره ورشي. عام رواج اوس دا دی چې خوندو یا لونو ته حق نه ور کول کېږي. ورونه خوندو او حقداره میرمنو ته وايي چې حق دي را وبخښه. میرمنې د عمومې ذهنیت له امله بس بخښه کوي د حق غوښتنه هم شرم ورته ښکاري او هم یې نوري میرمنې بیا ور پيغور کوي چې پلانۍ له وروره حق اخیستی دی. دا بیا د میرمنو ترمنځ سمدم ناسم کار بریښېدلی. ځکه له بیخي ډېره وخته میرمنو ته حق نه ور کول او د پلرګنۍ یا مېړه کورته بخښل یې زموږ کلتور ګرزېدلی له د ې امله اوس نه مېرمنې د حق غوښتنه کوي او نه نارینه په اسانه دي ته چمتو کېږي.

د میرمنو د حقونو لپاره مبارزه هم د انساني وجدان غوښتنه ده او هم د شریعت. د دې لپاره چې دا ناروا کلتور ختم شي باید میرمنې په خپلو حقونو پوه کړلې شي او نارینه وو ته قناعت ور کول شي چې دا د هغوی حق دی. دولت، مدني ټولنې، دیني عالمان، اکاډمېک مرکزونه، رسنۍ، لیکوال او شاعران ټول دا دنده لري چې په ټولنه کې د میرمنو د حقونو لپاره کار وکړي. دولت باید د دې لپاره ځانګړي ماډرن قوانین رامنځته کړي. په خلګو کې عامه پوهاوی زیات کړل شي. میرمنو ته خپل حقونه ور معرفي شي او د ټولنې دا اوسنی ذهنیت د میرمنو په اړه بدل شي.

د اوسني رواج تاوان دا دی چې د انسانانو حقونه پکې خوړل کېږي او له انساني و خدایي قوانینو څخه دوامداره مخالفت کېږي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان په فردي ژوند کې یو پر بل په تیری عادت شي نو بیا له دې نور اجتماعي ظلمونه را زیږي. څومره چې افراد په خپل ژوند کې عدالت تامینوي، همدومره د انسانانو اجتماعي ژوند کې عدالت پلی کیږي او انساني ټولنه د سوکالۍ لور ته خپل مزل لنډوي.

د فردي او اجتماعي ظلمونو د مخنیوي په خاطر لازمه ده چې د میرمنو حقونو ته په درنه سترګه وګورو او هر وخت چې یې غوښتلو او ور کولو ته ملا وتړو، نو ښه به مو کړي وي او د عدالت و انصاف لورته به مو یو ګام بل هم اخیستی وي. میرمنې زموږ د انساني ټولنې غړې دي او موږ باید له هغوی سره د یوه انسان په شان معامله وکړو. کله چې نارینه د خپل حق غوښتنه کوي، نو میرمنې هم باید حقونه وغواړي. ان نارینه باید له ښځې سره په دې برخه کې مرسته وکړي یوه برخه خپله هغې ته ور وبخښي څکه د ځې په وړاندې دلته د کار او خدمت محدودیتونه شته اما نارینه له دې قیده خلاص دی؛ له دې توپیر سره زموږ معامله برعکس ده. که میرمن یې طلب نه کړي موږ باید دا جرات وکړو چې د هغوی حقونه له غوښتنې پرته ورته تسلیم کړو. په دې توګه به مو هم انسان خوشاله کړی وي او هم خدای. هم به مو دونیا سمه کړې وي او هم اخرت. د خوشاله ژوند او ښه اخرت لپاره خپلو میرمنو ته حقونه ور کړئ!

## یوه میرمن؛ هم ماینه او هم وریندار

زما د مشرې خور معراجې مشره لور صدیقه نومیږي. د کډوالۍ مهال یې په کچلاغ کې یوه کلیوال کس ته واده کړې وه. د صدیقې یوه لور او یو زوی پیدا شول. زوی یې د یوه کال وو چې میړه یې شکرې ناروغۍ مړ کړ. د صدیقې لا عده نه وه خلاصه چې لېور او د هغه خپلوان ورته شله شول چې ته باید خپل میړه مالوم کړې او د تېره میړه هر څه د هغه په خپلوانو کې یو چاته وسپاره. کله چې مو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی خبرې واورېدې نو لېور یې ځان ورته کاندید کړی وو چې زه یې ماینه کوم. په داسې حال کې چې لېوره یې د شکرې له ناروغي سره په تاریاکو هم اخته وو. خپله لومړۍ مېرمن یې په خوندي نه وه. مګر د بلې غوښتونکی وو.

د کندهار د پاشمول یوه کورنۍ مې پېژندله چې یو هلک یې له امریکایانو سره په جنګ کې ووژل شو. مېرمن یې دویم ورور وکړه. بیا هغه هم طیارې وویشت. دا میرمن یې درېیم ورور ته په داسې حال کې کېنوله چې د هغه بریتونه هم راغلي نه وو. دې خلګو له امریکایانو سره جهاد کاوه خو په کور کې یې داسې اسلام او عدالت پلي کاوه؟!

ما چې زموږ ټولنه څومره مطالعه کړې، نو زیاتره شعارونه ور کوي خو عمل نه په کوي. زموږ ۹۹ فیصده هیوادوال مسلمانان دي، اما لس فیصده هم دې ته تیار نه دي چې خپلې وریندارې ته دقران کریم ور کړی حق ور کړي. موږ تر هغو شعار ور کوو چې ګټې پکې وینو، یا ځان په دینداره مسلمان ښکاره کوو، اما که داسې مهال راغی چې زه باید هغه شعار عملي کړم، نو بیا ورته تیار نه یم. زموږ د کلیو او ښارونو هر اوسېدونکی داسې ژوندي مثالونه لري چې زموږ خلګ له وریندارې د ازادۍ حق اخلي.

قران کریم په دې اړه داسې امر کړی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا (النساء: ۱۹)

ژباړه: ای مومنانو! د میرمنو په زور میراثي وړل درته روا نه دي.

په یوه حدیث کې هم راغلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا، وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا» (مسلم: ۳۱۹۸)

ژباړه: ابن عباس ويل چې رسول الله وويل: کونډه د خپل ځان په اړه تر ولي ډېره حقداره ده او له پيغلي به د دې په اړه اجازه غوښته کېږي او اجازه يې خاموشي ده.

د قران کريم ايت کې راغلي چې د هغې له ناخوښۍ سره ميرمنې په ميراث مه وړئ. دا عينا د عربو هغه رواج ماتوي چې د مېړه تر مرګ وروسته به يې ښځه نورو له مهر، خوښي او ازاد انتخاب پرته وړه. دا کار نن زموږ پښتانه هم کوي. نه يوازې دا چې په ميراث کې حق نه ور کوي بلکې د کورنۍ بل غړي ته له مهر او خوښۍ پرته کېنوله کېږي. ميرمن په يوه نکاح د يوه کس لپاره غوښته کېږي، کله چې له هغه مېړه خلاصه شي؛ نو بيا له بل کس سره نکاح به د هغې په خوښه تر سره کېږي. مهر که بخښل کېدی هم روا ده، خو خوښي لازمې ده. د مهر په اړه ايت دی:

وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً (النساء: ۴)

ژباړه: او ميرمنو ته د هغوی مهرونه په خوښي ور کړئ.

زموږ په ټولنه کې که سروې وشي نو زرګونه داسې ميرمنې به پيدا شي چې لومړی د يو چا ورېندار وي او بل وخت يې په ناخوښي ميرمن شوې وي. يوه ميرمن که د خپل مېړه تر مرګ وروسته د مېړه په خپلوانو کې له يو چا سره په خوښه واده کوي، بد کار نه دی. اما که په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور یې وړي، دا کار هم شرعا، هم اخلاقا او هم د قانون له مخې ناروا او غیر انساني دی.

## د غمونو رواجونه

په دې برخه کې هم ټول رواجونه نه را اخلو. بلکې له میرمنو سره د ځینو تړلو رواجونو یادونه کوم. که د یوې میرمنې مېړه مړ شي، نو دا په رښتیا هم یو ډېر لوی غم دی. زموږ په ټولنه کې چې میرمنې د خپل برخلیک پریکړه په خپله نه شي کولای، د مېړه مرګ ورته له زغمه وتلی غم دی.

تر دې ور هاخوا بیا بل غم دا هم دی چې د کلیوالو میرمنو، خپلوانو او تعزیت ته راتلونکو میرمنو په وړاندې به ځان ظاهرا هم ډېر غمځپلی معرفي کوي. تر ډېره حده زموږ په سیمو کې میرمنو ځانونه داسې کول چې پیریان یې نیسي. کونډې میرمنې به د میلمنو د راتلو مهال بس همدا چمونه کول. دا یو داسې رواج جوړ شوی وو چې ډېرو ښځو به دا کار کاوه. دلته به نورو میرمنو ویل چې خوارکۍ ملامته نه ده لوی غم یې لیدلی او داسې نور د زړه سوي الفاظ به یې ویل.

یو عام رواج له غمه د خلاصون لپاره د نذرونو ایښودل هم دي. بیخي لویه فیصده مېرمنې دا کار کوي او زیاتره وخت د روژو نذر مني. ځینې بیا د غم مهال زیارتونو ته ځي. څوک ملنګانو ته پنا وړي او داسې هم کېږي چې کوډګرو ملایانو او پیرانو ته سر ور ښکاره کړي. د تاویزانو راوړل او څاښتونه خوړل هم یو عام رواج دی. له تکلیفونو او غمونو د خلاصون لپاره کوډې کول هم پخوا رواج وو. زموږ مور او خوندې به د ځینو ښځو په اړه سره ږغېدې چې هلته یې کوډې کړې او هغې بیا په پلاني کوډګر ماتې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خرافات په ټولنه کې

زموږ د کلي يوه بوډۍ ميرمن وه چې بودرۍ نومېده. مشرانو خونـدو به موږ ته ويل چې په ژمې کې د شپې مارګوزمی راځـي. دا ډېـر غـټ وي او انسـانان بيـروي. بيـا بـه يـې مثـال ور کـاوه چـې د عمرجـان اکـا ميرمنې ته راغلی. بودرۍ اکۍ ويل چې يوه ورځ د خونې دروازې تـه د يو چا ږغ وو. ماته يې ويل، دروازه خلاصه کړه خو ما نه خلاصـوله. کلـه چې سهار را ووتم نو د لستوڼي خـولې او ګريـوان يـې را تـه ايلـه کړي وو. دا مارګوزمی وو.

دا ميرمن زمـوږ پـه ګاونډ کـې اوسـېده. مـوږ پـه خرافـاتو کـې دومـره غرق وو چې له دې ميرمنې مو کله هم پوښتنه ونه کړه چې ايـا رښـتيا ستا سره داسې شوي دي؟

د مـور يـوه خـور مـې وه. تـر دې کشـره وه او نـوم يـې زيـارتو وو. دې خاله مې يوه شپه زموږ په کور کې کيسه راته کولـه چـې زمـوږ د کلـي ملاماما به کله ناکله له سترګو نادرکه کېده. ملاماما د دوی په کلي يـو بوډا ملا وو چې په خلګو کې په ولي مشهور وو. خاله مې ويـل، قسـم درته کوم چې يوه ورځ زه پسې روانه وم او ملاماما يوې کنډوالې ته د ننوتو مهال ورک شو.

مور مې(طلا) ځوپلا دا کيسه راته کړې وه چې يـوه ورځ سـهار مهـال موږ چايو ته ناستې وو. يـو کـس چـې تکـه سـپينه ږيـره يـې وه، سـپين کـالي يـې اغوسـتي ول او داسـې مـوچڼې يـې پـه پښـو کـړې وې چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چغکی یې ختی له دې دروازې کورته راغی او پر هغه بله دروازه ووتی. ما ورته ویل، نو دا به څوک وو؟ دې ویل: خامخا کوم ولي یا د خدای نازوردار وو.

د مشرې خور کور مې د کلي په یوه سر کې او مور یې په بله خوا کې اوسېدو. کله چې به ماښام مور ماشومان له غټو میرمنو سره یوځای د خور کره تلو نو مور به مو وچه ډوډۍ په لاس کې راکړه او راته ویل به یې چې دا واخلی، څمکې د شپې درنې وي له دې سره به نو نه ډارېږئ.

زمور له موره دا مې خبره بیخي زیاته اورېده چې ویل به یې د صفرې میاشتې تر نیمایي له اسمانه بلاوي را کښته کېږي او تر پنځلو ورځو وروسته بیرته پورته کېږي. له دې سره یې یوه کیسه راته وکړه چې د هجرت مهال یوه ورځ د خونې مخته پر لمانځه ولاړه وم. د دهلیز دروازه چې د بهر خواته ځنځیر وه د دهلیز خواته کش شوه. دې ویل، زه په لمانځه کې سخته وډار شوم. سهار مې دا کیسه ستاسو پلار ته وکړه چې د شپې داسې مسله وه او دا د صفرې میاشته هم ده. هغه ویل، مه کوه داسې به نه وي؛ ستا وام به وي. دا وایي ما قسمونه ورته کول چې دومره ډارنه خو نه یم دروازه څو واري دهلیز ته کش شوه. دې ویل، په دې وخت کې شهید مولانا را ږغ کړل چې هغه خو زه وم. ما ورته وویل، تا نو هلته چېشي کول؟ ده ویل، زه په وریجو پسې گرزېدم. بیا مې دروازه کش کړه خو هغه بنده وه وروسته تر کلکین راووتم.

خوندو به مې ویل چې په کوم کور کې مړی وشي، بیا تر یوه کاله د هغه کس روح هره ورځ خپل کورته راځي او وینې چې څوک هغه یادوي، خیرات پسې کوي او نفلونه د هغه لپاره کوي کنه؟ داسې هم کېږي چې کله هغه روح د هغه کس یا بل بزرگ په بڼه را ښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره به مور د مړي په وخت کې سخت ډارېدو. د مړي کورته به نه شوای ورتلای. حتا که به مو په کرونده کې کوم سپینکالی ولیده نو وام به مو وو چې هسي نه کوم مړی راروان وي.

دا یې هم راته ویلي وو چې مړی که یوازي پاته شي نو شیطانان یې را کېنوي. له دې سره به یې یوه تېره کیسه کوله. ویل یې، په یوه کلي کې پخوا مړی شوی وو.خلګو د شپې جومات ته وړی وو او همداسې یوازي یې ایله کړی وو. د شپې کوم میلمه کلي ته راغلی وو او مسجد ته د خوب لپاره تللی وو. هغه خبر نه وو چې په کلي کې مړی شوی دی اومسجد کې یوازي پروت دی. له دې امله ښه بېغمه ورغلی دی.

کله چې لیږ وخت تېر شوی دی، نو د مسجد له یوه کونجه سپین انسان ډوله یو شی را ولاړ شوی دی او ځان یې پر میلمه ور اچولی دی. دوی به ویل چې دا کس ډېر زړور وو. مړی یې له ځانه ایسته کړی او په تاخته له جوماته وتلی وو.

زموږ په کور کې چې به کومه پېښه وشوه، یا به زلزله وه یا که به د غم کوم خبر راغی نو مور به مې له ځان سره ویل چې یا پیره ګړندیه را رسېږه. زه نه پوهېدم چې پیر ګړندی څوک وو؟ خو دا کلیمه مې په لسهاو واره ترې اورېدلې. یو وخت مې ورته وویل چې دا کار مه کوه. بیا یې اخیر وخت کې له خولې اچولې وه.

مور مې یو وخت کیسه راته کوله چې که هر ځای نوی پُل، مسجد یا داسې بل شی جوړ شي نو اول خضر راځي او پر تېرېږي یا یې ګوري. که دا مهال چا له خضر څخه دوعا واخیسته نو دونیا او اخرت به یې سم شي. زه به خپله ډېر وخت په دې فکر وم چې کاش مې یو پُل نوی جوړ کړی وای او خضر مې پیدا کړی وای چې دونیا و اخرت مې په سم کړي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یاد خرافات زموږ د ټولنې په دې قشر کې یوازې مشت نمونه یې خروار دي. دا خبره که هر چا کړې ده سمه او پر ځای ده چې چیرې علم نه وي هلته یې ځای خرافات ډکوي. زموږ په ټولنه کې علم کم دی؛ له دې امله خرافاتو پکې ښه پوره وده کړې ده. دا خرافات له کمزوري اقتصاد او په ټولنه کې له شته بې انصافیو سره هم پخه ریښه لري. ګڼ نور عوامل هم لري چې دلته یې پر عواملو او حللارو نه ږغېږم. یوازې دومره وایم چې د علم په راتلو خرافات خپله کډه کوي. که په ټولنه کې د علم لپاره کار وکړو، نو میرمنې مو بیا د خرافاتو پر ځای علم ته مخه کوي.

## د ښځې انحصار او د نارینه ازادي

زموږ په نرسالاره ټولنه کې ډېرې داسې کارونه شته چې میرمنې ځنې بندې او نارینه وو ته پکې ازادي ده. د علم زدکړه، د ژوند هغه مهم عنصر دی چې په نوره دونیا کې نارینه او میرمنې یو ډول توجو ورته کوي. مګر موږ نارینه ته حق ور کوو او میرمنې په مختلفو بانو ځنې بندوو.

نارینه له کوره بهر ته وزي، کار کوي، تجارت کوي، دفتر ته ځي، میلې ته وزي او داسې نور. اما ښځو ته اجازه نه ور کوو چې یاد کارونه وکړي. حتا د اړتیا مهال که میرمن بهر ځي، دوکان کې سودا کوي ډاکټر ته ورځي، نو یوه پلا خو نارینه ور سره وي بیا مو په لویو خلتو کې پیچلې وي. موږ ته نوی فیشن خوند را کوي اما که د میرمنو لپاره کوم شی وي بیا هغه نه ورته مهیا کوو.

داسې کورنۍ مې لیدلې چې لوی او واړه نارینه یې ټول ټلیفون لري او اما په کور کې یې میرمنو ته نه ور ایله کوي. حتا که یوې نجلۍ ته د پلار له کوره ټلیفون راغلی وي، نو د مېړه پر ځای یې لېور ترې اخیستی او پر پردۍ میرمن یې بندیز لګولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کورنه هم کم نه دي چې خپلو لوستو میرمنو ته د نیتې کارونې اجازه نه ور کوي. دوی فکر کوي چې په دې توګه میرمنې بداخلاقه اموخته کېږي. په داسې حال کې چې خپله به د هر یوه سمارټ فون په جیب کې وي او تمامه ورځ په اخته وي. دا یوه لویه ستونزه ده چې مور د میرمنو په اړه بیخي تر ډېره حده بدګومانه یو.

له دې امله کله ناکله پر ډېره وړه خبره جنجالونه را پیدا کېږي او د مېړه و مایني سم ژوند ور سره خراب شي. وړې بدګومانۍ د ځینو میرمنو ژوندونه تبا کړي. زه فکر کوم دا متل به پر ځای وي چې وایي: «څه چې په ځان کې ویني هغه په جهان کې ویني». زمور نارینه خپله په دې برخه کې ورې دي، په هره میرمن پسې سترګې وړې دوی فکر کوي چې میرمنې هم زمور په شان دي. له دې امله نو بدګوماني رامنځته شوې او تاوان یې میرمنو ته رسېږي. خبره د نارینه له لوري خرابه ده او سزا یې میرمنې ګالي.

زه په دې باور یم که میرمنې له کوره بهر هم په کارونو کې پوره ونډه واخلي نو د نارینه وو دا بدګوماني به سوکه سوکه ور سره ورکه شي. په دې اړه دولت، رسنۍ، له میرمنو سره اړوندې ټولنې، موسساتي او د علم مرګزونه دا دنده لري چې د ټولنې دا ذهنیت بدل کړي او میرمنو ته کاري فرصتونه رامنځته کړي.

یو بل ټکی دا هم دی چې که مېړه پر میرمن، پلار پر لور، ورور پر خور او بل قریب پر خپلو میرمنو دومره باور هم نه لري چې که له کوره بهر شوه نو یوه ناشولته به کوي او یو عار به راته راوړي؛ نو بیا عینا همدا معامله د نارینه په اړه هم ده. هر لغړزنی هلک او هر ځوان نارینه چې بهر ته وزي له همدې خطر سره مخ دی یا به د بل په نجلۍ پسې ځي یا به د بل همجنس باز ښکار کېږي، بیا نو یوازې میرمنې ولې له بندیزونو سره مخ دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په خپل کور کې زما پر نالوستې میرمن دومره باور لرم چې که بهر ته د هر کار لپاره ځي، نو زه کله هم دا فکر نه کوم چې زما میرمن دې له یو چا سره ناروا اړیکې وساتي. ځکه که د مېړه او میرمنې ترمنځ دومره باور هم نه وي، نو بیا یوه میرمن په ډېره اساني کولای شي چې په یو نه یو ډول له بل نارینه سره تماس ونیسي او ناسم روابط وپالي. زه چې خپلې لور ته سمه تربیه ور کړم، بیا که زه یم کنه، خو هغه د خپلې ښې روزنې له کبله ناسمو کارونو ته لاس نه اچوي.

په دنیا کې د ډېرو کارونو لویه برخه پر باور ولاړه ده، یو بل شی هر وخت د هر ډول کار او کړنې امکان هم د چا په اړه نه ردېږي. که باور د میرمنو په برخه کې له منځه یوسو او پریکړې یوازې د احتمال پر بنسټ وکړو، نو په دې کار سره به مو څومره انصاف مرعات کړی وي؟ څومره به مو د میرمنو ژوند ته زیان رسولی وي؟ او څومره لویه اقتصادي ضربه به مو خپل ځان او هیواد ته رسولې وي؟ فیصلې یوازې د باور له مخې کېږي، احتمال او شک د دې توان نه لري چې له امله یې د یو چا مسلم حق ځنې وګرزول شي، یا دې یو انسان د شک له مخې له بندیز سره مخ شي. دا کار نه په شریعت کې اساس لري، نه اخلاقي اصول اجازه ور کوي او نه بشري حقوق دا ایجابوي.

له میرمنو سره دا بې انصافي یوازې په نرواکه ټولنو کې تر سره کېږي چې تر ډېره حده یې کونکې په خلګو کې هسکه غاړه ګرزي او د غیرت و ناموس ساتنې په نوم یې خلګ ستاینې لا هم کوي. د نرواکه ټولنو بدي دا ده چې د میرمنو په اړه یې پریکړې یو اړخیزه وي؛ مور زیاتره وخت له میرمنو څخه د هغوی د حقونو او کارونو په اړه د مشورې غوښتنه نه کوو. مثلا: یوه میرمن په ذهني او فزیکې لحاظ د اولاد راوړلو ته چمتو نه ده، اما مېړه یې له مشورې پرته اولاد په راوړي او د هغې هیڅ ډول خبرو ته غوږ نه ږدي. زما یوه خور ده هجرت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم دی؛ د پرلپسې اولاد راوړلو له امله ډېره کمزورې شوې ده. ما ورته مشوره ور کړه چې نوره په دبدني لحاظ د اولاد راوړلو ته تیاره نه یې، نو پنځه شپږ کاله اولاد بس کړه. دې راته ویل، زما وختي لا دا فیصله وه خو دلته یې څوک اوري او څوک عمل په کوي. مېړه ته چې ووایم، هغه وایي که یې راوړې نو سمه ده کنه زه په لور بله کوزده کوم. د بلې کوزدې نوم چې اوري نو میرمن د هر کار کولو ته چمتو کېږي او بیا چې په لور یې وي، خو خوله هم نه چوله کوي.

نو زموږ په ټولنه کې د میرمنو په چارو کې هم د هغوی مشوره او نظر نه غوښتل کېږي. نارینه بس دا غواړي چې ده څه ویل، له چون و چرا پرته دې میرمنې عمل په کوي. زما د خپلوانو په سلګونو کورنو کې مې یوه میرمن هم داسې نه ده لیدلې چې د مېړه له خوا دې نه وي وهل شوې. زما مور څو ځلې زما تر مخ زما خپل پلار وهلې ده. زما ټولي خوندې د مېړه له وهلو سره لېور او خواښیانو هم وهلې دي. په کومه ټولنه کې چې میرمنې په فزیکې ډول دومره کړولې کېږي، هغوی به یې مشورې ته څنګه غوږ کښېږدي او څومره به د هغه چا مشوره او نظر ورته ارزښت ولري چې دوی یې تر ځان ماتحت بولي او هره ورځ یې وهي ټکوي؟

موږ که د میرمنو وجود ته د ټولنې د یوې بشپړونکې کتلې په سترګه وکتل نو بیا هغه وخت د هغوی نظر او رایه راته ارزښت لري او حقونه به یې هم تسلیموو، خو بدبختي له دې ځایه را پېښه ده چې موږ تر اوسه د هغوی وجود د یوه کامل انسان په توګه نه دی منلی. موږ لا میرمنو ته د نارینه د خادم، مزدور، یوازي د کور سمبالونکې او د اولاد د ماشین په سترګه ګورو. همدا وجه ده چې مشوره ور سره نه کوو، ځکه خادم او مزدور د مشورې نه وي، هغوی ته امر کېږي چې دا کار داسې وکړه او هغه بیا ډول؛ حقونه یې نه ور کوو، ځکه فکر کوو چې یوازي تر کوره یې وجود محدود دی نو بهر یې هیڅ کار او حق نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته له دې امله يې هر حق تر پښو لاندې کوو؛ تر ډېره حده د ماشوم زېږونې کار ځنې اخلو، تر څو چې يې فزيکې وجود د نه ځواب راکړی نه وي؛ زموږ میرمنې په پرلپسې توګه اولادونه راوړي.

پښتانه مېړه ته خاوند وايي. زه خپله له دې نوم سره جوړ نه يم؛ ځکه خاوند د یو شي ملکيت فایده کوي، یاني خاوند د ماينې مالک دی، هغه يې د جایداد په شان ملکيت ده. که موږ دغه ډول غلطۍ اصلاح نه کړو، نو فکر مو نه ور سره رغېږي. د خاوند د نوم په له منځه وړلو کې که شعوري کار وشي، نو ډېرو کارونه ور سره اصلاح کېږي.کله چې موږ میرمنې ملکيت نه بولو، نو بيا د مینځې چلند هم نه ور سره کوو.

موږ بايد دې ته کار وکړو چې د ماينې او مېړه اړيکه یوه سپېڅلې اړيکـه ده چــې د دوو کســانو، دوو کورنيــو او دوو قومونــو دوســتي رامنځته کوي. دوه نااشنا کسان تر خپل منځ د يوې اوږدې ملګرۍ تړون سره کوي؛ له همدې تړون څخه ځینې د نورو په وړاندې مسوول کېږي، يو پر بل حقوق سره لري او د ژوند د سفر کښتۍ يې يوه کېږي چې د ژوند تر ساحله به زياتره وخت يو ځای سفر پکې کوي. که موږ د نکاح اړيکه دغه ډول وپېژندله؛ نو له دې تياره دور څخه را وزو او که مو د اوسنۍ اړيکې په شان د ساتلو تازه هوډ کاوه؛ نو فکر نه کوم چې په دې ماډرن دور کې دي موږ سل کاله نور هم د غفلت له دې اوږده خوبه راويښ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غیبت او بوهتان

زموږ زیاتره میرمنې په دې دواړو ناروغیو اخته دي. ډېری میرمنې د بل غیبت کوي او د ځان ستاینه. زموږ په ټولنه کې اوس بیخي دا فکر پیدا شوی دی چې د بل په غیبت کې د ځان ستاینه غواړي. بل کمه کړه چې دوی اتومات ځانونه ور سره لوړوي.

دا یو ډېر منفي فکر دی، نتایج یې هم هر وخت بورنونکي وي. له خدایه بغاوت دی، له قانونه تښېته ده او د انساني کرامت ژوبلول دي. ما بیخي ډېرې میرمنې لیدلې دي چې یو د بل غیبت کوي؛ حتا بوهتان پسې وایي. دا کار زیاتره د هغو میرمنو په اړه کوي چې یو ډول د خپلوۍ تار ور سره لري. ځکه میرمنې فکر کوي چې په کور کې باید تر ما بریالۍ میرمن نه وي. که لږ هم له یوې میرمنې دا خطر احساس کړي؛ نو په غیبت او بوهتان یې د حیثیت کمولو کوښښ کوي.

تر ټولو لوی عامل د میرمنو بېعلمي ده. که علم وای، نو دې منفي فکر دومره وده هم نه کوله. د بل انسان کمولو د بې هنره کسانو کار دی. څوک چې د بل بریالیتوب نغواړي خپله هم نه بریالۍ کېږي او یا یې نور بریالی نه بولي. زموږ بریا په جمعي هڅو کې ده. که میرمنې مو په دې خبره د علم له مخې پوه شي؛ نو بیا دا ناروا کار نه کوي. زموږ د بېعلمۍ له امله موږ د نورو په حیثیت کمولو کې د خپل حیثیت غښتلي کول غواړو په داسې حال کې چې دا کار د هنرونو په زیاتولو او ظرفیتونو په لوړولو ډېر ښه کېږي. کله چې یو انسان کمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



زدکړي، نو اول خو یې ځوک د حیثیت کمولو هڅه نه کوي بیا که یې وکړي هم د هغه هنر د هغه مقام ساتي. د دې بدبختۍ یو عامل بېعلمې ده او په حللارو کې یې هم د علم وده مهم رول لوبولای شي.

یو بل عامل ګډژوند او فقر هم بللای شو. زموږ زیاتره خلګ یوځایي ژوند کوي. کله چې له دې سره فقر هم ملګری شي؛ نو بې عدالتیو ته لار پرانیزي او هغه بیا په خپل وار د غیبت او بوهتان سبب کېږي. د کور یو غړی که خپل ماشوم یا میرمنې ته یو شی راوړي، نو بل یې تر هغه دوه چنده نازوي. دا کار د هغوی ترمنځ د بدګوماني سبب کېږي او میرمنې یو د بل غیبت او بوهتان ته هڅوي. که زموږ میرمنې علم ولري او په کارونو کې ونډه واخلي نو نه د ګډ ژوند اړتیا پیدا کېږي او نه به مو په ټولنه کې فقر دومره زیات وخت ژوند وکړي.

درېیم عامل د ښځو بېکاري هم ده. زموږ زړې دي که ځوانې میرمنې د ورځې ډېر وخت په بېکاري او مجلسونو تېروي. نه مطالعه کولای شي او نه بهر کار لري؛ کله چې وزګار وخت پیدا کړي نو د غیبت و بوهتان فرصت په لاس ور شي. د میرمنو کار ته نه وتل د ډېرو بدمرغیو ترڅنګ د غیبت او بوهتان لپاره هم بستر اوار کړی او غیبت و بوهتان بیا د ټولنې د ستونزو په ډېرولو کې ښه غوښن رول لوبولی دی. عمر فاروق رض وایي چې خالي ذهن د شیطان کور دی. زموږ له میرمنو سره بل هیڅ فکر نه وي، یوازې په کور کې د مقابلې میرمنې عیبتونه پیدا کوي او که یې ونه مومې نو بوهتان پسې تړي. دا خالي ذهنونه دي. شیطان پکې ځاله جوړه وي. شیطان زموږ هغه حس دی چې د بل مقابلې ته مو هڅوي. د بل په کمې کې یې موږ ته د حیثیت لوړولو فکر را کړی. د خپل کور په غړو کې د کمې او عیب پیدا کولو کوښښ په را کوي. که موږ کاري فرصتونه رامنځته کړو نو میرمنې به مو د غیبت او بوهتان لپاره وخت ونه مومې. غیبت خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت، ارام او خالي ذهن غواړي. کله چې میرمن وخت ونه لري، فکر یې د بل د عیب پر ځای په کار کې وي او ستومانه وي د غیبت و بوهتان لپاره یې ذهني ستړیا اجازه ورنه کړي، نو بیا د دې کار مخنیوی هم تر یوه حده ورسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مراجع


۱)قران کریم

۲)بخاري، محمد بن اسماعیل، صحیح البخاري، دار طوق النجاة، کال: ۱۴۲۲هق.

۳)قشیري، ابو الحسن مسلم بن الحجاج، صحیح مسلم، دار احیاء التراث العربي، بیروت.

۴)سجستاني، ابوداؤد سلیمان بن الاشعث، سنن ابي داؤد، المکتبة العصریة، صیدا-بیروت.

۵) ابو عیسی، محمد بن عیس بن سورة، الجامع الکبیر سنن الترمذي، دار الغرب الاسلامې-بیروت.

۶) ابو عبد الله، احمد بن محمد بن حنبل، مسند امام احمد بن حنبل، موسسة الرسالة، ۱۴۲۱- ۲۰۰۱.

۷) ابن ماجه، ابو عبد الله محمد بن یزید القزویني، سنن ابن ماجه، دار احیاء الکتب العربیة.

۸) الباني، محمد ناصر الدین، ارواء الغلیل في تخریج احادیث منار السبیل، المکتب الاسلامې-بیروت، ۱۴۰۵هـ ۱۹۸۵م.

۹)شوکاني، محمد بن علي بن محمد، نیل الاوطار، دار الحدیث- مصر، ۱۴۱۳هـ ۱۹۹۳م.

۱۰) عسقلاني، احمد بن علي بن حجر، فتح الباري شرح صحیح البخاري، دار المعرفة- بیروت، ۱۳۷۹هـ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱)ابن حزم، ابو محمد احمد بن علي بن سعيد، المحلى بالاثار، دار الفكر-بيروت.

۱۲) ابن تيميه، تقي الدين ابو العباس احمد بن عبد الحليم، الفتاوى الكبرى، دار الكتب العلمية، ۱۴۰۸هـ ۱۹۸۷م.

۱۳)كاساني، علاء الدين ابو بكر بن مسعود بن احمد، البدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، دار الكتب العلمية، ۱۴۰۶هـ ۱۹۸۶م.

۱۴)ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد، فتح القدير.

۱۵) ابو العباس، احمد بن محمد بن علي، المصباح المنير، المكتبة العلمية-بيروت.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**